# البركات الالهية بشرح العقيدة الواسطية

## (د عقيده واسطيه پښتو اسانه شرح )

شارح :عامر حسن ( غفر له )

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# متن :

**بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ**

**الحمد لله الَّذي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَكَفَى بِاللهِ شَهِيدًا.**

**وأَشْهَدُ أَن لاَّ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ إِقْرَارًا بِهِ وَتَوْحِيدًا.**

**وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ وَسَلَّمَ تسليمًا مَزِيدًا.**

# ترجمه :

هغه الله لره حمدونه دی چی خپل رسول یی په هدایت او دین حق سره رالیږلی دی

دی دپاره چی دا دین په ټولو دینونو باندی غالب کړی اوکافی دی الله تعالی دګواهی په اعتبار سره زه ګواهی ورکوم چی د الله نه علاوه بل معبود لایق د عبادت نشته هغه یو دی هیڅ شریک نلری زه ددی اقرارکوم او د الله توحید بیانوم اوګواهی ورکوم چی محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی الله تعالی دی په هغه او د هغه په ال باندی درود (۱) او سلام ولیږی

# شرح:

(۱)په نبی علیه السلام باندی د الله ددرود مقصد دادی چی الله تعالی د فریشتو په مجلس کی د نبی علیه السلام تعریف کوی لکه دا خبره ابو العالیه رحمه الله کړی ده

**عن أبي العالية قال: صلاة الله على رسوله ثناؤه عليه عند الملائكة.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**متن:** أمَّا بَعْدُ، فَهَذَا اعْتِقَادُ الْفِرْقَةِ النَّاجِيَةِ الْمَنْصُورَةِ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ: أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ:
وَهُوَ الإِيمَانُ بِاللهِ وَمَلاَئِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ، والإِيمَانِ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ.

## ترجمه :

پس همدا د فرقه ناجیه او تر قیامته پوری د غلبه کونکی جماعت عقیده ده

چی هغه اهل سنت والجماعت دی هغه دا چی په الله د هغه په پریشتو د هغه په کتابونو د هغه په رسولانو او د مرګ نه پس دوباره راوژندی کیدلو په خیر او شر تقدیر باندی ایمان لرل دی

## شرح :

**١**-دلته نه مصنف رحمه الله د اهل سنت والجماعت عقیده بیانول شروع کړل او په عام او مجمل

ایمان یی ابتدا وکړه کوم چی په هر چا باندی لازم دی ځکه په هر انسان باندی لازم دی چی په اجمالی طور سره په الله د هغه په ټولو رسولانو باندی ایمان راوړی دغه رنګه په کتابونو د الله په فریشتو د هغه په ټولو رسولان د قیامت په ورځ او په کوم شی باندی چی الله او رسول امرکړی دی

او پدی ټولو مذکوره شیانو د ایمان راوړلو مقصد دادی چی ددی تصدیق وکړی شی چی الله یو ذات دی هیڅ شریک نه لری بیا په ایمان بالله کی ډیر امور داخل دی مثلا په هر شی کی د الله تعالی تابعداری د هر هغه څه نه ځان ساتل چی الله ترینه منع کړی ده وغیره وغیره بیا په رسولانو باندی ایمان ددی مقصد دادی چی په نبی علیه السلام باندی به ایمان تفصیلی راوړی کیږی یعنی دا به منی چی هغه د الله له طرفه مبعوث دی او ددی نه پس د هغه هره خبره کی به تابعداری کوی البته په نورو پیغمبرانو باندی د ایمان راوړلو نه مراد اجمالی ایمان دی یعنی صرف دومره منل چی هغوی د الله له طرفه مبعوث وو لیکن د هغوی په شریعت باندی عمل کول ضروری ندی ځکه هغه منسوخ شوی دی او د ایمان بالرسل څخه دا هم ده چی د هغوی باره کی د غلو نه ځان ساتل لکه نصاراو چی عیسی علیه السلام ته د الوهیت درجه ورکړی یا یی د الله ځوی ګنړلی نو دا نده پکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه شان د الله په ټول کتابونو ایمان لرل ددی مقصد د قران نه په علاوه نوروکتابونو اجمالی ایمان او په قران تفصیلی ایمان لرل دی چی هره خبره یی ومنل شی او تلاوت یی وشی دغه رنګه د الله په پریشتو باندی د ایمان مقصد دا چی هغوی د الله بنده ګان ګنړل دا عقیده نلرل چی هغوی د الله لورګانی دی بلکی دا چی فریشتی الله د نور نه پیدا کړی د الله د حکم نافرمانی نه کوی

د قیامت په ورځ باندی ایمان : دلته دوه شیان مراد دی یو دا چی په مرګ باندی یقین لرل چی مرګ به ضرور راځی ځکه هیڅ یو نفس د مرګ څخه بچ کیدلی نشی هر څومره کوشش چی وکړی

بل دا چی د قیامت په ورځ یقین لرل او د مرګ نه پس په دوباره راوژندی کیدلو عقیده لرل او دا مهمه مساله ده ځکه ډیرو خلکو ددی څخه انکارکړی چی د مرګ نه پس دوباره راوژندی کیدل نشته لکه کافرو به ویل چی دا پیغمبر دا څه خبری کوی چی تاسو به د مرګ نه پس دوباره راوژندی کیږی نو الله تعالی د هغوی په دی باطل عقیدی باندی رد وکه او ددی لپاره یی ډیر مثالونه بیان کړل چی دوباره راژوندی کیدل حق دی لکه څنګه چی الله تعالی وچه ځمکه رازرغونه کړی او په هغی باندی واښه راوخیژی دغه رنګه لکه څنګه چی الله تعالی اصحاب کهف راژوندی کړی وو یا لکه د ابراهیم علیه السلام واقعه چی هغه کله الله تعالی نه دا درخواست وکه چی ماته وښایه ته مړی څرنګه راوژوندی کوی نو الله وفرمایل یو څو مرغی راواخله او ځان سره یی اموخته کړه بیا یی پوټی پوټی کړه او په یو غر یی کیږده بیا یی ځان ته راوبله نو راژوندی به شی داسی نور بیشماره مثالونه

۲ـ اهل سنت والجماعت ته فرقه ناجیه ځکه وایی چی دی باره کی ډیر احادیث وارد دی چی دا به اور څخه نجات حاصلوی

او طایفه منصوره ورته هم وایی مطلب هغه جماعت چی همیشه به ورسره الله مدد کوی ددی نوم وجه داده چی د نبی ﷺ بعضی احادیثو کی راغلی چی دا جماعت به تر قیامت په حق ولاړ وی او الله به ورته په هره زمانه کی بری ورکوی مخالفین به ورته هیڅ ضرر نشی ورکولی تر دی چی مهدی به راشی او دوی به هغه په جماعت کی شامل شی وس په لاندی ډول هغه احادیث بیانیږی چی د اهل سنت والجماعت دی نومونو ته پکښ اشاره یا تصریح ده

نبی کریم ﷺ فرمایی :یهود په یو اویا ډلو تقسیم شوی وو چی د یوی ډلی نه علاوه به ټول په جهنم کی وی او نصاری په دوه اویا ډلو تقسیم شوی وو چی د یوی فرقه نه علاوه به ټول په جهنم کی وی او دا امت به په دری اویا ډلو تقسیم شی چی د یوی ډلی نه علاوه به ټول جهنم ته ځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بل روایت کی راځی صحابه کرامو پوښتنه وکړه ای د الله رسول ﷺ فرقه ناجیه څوک دی

هغه وفرمایل هغه خلک چی پدی دین باندی روان دی په کوم چی زه او زما صحابه نن ورځ ولاړ دی

یو بل روایت کی دی دا جماعت دی او دالله مدد د جماعت سره وی

دی وجی نه دی جماعت ته اهل سنت والجماعت وایی

نبي کریم صلي الله علیه وسلم په یو بل حدیث کی فرمایی زما د امت یو جماعت به همیشه په حق باندی ولاړ وی چا چی ددوی مدد ونکړ هیڅ ضرر به ورنکړی نه به هغه څوک دوی ته ضرر ورکړی چی ددوی مخالفت کوی تر دی چی قیامت به قایم شی

بل روایت کی دی چی زما د امت یو جماعت به تر قیامت پوری منصور یعنی په دشمن غالبه وی

اهل سنت ورته پدی وجه وایی چی د هغوی لپاره د رسول الله ﷺ نه علاوه بل څوک متبوع نشته چی د هغه لپاره تعصب وکړی د هر قسم تقلید نه دوی پاک دی او نبی علیه السلام په تابعداری کی هیڅ امام نه شریکوی چی د هغه قول د نبی علیه السلام په مخالفت کی قبول کړی بلکی د ټولو ایمه کرامو احترام کوی او کله چی د هغوی قول د نبی علیه السلام د قول مخالف راشی نو نه یی قبلوی بلکی په حدیث باندی عمل کوی او همدا د صحابه کرامو طریقه وه او همدوی د نبی علیه السلام په اقوالو احوالو او افعالو باندی د هر چا نه ښه پوهه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اولنی باب

## په الله تعالی باندی د ایمان راوړلو بیان

### پدی باب کی پینځه فصله دی

۱ـ د الله تعالی د نومونو او صفاتو باندی د ایمان راوړو باره کی بنیادی قواعد

۲ـ په هغه صفاتو ایمان چی الله تعالی د خپل ځان لپاره په قران کی بیان کړی دی

۳ـ په هغه ټولو صفاتو ایمان چی نبی علیه السلام د الله تعالی لپاره په سنت کی بیان کړی دی

۴ـ د نورو فرقو برعکس د اهل سنت والجماعت وسطیت ( درمیانه والی )

۵ـ په ایمان بالله کی دا هم داخلیږی چی الله تعالی د اسمانونو دپاسه په عرش باندی مستوی دی

۶ـ په ایمان بالله کی دا هم داخل ده چی الله خپل مخلوق ته انتهایی نژدی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اولنی فصل

## د الله په نومونو او صفاتو د ایمان باره کی مهم او بنیادی قواعد

**متن:** وَمِنَ الإِيمَانِ بِاللهِ: الإِيمَانُ بِمَا وَصَفَ بِهِ نَفْسَهُ فِي كِتَابِهِ الْعَزِيزِ، وَبِمَا وَصَفَهُ بِهِ رَسُولُهُ مُحَمَّدٌ ﷺ؛ مِنْ غَيْرِ تَحْرِيفٍ وَلاَ تَعْطِيلٍ، وَمِنْ غَيْرِ تَكْيِيفٍ وَلاَ تَمْثِيلٍ.

**ترجمه:**

په الله تعالی باندی د ایمان څخه دا هم ده چی د هغه ټولو صفاتو تصدیق وکړی شی چی الله تعالی د خپل ځان لپاره په قران کی بیان کړی دی یا نبی علیه السلام د هغه لپاره په سنت کی بیان کړی دی بغیر د تحریف تعطیل تکییف او تمثیل نه

**شرح:** د الله په صفاتو د ایمان مطلب دادی چی هغه ټول صفات ومنلی شی چی الله تعالی په قران کی بیان کړی دی یا نبی علیه السلام په احادیثوکی بیان کړی دی لکه د الله اوریدل د هغه لیدل د هغه محبت کول د هغه پورته ختل راکوځیدل د هغه لاس شته مخ شته کما یلیق به سبحانه ددی ټولو منل او تحریف تعطیل تکییف او تمثیل پکښ نه کول

د تحریف نه مراد : مذموم تاویل کول دی چی هغه د راجح معنی څخه یوی مرجوح معنی ته د لفظ اړول دی لکه بعضی خلکو چی د استوی معنی په استولی سره کړی چی الله په عرش مستوی ندی بلکی په هغی یی غلبه کړی ده نو دا قطعا جایز ندی ځکه پدی سره الله په صفاتوکی بی دلیله تاویل دی او دا د الله په صفاتوکی الحاد دی چی منع ترینه شوی ده الله تعالی فرمایی او د الله لپاره ښایسته نومونه دی نو تاسو دالله څخه پدی سره سوال وکړی او هغه خلک پریږدی چی د الله په نومونوکی الحادکوی

دغه شان د تحریف څخه دا هم ده چی بعضی ماتردیان( پنځجپریان  وغیرهم د ید معنی په قدرت سره کوی دا بی ځای تاویل دی ځکه هیڅ دلیل پری نشته بلکی ددوی امام  ابو حنیفه رحمه الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله ددی معنی په لاس سره کړی ده او په دوی یی ردکړی دی هغه فرمایی داسی ویل چی د الله د ید نه مراد هغه قدرت دی ندی جایز ځکه پدی سره د الله د صفت تعطیل راځی چی جایز ندی

د تعطیل نه مراد : د الله د صفاتو نفی کول دی دی وجی نه به سلفو هغه چاته معطله ویل چی د الله د صفاتو څخه به یی انکارکول لکه دوی به ویل چی مونږ د الله لاس نه منو ځکه که دا مو ومنه نو بیا د الله تعالی تشبیه د مخلوق سره راځی او دا جایز نده ددی جواب دادی چی دی سره هیڅ تشبیه لازم نه راځی ځکه مونږ چی الله لره لاس وغیره ثابتوو نو دا نه وایوو چی نعوذ بالله د هغه لاس زمونږ د لاسونو پشان دی بلکی وایو چی د هغه دشان مطابق د هغه ټول صفات دی

## د تحریف او تعطیل مابین کی فرق :

دادی چی تعطیل د هغه معنی نه مکمل انکار دی چی په کتاب او سنت سره ثابته ده او تحریف د قرانی نصوصو د خپلو معنو څخه نورو معنو ته اړول دی

او تکییف نه مراد د الله د صفاتو کیفیت څنګه والی حالت دی باره کی سوال کول دی دا هم ناجایز دی ځکه د الله تعالی هیڅ مثل نشته الله فرمایی د هغه لپاره هیڅ شبیه نشته

دی وجی نه امام مالک فرمایی چی استوا معلومه ده پدی ایمان واجب دی او کیفیت یی مجهول دی چی څنګه الله تعالی په عرش باندی مستوی دی او دی باره کی سوال کول بدعت دی

صرف دومره ده چی اهل سنت مطلق طور سره د کیفیت څخه انکار نکوی ځکه د هر شی لپاره یو کیفیت وی هغوی خو صرف ددی نفی کوی چی مونږ ته د الله د ذات او صفاتو کیفیت ندی معلوم

**د تمثیل نه مراد دادی چی د الله صفات د مخلوق د صفاتو سره مشابه ګڼړل چی** مثلا د الله تعالی مخ د مخلوق پشان دی نعوذ بالله

وغیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## متن:

**بَلْ يُؤْمِنُونَ بِأَنَّ اللهَ {لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ} .**

**فَلاَ يَنْفُونَ عَنْهُ مَا وَصَفَ بِهِ نَفْسَهُ، وَلاَ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ، وَلاَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَاءِ اللهِ وآيَاتِهِ، وَلاَ يُكَيِّفُونَ وَلاَ يُمَثِّلُونَ صِفَاتِهِ بِصِفَاتِ خَلْقِهِ.**

**لأَنَّهُ سُبْحَانَهُ: لاَ سَمِيَّ لَهُ، وَلاَ كُفْءَ لَهُ، وَلاَ نِدَّ لهُ.**

**ولاَ يُقَاسُ بِخَلْقِهِ سُبْحَانَهَ وَتَعَالَى.**

**فَإِنَّهُ أَعْلَمُ بِنَفْسِهِ وَبِغَيْرِهِ، وَأَصْدَقُ قِيلاً، وَأَحْسَنُ حَدِيثًا مِنْ خَلْقِهِ. ثُمَّ رُسُلُه صَادِقُونَ مُصَدَّقُون؛ بِخِلاَفِ الَّذِينَ يَقُولُونَ عَلَيْهِ مَا لاَ يَعْلَمُون وَلِهَذَا قَالَ: {سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَسَلامٌ عَلَى الْمُرْسَلِين – وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ} . فَسَبَّحَ نَفْسَهُ عَمَّا وَصَفَهُ بِهِ الْمُخَالِفُونَ لِلرُّسُلِ، وَسَلَّمَ عَلَى الْمُرْسَلِينَ؛ لِسَلاَمَةِ مَا قَالُوهُ مِنَ النَّقْصِ وَالْعَيْبِ.**

**وَهُوَ سُبْحَانَهُ قَدْ جَمَعَ فِيما وَصَفَ وَسَمَّى بِهِ نَفْسَهُ بينَ النَّفْيِ وَالإِثْبَاتِ.**

**فَلاَ عُدُولَ لأَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ عَمَّا جَاءَ بِهِ الْمُرْسَلُونَ؛ فَإِنَّهُ الصِّرَاطُ الْمُسْتَقِيمُ، صِرَاطُ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ والصَّالِحِينَ.**

## ترجمه :.

بلکی خلک به ددی تصدیق کوی چی د الله په مثل هیڅ شی نشته او هغه اوریدونکی لیدونکی ذات دی نو هغه صفات به نه نفی کوی چی الله د ځان لپاره ثابت کړی دی

نه به کلمات د خپلو ځاینو څخه بدلوی نه به د الله په نومونو او ایاتونو کی الحاد کوی نه به د الله د صفاتو تشبیه د مخلوق د صفاتو سره ورکوی ځکه د الله لپاره هیڅ هم نوم نشته نه یی مثیل شته نه شریک او نه به د هغه تشبیه مخلوق سره ورکولی شی ځکه الله تعالی پخپل ځان او مخلوق باندی ښه عالم دی خبره یی ریښتیا ده او د مخلوق نه یی خبری ښایسته او ښی دی

بیا د الله رسولان ټول صادقان دی تصدیق یی کړی شوی دی د هغه خلکو پشان ندی چی د ځانه بی علمه خبری کوی دی وجی الله تعالی فرمایلی دی:(( **پاک دی د عزت والا رب د هغه خبرو نه چی دوی یی کوی او سلام دی په رسولانو باندی او ټول حمدونه هغه رب لره دی چی د مخلوقاتو پالونکی دی))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی ایت کی الله تعالی خپل ځان د هغه خبرو نه پاک کړی دی چی د رسولانو مخالف خلکو د ځانه جوړی کړی دی او په رسولانو باندی یی سلام کړی ځکه هغوی د الله باره کی د هر نقص او عیب نه پاکی خبری کړی دی او الله تعالی د خپلو نومونو او صفتونو بیان په نفی او اثبات دواړو سره کړی دی نوکوم شی چی پیغمبرانو راوړی دی د اهل سنت والجماعت لپاره د هغی نه اعراض کول ممکن ندی ځکه همدا سمه لاره ده د هغه کسانو لاره ده چی الله پری نعمت کړی دی چی هغوی پیغمبران صدیقین شهدا او صالحین دی

## دویم فصل

**په هغه صفاتو ایمان لرل چی الله تعالی د خپل ځان لپاره په قران کی بیان کړی دی**

**متن :** **وَقَدْ دَخَلَ فِي هِذِهِ الْجُمْلَةِ مَا وَصَفَ اللهُ بِهِ نَفْسَهُ فِي سُورَةِ الإِخْلاَصِ الَّتِي تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ، حَيثُ يَقُولُ:**

**{قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ – اللَّهُ الصَّمَد – لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَد – وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ}**

## ترجمه :.

پدی کی هغه صفات داخل دی چی الله تعالی د خپل ځان لپاره په سورت اخلاص کی بیان کړی دی چی دا سورت د قران ددریمی حصه برابر دی

الله فرمایلی دی:

**((وایه بیشکه الله تعالی یو ذات دی الله بی پرواه ذات دی نه یی بچی شته او نه د چا نه پیدا دی نه د هغه څوک مثیل او شبیه شته))**

## شرح:

**ابن عباس رضی الله عنهما فرمایی**(( الذي يصمد إليه الخلائق في حوائجهم ومسائلهم))،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**: د صمد معنی ده هغه ذات چی هغه ته ټول مخلوقات په خپلو حاجتونو او مسایلوکی محتاجه دی**

**او د ابی بن کعب رضی الله عنه نه روایت دی چی مشرکانو نبی علیه السلام ته وویل د خپل رب نسب دی مونږ ته بیان کړه نو الله دا سورت نازل کړ وعن أبي بن كعب ﷺ أن المشركين قالوا للنبي – ﷺ – انسب لنا ربَّك فأنزل الله تعالى: {قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ} رواه أحمد وغيره.**

**متن :** **وَمَا وَصَفَ بِهِ نَفْسَهُ فِي أَعْظَمِ آيَةٍ فِي كِتابِهِ؛ حَيْثُ يَقُولُ: {اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلاَّ بِمَا شَاء وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَلاَ يَؤُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ}**

## ترجمه :

او هغه صفتونه چی الله تعالی د ځان لپاره د په قران کی د ټولو نه عظیم ایت کی بیان کړی

الله فرمایلی دی:
الله هغه ذات دی چی هیڅ معبود لایق د عبادت نشته مګر هغه دی چی همیشه ژوند او قیوم ذات دی په هغه باندی نه پرکاری راځی نه خوب او د هغه لپاره هغه څه دی چی اسمانونو او ځمکوکی دی څوک دی چی د هغه د اجازت نه بغیر به شفاعت وکړی هغه ته هغه څه معلوم دی چی دوی نه مخکی او شاته دی او دوی د هغه په علم باندی احاطه نشی کولی مګر په هغه علم چی الله یی وغواړی د هغه کرسی اسمانونو او ځمکو لره پراخه کړی دی او د اسمانونو اوځمکو حفاظت هغه لره نه ستړی کوی او یقینا هغه اوچت عظیم ذات دی

## شرح:

۱ـد قیوم معنی ده چی په هر شی باندی قایم ذات چی ټول موجوات ورته محتاجه دی او هغه ددوی نه مستغنی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲قال ابن عباس: الكرسي موضع القدمين، والعرش لا يقدِّرُ أحدٌ قدره.**

**ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: د کرسی نه مراد د الله د قدمونو د ايخودو ځای دی او د عرش اندازه هیڅوک نشی لګولی**

**البته دی باره کی د علماو اختلاف دی چی د کرسی نه مراد عرش دی که د قدمونو ځای**

**صحیح حدیث کی راځی نبی کریم ﷺ فرمایی :**

**(ما السماوات السبع والأرضون السبع بالنسبة إلى الكرسي إلا كحلقةٍ ألقيت في فلاة من الأرض، وان فضل العرش على الكرسي كفضل الفلاة على تلك الحلقة)**
**د کرسی په نسبت د اسمانونو او ځمکو مثال د یو بنګړی دی چی په شړه صحرا کی پروت وی او عرش په کرسی باندی دومره فضیلت لری لکه دا صحرا چی یی پدغه بنګړی باندی لری**

أخرجه ابن أبى شيبة في كتاب العرش (58) وابن جرير في التفسير (5/ 399) طبعة شاكر، والبيهقي في الأسماء والصفات رقم (862) عن أبى ذر رضي الله عنه، وصححه الألباني في السلسلة الصحيحة برقم (109).

## ۳. د ایت کرسی فضیلت او وجه تسمیه :

دی وجی نه چا چی دا ایت دشپی ولوسته نو تر سحره پوری به د الله له طرفه په هغه باندی یو حفاظت کونکی ملایک مقرر وی او شیطان به ورته نژدی نشی تر دی چی صباح کړی

ایت کرسی ورته ځکه وایی چی دکرسی ذکر دی پکښ.

## په ایت کرسی کی د الله تعالی د پینځه صفاتو بیان دی چی هغه په لاندی ډول دی

۱ـ په الوهیت کی الله تعالی منفرد دی یعنی صرف د الله عبادت پکار دی د بل چا نه

۲ـ د الله ځخه د پرکاری او خوب نفی کول ځکه د هغه قیومیت او حیات مکمل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳ـ ملکیت بادشاهي او په هغې کې د الله د انفرادیت خصوصیت چې بادشاهان خو ډیر شته لیکن د هغوی بادشاهي ابدی نه ده بلکلی د الله تعالی بادشاهی او ملکیت همیشه لپاره دی (لَهُ مَا فِي السماوات وَمَا فِي الأرض).**

۴ـ د الله د بادشاهی کمال او عظمت چې هیڅوک د هغه د اجازت نه بغیر شفاعت نشي کولی

۵ـ د هغه علم چې په هر شي باندی محیط دی یعنی کامل علم دی او په کمال علم کی ورسره څوک شریک نشته د مخلوقاتو علم ناقص دی (**يَعْلَمُ مَا بَيْنَ ايْدِيهِمْ**).

۶ـ د الله تعالی اراده شته دی

۷ـ الله تعالی دکمال خاوند دی ځکه چې کله یی مخلوقات دومره کمالی دی چې یوی کرسی ټول اسمانونه او ځمکی نیولی دی نو الله به څومره عظیم وی

۸ـ د الله تعالی علم قدرت د خپل ملکیت حفاظت کول د هغه رحمت ټول دکمال په درجه کی دی

علو په دری قسمه ده

علو الذات: یعنی الله تعالی د ذات په لحاظ سره د ټولو مخلوقاتو دپاسه په عرش باندی مستوی دی

۲ـ علو القدر : دالله تعالی قدر اوچت دی د هغه لپاره د صفات ټول کمالات دی

**۳. علو القهر : په بنده ګانو باندی قادر او قاهر ذات چې د بنده ګانو نه هیڅوک په هغه غلبه نشی کولی بلکی هغه په ټولو باندی قدرت لرونکی دی**

**<u>متن :</u>** وَقَوْلُهُ سُبْحَانَهُ: **{هُوَ الأَوَّلُ وَالآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ}** .

او دا قول د الله تعالی :او هغه اول او اخر ذات دی ظاهر او باطن دی او په هر شي باندی عالم دی

:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی ایت کریمه کی د الله د څلورو ښایسته نومونو بیان دی الاول الاخر الظاهر والباطن

ددی په تفسیرکی د علماو ډیر اقوال دی چی راجح قول په هغی کی دادی

1_ د اول نه مراد هغه ذات چی د هغه مخکی بل څوک نه وو ځکه که مخکی ترینه څوک وی نو الله به مخلوق وی

الاخر هغه ذات چی وروسته ترینه څه نشته یعنی هیڅ انتها نه لری

الظاهر هغه ذات چی د پاسه پری څه شی نشته نو ټول مخلوقات د هغه نه لاندی دی

الباطن هغه ذات چی د هغه او د مخلوق مابین کی څه شی حایل نشته بلکی د هغوی په ټولو افعالو باندی پوهه دی

او همدا تفسیر د نبی علیه السلام په حدیث کی وارد دی چی هغه به کله بستری ته د خوب په نیت راغلی نو دا دعا به یی لوسته

**" اللهم رب السموات، ورب الأرض، ورب العرش العظيم، ربنا ورب كل شيء، فالق الحب والنوى، ومنزل التوراة، والإنجيل، والفرقان، أعوذ بك من شر كل شيء أنت آخذ بناصيته، اللهم أنت الأول فليس قبلك شيء، وأنت الآخر فليس بعدك شيء، وأنت الظاهر فليس فوقك شيء، وأنت الباطن فليس دونك شيء، اقض عنا الدين، وأغننا من الفقر"(2) أخرجه مسلم في الذكر والدعاء، (باب: ما يقول عند النوم وأخذ المضجع) (17-39-نووي) ، ورواه أيضًا أبو داود والترمذي بألفاظ متقاربة.**

**ای د اسمانونو او ځمکو رب ای د عرش ربه زمونږ او د هر شی ربه د ددانی او زړی چونکیه د تورات انجیل فرقان نازلونکی ذاته زه د هر هغه شی د شی نه ستا پناه غواړم چی ته د هغه تندی لره رانیونکی یی ای الله ته اول یی ستا نه مخکی څه شی نه وو او ته اخیر یی ستا نه وروسته څه نشته او ته ظاهر یی ستا د پاسه څه شی نشته او ته باطن یی ستا په درمیان کی څه شی نشته زمونږ د طرفه قرض اداکړی او د فقر څخه مو وساتی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډیر جامع تفسیر دی پدی کی د الله تعالی په مخلوق باندی د احاطی بیان دی چی هغه په هر ډول په مخلوق احاطه کړی ده نو په الاول والاخرکی د الله د زمانی احاطی ذکر دی چی الله د زمانی په لحاظ سره په مخلوق باندی محیط دی

او په الظاهر والباطن کی د الله د مکانی احاطی ذکر دی چی الله د ځای په اعتبار سره په ټول مخلوق احاطه کړی ده

بیا الاول دی کی د الله تعالی قدیم والی ذکر دی چی ډیر مخکی نه الله وجود لری لم یزل ذات دی
الاخر کی د الله تعالی همیشوالی ته اشاره ده چی الله به همیشه لپاره وی
او الظاهر کی د الله علو او عظمت ته اشاره ده چی الله په هر شی دپاسه او اوچت دی
او په الباطن کی د الله قربت او معیت ته اشاره ده چی الله بنده گانو ته نژدی دی د هغو سوال اوری او حاجت ورله پوره کوی
بیا دا صفات ټول د یو موصوف لپاره وو چی هغه الله تعالی دی لیکن الله تعالی دا په واو د جمع سره ذکر کړل پدی کی مزید تاکید ته اشاره ده ځکه دلته دا اشکال پیدا کیده چی ددی صفاتو مابین کی جدایی ده ځکه اول د اخر نه ډیر لری وی نو الله تعالی ددی د ختمولو لپاره واو سره ذکر کړل

( خليل الهراس)

**متن:** وَقَوْلُهُ سُبْحَانَهُ: {وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لا يَمُوتُ} .

**ترجمه** او د الله تعالی دا قول او په هغه ژوندی ذات توکل وکړه چی مرګ پری نه راځی

**متن:**

وَقَوْلُهُ: {وَهُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ} [التحريم: 2]

او دا قول هغه علیم حکیم ذات دی

# شرح:

دی کی د الله تعالی ددوه صفتونو بیان دی

۱ـ علم د الله تعالی چی ددی تذکره وشوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـ د الله تعالی ددی نوم بیان چی هغه حکیم دی : حکیم د حکمت نه ماخوذ دی چی ددی معنی ده هغه ذات چی حق خبره او حق کارکوی هیڅکله باطل خبره او باطل کار نکوی او هرکار په حکمت سره کوی

یو قول دا هم دی چی دا فعیل په معنی د مفعل دی یعنی د احکام نه ماخوذ دی چی الله تعالی ټول کارونه ښه مضبوطوی د هغه په تدبیرکی هیڅ خلل نشته نه یی په پیدایش کی څه کمی کوتاهی شته

## متن:

**۱.{وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِير – يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ السَّمَاء وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا}**

**۲.{وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلاَّ يَعْلَمُهَا وَلاَ حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الأَرْضِ وَلاَ رَطْبٍ وَلاَ يَابِسٍ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ}**

**۳وَقَوْلُهُ: {وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَى وَلا تَضَعُ إِلاَّ بِعِلْمِهِ}** ،
**۴وَقَوْلُهُ: {لِتَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا}** .
،

## ترجمه :

۱ـپه هغه څه پوهیږی چی ځمکه کی ننوځی او د هغی نه راوځی او په هغه څه چی د اسمان نه نازلیږی یا هغی ته خیژی

۲ـد هغه سره د غیب چابیانی دی چی د هغه نه علاوه څوک پری نه پوهیږی هغه پوهه دی په هغه ټول شیانو چی په وچه او سمندکی دی او دونی څخه هیڅ پاڼه نه راغورځیکی مګر الله پری عالم دی نه یوه داسی دانه د ځمکی په تیاروکی شته چی الله ته نه وی معلومه او نه لوند وچ شی مګر په کتاب مبین کی شته دی

۳ـهیڅ یوه زنانه بچی لره په ګیډه کی نه اوچتوی او نه یی زیږوی مګر د الله په علم

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ـدی لپاره چی تاسو پوهه شی چی الله په هر شی باندی قادر دی او د هغه علم په هر شی باندی احاطه کړی ده

## شرح:

**وعن ابن عمر ﷺ أنَّ رسول الله – ﷺ – قال: (مفاتح الغيب خمس لا يعلمهنَّ إلاَّ الله: {إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} ) رواه البخاري.**

د ابن عمر رضی الله عنهما **څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی د غیب چابیانی پینځه دی چی د الله نه علاوه بل چاته معلومی ندی د الله سره د قیامت علم دی او الله باران کوی الله ته د هغه څه پته ده چی په رحمونو کی دی او هیڅ نفس ته پته نشته چی سبا به څه کوی او هیڅ نفس ته پته نشته چی په کومی ځمکی به ورته مرګ راځی بیشکه الله تعالی علیم او خبردار دی**

دی ایتونوکی د الله تعالی د علم ذکر دی چی علم د الله تعالی صفت دی او هغه د الله د ذات سره قایم دی معتزله پدی کی اختلاف کوی هغوی د الله تعالی د صفاتو څخه انکاری دی
بعضي وايي چی الله بذات خود عالم او قادر دی او بعضی وایی چی ددی مراد سلبی معانی دی یعنی د علیم معنی داده چی جاهل ندی او د قادر معنی داده چی عاجز ندی

**شیخ عبدالعزیز المکی د بشر المریسی سره مناظره کړی**
**((إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَمْ يَمْدَحْ فِي كِتَابِهِ [مَلَكًا مقرَّبًا وَلَا نَبِيًّا مُرْسَلًا] (3) وَلَا مُؤْمِنًا تَقِيًّا بِنَفْيِ الْجَهْلِ عَنْهُ؛ لِيَدُلَّ عَلَى إِثْبَاتِ الْعِلْمِ لَهُ، وَإِنَّمَا مَدَحَهُمْ بِإِثْبَاتِ الْعِلْمِ لَهُمْ، فَنَفَى بِذَلِكَ الْجَهْلَ عَنْهُمْ ... فمَن أَثْبَتَ الْعِلْمَ نَفَى الْجَهْلَ، ومَن نَفَى الْجَهْلَ لَمْ يُثْبِتِ الْعِلْمَ))**

**چی په هغی کی یی بشر ته ډیره ښه خبره کړی ده**
**چی الله تعالی په خپل کتاب کی د هیڅ فریشتی یا نبی یا مومن مسلمان تعریف د هغه نه په جهل نفی کولو سره ندی کړی چی د هغه لپاره علم ثابت کړی بلکی د هغوی صفت یی د هغوی لپاره د علم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په اثبات سره کړی دی او د هغوی نه یی د جهل نفی کړی ده نو چا چی د علم اثبات وکړ دی نه د جهل نفی خپله لازمیږی لیکن چا چی د جهل نفی وکړه دی سره د علم اثبات نه راځی**

((الحيدة)) (ص30) طبعة الجامعة الإسلامية، و (ص46) بتحقيق الفقيهي.

.

**متن: وَقَوْلُهُ:** {إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ} . الذاريات: (58) .

# ترجمه:

او د الله دا قول :بیشکه الله تعالی همغه ډیر رزق ورکونکی د مضبوط قوت خاوند دی

# شرح:

**۱ابن عباس رضی الله عنهما د متین معنی په شدید سره کړی ده**

**جمله اسمیه او د مبتدا او خبر معرفه راوړل سره د ضمیر فصل نه دی کی دی خبری ته اشاره ده چی الله تعالی خپلو بندګانو ته په رزق رسولو کی خصوصیت لری**
**رزق په دوه قسمه دی**
**۱ـ هغه رزق چی فایده یی په دنیا او اخرت کی انسان ته رسیږی او دا د زړونو رزق دی چی ایمان علم او حلال رزق دی**
**۲. د ټولو مخلوقاتو رزق لکه الله تعالی نیک فاجر او خناورو ته رزق ورکوی**

**متن:** وَقَوْلُهُ: }ِ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ} . الشورى: (11) .
وَقَوْلُهُ: {إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا}

# ترجمه:

او دا قول: د هغه مثیل نشته او هغه اوریدونکی لیدونکی ذات دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا قول بیشکه الله تعالی په ښو خبرو سره تاسو ته نصیحت کوی او بیشکه الله اوریدونکی او لیدونکی ذات دی

## شرح :

دی ایت کریمه کی الله تعالی د صفاتو اثبات او نفی داړه کړی ده د ځان څخه یی د مثیل نفی کړی دی چی زما پشان بل هیڅوک نشته بیا د ځان لپاره د اوریدو او لیدو صفت ثابت کړی دی ددی نه معلومیږی چی اهل سنت پخپله عقیده کی په حق دی ځکه ددوی عقیده کی اثبات او نفی دواړه ده او په معطله باندی رد دی چی ټول صفات یی نفی کړی دی دغه شان صرف په مشبهه باندی رد دی چی تول صفات ثابتوی او هیڅ صفت نه نفی کوی

البته ددی ایت د اعراب باره کی اختلاف دی راجح قول دادی چی داکاف صله ده چی د تاکید لپاره اضافه کړی شوی ده لکه د شاعر دا قول

لَيْسَ كَمِثْلِ الْفَتَى زُهَيْرٍ ... خَلْقٌ يُوَازِيهِ فِي الفَضَائِلِ

د زهیر پشان بل څوک نشته چی په فضایلوکی ورسره برابر وی

نو اصل عبارت داسی دی لیس مثل الفتی زهیر... کاف هیڅ معنی نلری سوا د تاکید نه

**متن:** {وَلَوْلا إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَاء اللَّهُ لا قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ} الكهف: (39)

{وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلُواْ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ} البقرة: (253)

{أُحِلَّتْ لَكُم بَهِيمَةُ الأَنْعَامِ إِلاَّ مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنتُمْ حُرُمٌ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ} المائدة: (1)

{فَمَن يُرِدِ اللَّهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلإِسْلاَمِ وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَاء} الأنعام: (125)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترجمه:** او دا قول د هغه: اوکله چی ته خپل باغ ته داخل شوی ولی دی نه ویله چی ما شاالله توفیق ورکول صرف د الله په لاس کی دي

او دا قول د الله تعالی : که الله تعالی غوښتلی نو هغه خلکو به اختلاف نه وی کړی چی ددوی نه پس راغلی وو ددی نه پس چی هغوی ته واضح دلایل راغلل لیکن هغوی اختلاف وکړ بعضو پکښې ایمان راوړه او بعضوکفر وکړکه الله اراده کړی وی نو دوی به هیڅ اختلاف نه وی کړی مګر هغه څه کوی چی اراده یی وکړی

او دا قول ستاسو لپاره چارپایان حلال کړی شوی دی مګرکوم چی پتاسو باندی لوستلی شی او د احرام په حالت کی ښکار مه کوی بیشکه الله تعالی هغه څه به قوت سره کوی چی اراده یی وکړی

او دا قول د الله تعالی په چا باندی چی الله د هدایت اراده وکړی نو اسلام لپاره د هغه سینه کولاو کړی او په چا چی دګمراهی اراده وکړی نو زړه ورله داسی تنګ کړی ګویا کی هغه په هوا کی روان دی

## **شرح:**

پدی ایاتونوکی د الله تعالی د یو بل صفت بیان دی چی هغه اراده ده او اراده په دوه قسمه ده

۱ـاراده کونیه : د الله تعالی عامی ارادی ته وایی چی الله څه وغواړی کوی یی که یو شی پیدا کول وغواړی کوی یی مثلا که کافر ته رزق ورکول وغواړی ورکوی یی که مسلمان ته تکلیف رسول وغواړی کوی یی وغیره او ددی ذکر د الله پدی قول کی شوی دی په چا باندی چی الله تعالی د هدایت اراده وکړی نو سینه ورله اسلام لپاره کولاوکړی

۲ـ اراده شرعیه : ددی نه مراد د الله محبت دی او ددی ذکر په دی قول د الله کی دی او الله تعالی غواړی چی ستاسو توبه قبوله کړی

(فَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ أن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ للإسلام) (الأنعام: الاية125).

(وَاللَّهُ يُرِيدُ أن يَتُوبَ عَلَيْكُمْ) (النساء: 27).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ددواړو مابين کی فرق؟

**دادی چی په اراده کونيه کی د مراد واقع کيدل لازمی دی يعنی کوم شی چی الله وغواړی هغه به ضرور واقع کيږی او کله به دا شی الله ته محبوب وی کله به غير محبوب وی**
**او په شرعيه کی د مقصد پوره کيدل ضروری ندی ليکن پدی کی مقصودی شی الله تعالی ته محبوب وی لکه الله تعالی چی د يو رسول د راليږلو اراده وکړی نو د رسول راليږل الله ته محبوب دی**

**متن:** وَقَوْلُهُ: {وَأَحْسِنُوَاْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ} ، {وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ} ، }ۚ فَمَا اسْتَقَامُواْ لَكُمْ فَاسْتَقِيمُواْ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ} ، {إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ} ، وَقَوْلُهُ: {قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ} ، وَقَوْلُهُ: {فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ} ، وَقَوْلُهُ: {إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنيَانٌ مَّرْصُوصٌ} .

## ترجمه:

او دا قول د الله : او احسان وکړی بيشکه الله د احسان کونکو سره مينه کوی

او دا قول د الله او عدل وکړی بيشکه الله تعالی د عدل کونکو سره مينه کوی

که دوی ستاسو سره سم چليږی نو تاسو ورسره هم سم چليږی بيشکه الله د متقيانو سره محبت کوی

او دا قول د هغه : بيشکه الله تعالی د ډير توبه ايستونکو سره محبت کوی او پاکو خلکو لره خوښوی

او دا قول نو زر ده چی الله به داسی يو قوم پيدا کړی چی الله به ورسره مينه کوی او هغوی به د الله سره مينه لری

او دا قول بيشکه الله تعالی د هغه کسانو سره مينه کوی چی د هغه په لاره کی جهادکوی داسی صف يی جوړ کړی وی ګويا کی قليی شوی ديوال دی

ووايه که چيرته تاسو د الله سره مينه لری نو زما تابعداری وکړی الله به تاسو سره مينه وکړی او ستاسو ګناهونه به معاف کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شرح:

پدی ایتونوکی د الله دی یو بل صفت اثبات دی چی هغه محبت دی نو اهل سنت والجماعت د الله لپاره د محبت صفت ثابتوی چی الله تعالی د خپلو بندګانو سره مینه کوی او هغو ی د الله سره مینه کوی

لیکن کوم خلک چی عموما د الله د صفاتو څخه انکاری دی هغوی ددی صفت هم نفی کوی او بیا هغوی په دوه ډلوکی تقسیم دی

۱ـ چی نه الله د بندګانو سره محبت کوی او نه ورسره بندګان محبت کوی او دا د جهمیه و مذهب دی هغوی ددواړه طرفنه د محبت نفی کوی

۲ـ بنده د رب سره محبت کوی لیکن د الله تعالی د بنده سره محبت نشته دا د اشعریه او صفاتیه و قول دی ( د صفاتیه و نه مراد هغه خلک دی چی من جمله د الله د صفاتو اثبات کوی )

لیکن کله چی دوی د محبت د لفظ نه انکار نشوکولی ځکه دا خو په کتاب او سنت کی وارد دی نو جهمیه وو یی دا تاویل وکه چی ددی نه مراد دالله عبادت طاعت د هغه د امر منل یا د هغه ددوستانو سره مینه ساتل دی او د الله تعالی د بنده سره محبت ددی نه مراد د الله تعالی احسان دی چی بنده سره یی کوی او صفاتیه وایی چی ددی نه مراد د احسان اراده کول دی

او دا قول شروع کوم په نوم د الله چی عام مهربان او خاص مهربان دی

**متن:** وَقَوْلُهُ: {وَهُوَ الْغَفُورُ الْوَدُودُ} ، وَقَوْلُهُ: {بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} ، {رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَعِلْمًا} . {وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا} ، }ِ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ} }ْكَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ} ، }ِوَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ} ، }ِفَاللَّهُ خَيْرٌ حَافِظًا وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ} .

## ترجمه:

ای ربه ستا رحمت او علم د هر شی نه پراخه دی

او الله تعالی په مومنانو باندی خاص رحم کوی

ستاسو رب پخپل ځان باندی رحمت فرض کړی دی

او الله غفور رحیم ذات دی

الله تعالی ډیر ښه حفاظت کونکی دی او هغه ارحم الراحمین دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شرح:

مغفرت دګناهونو پټولو او د هغی بخشش ته وایی

او رحمت د الله تعالی انعام او احسان ته وایی بیا رحمت په دوه قسمه دی عام رحمت د الله تعالی چی هر چا باندی یی کوی په کافر او مومن داواړو باندی او دا د الله پدی قول کی ذکر دی

(وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ) (الأعراف: الاية156). (رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَحْمَةً وَعِلْمًا) (غافر: الاية7).

**۲. خاص رحمت چی صرف په مومنانو یی کوی چی پدی قول د الله کی ذکر دی**

**کوم خلک چی د رحمت معنی صرف په احسان سره کوی نو دا غلطه ده ځکه دا د لفظ د ظاهر او د سلفو د اجماع خلاف ده او هیڅ دلیل پری نشته**

## متن:

**رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ**

## ترجمه :

او دا قول الله ددوی نه راضی دی او دوی د الله نه

## شرح:

معطله جهمیه معتزله او اشاعره ددی صفت څخه انکارکوی هغوی وایی د رضی نه مراد دادی چی الله د انعام اراده کوی دغه شان هغوی د الله د غضب صفت نه منی بلکی وایی چی ددینه مراد دادی چی الله د انتقام اراده لری دا ټولی معنی باطلی دی صحیح معنی داده چی د الله دغضب نه مراد د هغه انتقام او په هغه چا باندی د عذاب نازول دی چی په هغوی الله غصه شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## متن:

**وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ}** ، وَقَولُهُ: **}ذَلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللَّهَ وَكَرِهُوا رِضْوَانَهُ}** ، **}فَلَمَّا آسَفُونَا انتَقَمْنَا مِنْهُمْ}** ، وَقَوْلُهُ: **{وَلَكِن كَرِهَ اللَّهُ انبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ}** ،وَقَوْلُهُ: **}كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لا تَفْعَلُونَ}** .

## ترجمه:

او دا قول او چا چې مومن لره قصدا قتل کړ نو د هغه سزا جهنم دی همیشه به په هغی کی وی الله پری غصه او لعنت کړی دی

او دا قول : دا پدی وجه چې دوی دداسی شی تابعداری کړی چې الله لره غصه کوی او دوی د الله رضا خوښه نه ګنړی

او دا قول کله چې دوی موږ لره غصه کړو موږ ترینه انتقام واغسته

او دا قول د الله لیکن الله ددوی په جهادکی وتل بد وګنړل نو دوی یی منع کړل

او دا قول د الله په نزد ډیره د غصی خبره ده چې تاسو هغه څه ووایی چې عمل پری نکوی

## شرح:

دی ایت کی اشکال دادی چې دا پدی خبره دلالت کوی چې چا قصدا قتل وکړ د هغه توبه نه قبلیږی او همیشه به اورکی وی حالانکه الله تعالی فرمایلی دی چې هغه د شرک نه علاوه ټول ګناهونه معاف کوی او قتل دهمدی ګناهونو څخه یو دی

**{إِنَّ اللَّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاءُ}** (1) . (1) النساء: (48) .

نو علماو ددی ډیر جوابونه کړی دی چې هغی نه بعضی په لاندی ډول دی

۱ـ دا سزا د هغه چا لپاره ده چې قصدا قتل کول حلال ګنړی

۲ـهمدا دده اصلی سزا ده لیکن امکان شته که توبه یی ویسته او نیک عمل یی وکه نو الله به یی ورته معاف کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ـ دایت کریمه مقصد زجر او توبیخ دی
۴ـ د خلود نه مراد ډیر وخت تیرول دی

تر دی چی ابن عباس رضی الله عنهما په ویل چی دا ایت منسوخ ندی او اخیر کی نازل شوی دی ابن عباس رضی الله عنهما فرمایی د اسفونا مطلب دی کله چی دوی مونږه عصه کړو

ابن قتیبه فرمایی اسف غضب ته وایی اسفت اسفا یعنی زه غصه شوم

**فقال "ابن عباس: أغضبونا، قال ابن قتيبة: الأسف الغضب، يقال: أسفت أسفاً أي: غضبت"**2. 1 منهاج السنة النبوية (322/5) .

## متن:

**هَلْ يَنظُرُونَ إِلاَّ أَن يَأْتِيَهُمُ اللَّهُ فِي ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلآئِكَةُ وَقُضِيَ الأَمْرُ} ، {هَلْ يَنظُرُونَ إِلاَّ أَن تَأْتِيهُمُ }وَقَوْلُهُ: الْمَلآئِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ رَبُّكَ أَوْ يَأْتِيَ بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ} ، {كَلاَّ إِذَا دُكَّتِ الأَرْضُ دَكًّا دَكًّا وَجَاء رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا} ، {وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَاء بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ الْمَلائِكَةُ تَنزِيلاً} .**

## ترجمه:

او دا قول ایا دوی انتظارکوی ددی خبری چی الله تعالی ورته د وریځو په ظلل کی راشی او ملایک هم او د کار فیصله وکړی شی

ایا دوی انتظارکوی چی ملایکی ورله شی یا ستا رب راشی یا ستا د رب بعضی عذابونه راشی کله چی ستا د رب بعضی عذابونه راشی

هیچری نه کله چی ځمکه زره زره شی په زره زره کیدو

هغه ورځ چی اسمان به ی وریځو نه جدا شی او ملایک به راکوځ شی په راکوځیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شرح:

پدی ایتونوکی د الله د راتلو د صفت اثبات دی چی الله به د قیامت په ورځ د بنده ګانو په مابین کی د حساب کتاب لپاره راځی یا د جمعی په ورځ به د جنتیانو ملاقات ته راځی او دی باندی د مسلمانانو اتفاق دی عثمان بن سعید الدارمی رحمه د مسلمانانو اجماع پدی ذکرکړی چی الله به د قیامت په ورځ د فیصلی لپاره راځی او ددی راتلو نه حقیقی راتګ مراد دی

انظر: درء تعارض العقل والنقل (67/6، 69) ، الاستقامة (76/1) ، مجموع الفتاوی (323/5، 325) .

لیکن مبتدعین د الله راتګ نه منی او وایی چی د الله د راتلو نه مراد د هغه د عذاب راتلل دی زمخشری وایی الله تعالی به په وریځو کی عذاب راولیږی د کومو وریځو نه چی به رحمت رانازلیده نو د رحمت د ځای نه د عذاب رانازلیدل ډیر سخت دی

## متن:

وَقَوْلُهُ: {وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلالِ وَالإِكْرَامِ} ، {كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلاَّ وَجْهَهُ} .

## ترجمه:

او دا قول او پاتی به شی مخ ستا د رب چی د جلال او عزت والا دی

هر شی هلاکیدونکی دی مګر مخ د الله تعالی

## شرح:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدی کی د الله د مخ اثبات دی او د اهل سنت والجماعت عقیده داده چی د الله مخ شته لیکن څنګه چی د هغه د شان لایق وی البته جهمیه او معتزله وغیره ددی نه انکارکوی او وایی چی د مخ نه مراد د الله جهت طرف او ذات دی

ددوی د رد لپاره دا حدیث کافی دی چی پدی حدیث کی به تاسو د وجه معنی په څه سره کوی ؟

نبی علیه السلام فرمایی: د الله تعالی پرده د نور نه جوړه ده که هغه یی ښکاره کړی نو د مخ روښنایی به هغه ټول څه وسیزی چی د الله نظر ورته رسیږی

((حِجَابُهُ النُّورُ أَوِ النَّارُ، لَوْ كَشَفَهُ لَأَحْرَقَتْ سُبُحَات وَجْهِهِ مَا انْتَهَى إِلَيْهِ بَصَرُهُ مِنْ خَلْقِهِ))

رواه مسلم في الإيمان، (باب في قوله عليه السلام: ((إنّ الله لا ينام)) ) (16/3– نووي) .

**پدی دوه ایتونو باندی جهمیه استدلال کړی چی د وجه نه مراد الله ذات دی ځکه صرف د مخ خو د هلاکیدو او نه هلاکیدو سره هیڅ تعلق نشته**

**ددی جواب: دادی چی که چیرته د الله مخ نه وی نو ددی لفظ استعمال به د ذات په معنی کی نه وی شوی ځکه کوم لفظ چی د یو معنی لپاره وضع شوی وی تر هغه پوری په بله معنی کی د هغی استعمال ممکن ندی تر څو چی په خپله اصلی معنی کی نه وی استعمال**

**<u>متن:</u>** وَقَوْلُهُ: {مَا مَنَعَكَ أَن تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ} ، {وَقَالَتِ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُواْبِمَا قَالُواْ بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيْفَ يَشَاء} .

## <u>ترجمه:</u>

او دا قول ای ابلیسه څه شی ته هغه څه ته د سجدی نه منع کړی چی ما په خپل لاس جوړ کړی دی

او یهودو ویلی وو د الله لاس بندکړی شوی دی بلکی ددوی لاسونه بندکړی شوی او ددی خبری په وجه پدوی لعنت کړی شوی دی بلکی د الله لاسونه پراخه دی خرچه کوی څنګه چی وغواړی

## <u>شرح:</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی ایتونوکی د الله د لاس اثبات دی او همدا صحیح عقیده ده چی د الله لاس شته لکه څنګه چی د هغه د شان سره لایق وی دی باره‌کی د قران دا ایتونه واضح دی لیکن معطله ددی نه مراد قدرت اخلی وایی چی‌که مونږ د الله لپاره لاس ثابت‌کړو نو دی سره به الله تشبیه د مخلوق سره راشی

د الله لپاره د لاس ثبوت په ډیرو احادیثوکی وارد دی

چی هغی نه بعضی په لاندی ډول دی

۱-

((إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ ثَلَاثَةَ أَشْيَاءَ بِيَدِهِ: خَلَقَ آدَمَ بِيَدِهِ، وَكَتَبَ التَّوْرَاةَ بِيَدِهِ، وَغَرَسَ جَنَّةَ عَدْنٍ بِيَدِهِ)) (1) .

نبی‌کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی الله تعالی دری شیان په خپل لاس باندی پیداکړی دی ادم یی په خپل لاس پیداکړی دی تورات یی په خپل لاس لیکلی دی او جنت عدن یی په خپل لاس جوړکړی دی

رواه الدارقطني في ((الصفات)) (ص45) بتحقيق الفقيهي. والبيهقي في ((الأسماء والصفات)) (ص403) ؛ من حديث الحارث بن نوفل مرفوعًا.

وصحّ عن ابن عمر رضي الله عنهما أنه قال:

((خلق الله أربعة أشياء بيده: العرش، والقلم، وآدم، وجنة عدن. ثم قال لسائر الخلق: كن. فكان)) .

قال الذهبي في ((العلو)) :

((إسناده جيد)) .

وقال الألباني في ((مختصر العلو)) (ص105) :

((سنده صحيح على شرط مسلم)) .

## متن:

وَقَوْلُهُ: {وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا} ، {وَحَمَلْنَاهُ عَلَى ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ – تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا جَزَاء لِّمَن كَانَ كُفِرَ} ، {وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي وَلِتُصْنَعَ عَلَى عَيْنِي}

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ترجمه:

او دا قول او د خپل رب فیصلی ته انتظار وکړه پس ته زمونږ په سترګو یی

مونږ هغه لره په هغه کیشتی کی سور کړ چی د تختو والا وه هغه زمونږ د سترګو مخامخ روانه وه او همدا ثواب د هغه چا دی چی کفر پری وکړی شی

او ما پتا باندی محبت درواچوو دی لپاره چی ستا تربیت زما د سترګو مخامخ وشی

## شرح:

دی ایتونوکی د الله تعالی د سترګی اثبات دی چی د الله تعالی لپاره سترګی شته چی ټول د لیدو وړ شیان پری وینی او ددی څخه انکارکول د ثابتو نصوصو څخه انکار دی
مونږ صرف د الله د سترګی اثبات کوو باقی د هغی کیفیت الله ته معلوم دی څنګه چی د الله د شان سره مناسب وی او معطله ددی تاویل په لیدو حفظ رعایت سره کی چی دا د الله د صفت نفی ده البته بعضی مقاماتوکی عین په مفرد لفظ سره راغلی او بعضوکی په جمع سره دی کی د هغوی لپاره هیڅ دلیل نشته ځکه د عربی ژبه فصیحه ژبه ده کله د دوه و لپاره د جمع لفظ استعمالیږی اوکله واحد ددوه په ځای کار ورکوی

## متن:

**وَقَوْلُهُ: {قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِي إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ} ،وَقَوْلُهُ: {لَّقَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّذِينَ قَالُواْ إِنَّ اللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَاء} ، وَقَوْلُهُ: {أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُم بَلَىوَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ}**

## ترجمه:

او دا قول : بیشکه الله تعالی د هغی زنانه خبری اوریدلی دی چی تا سره یی د خپل خاوند باره کی بحث کوو او الله ته یی شکایت کولو او الله ستاسو ددواړو خبری اوریدلی بیشکه الله اوریدونکی لیدونکی ذات دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایا دوی گمان کوی چی مونږ ددوی پټی خبری او جرګی نه اورو ولی نه زمونږ فریښتی ددوی خواته لیکل کوی

## شرح:

**اولنی ایت د خوله بنت ثعلبه باره کی نازل شوی وو کله چی خاوند ورسره ظهار کړی وو او نبی علیه السلام ته راغلی وه شکایت ورته کوو نبی علیه السلام ورته ویل چی زما په خیال ته پری حرامه شوی یی**

**د عایشه رضی الله عنها نه روایت دی هغه فرمایی چی هغه ذات له حمد دی**

**چی ټولی خبر اوری دی زنانه د نبی علیه السلام سره خبری کولی او زه د کور په یو ګوټ کی وم لیکن ما یی خبری وا نه وریدلی او الله د وس اسمانونو دپاسه د هغی خبری واوریدی**

((الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وسعَ سمْعُهُ الأصواتَ؛ لَقَدْ جَاءَتِ الْمُجَادِلَةُ تَشْكُو إِلَى رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – وَأَنَا فِي ناحيةٍ مِنَ البيتِ مَا أَسْمَعُ مَا تَقُولُ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: {قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا ... .

رواه البخاري في التوحيد. (باب: قول الله تعالى: {وَكَانَ اللَّهُ سَمِيعًا بَصِيرًا} تعليقًا (372/13–فتح) ، ووصله النسائي في النكاح، (باب: الظهار) (168/6) ، ووصله من طريقه الحافظ في ((التعليق)) (339/5) وصحَّحه، وأحمد في ((المسند)) (46/6) ، وابن ماجه، والحاكم في ((المستدرك)) ، وفيه:

((قال النبي – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – لخولة: ما أراك إلا قد حرمت عليه)) .

**دویم ایت د فنحاص یهودی باره کی نازل شوی وو کله چی ابو بکر رضی الله عنه هغه ته د اسلام دعوت ورکړ نو ویی ویل قسم په الله ای ابو بکر زه الله ته حاجت نلرم الله خو مونږ ته محتاج دی که چیرته هغه مالداره وی نو مونږ نه به یی قرض نه غوښتی**

قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَمَّا دَعَاهُ إِلَى الْإِسْلَامِ: وَاللَّهِ يَا أَبَا بَكْرٍ مَا بِنَا إِلَى اللَّهِ مِنْ حَاجَةٍ مِنْ فَقْرٍ، وَإِنَّهُ إِلَيْنَا لَفَقِيرٌ، وَلَوْ كَانَ غَنِيًّا مَا استَقْرَضَنَا

(إسناده ضعيف) . رواه ابن جرير بسنده في ((التفسير)) (رقم 8300، 8301–شاكر) ، وفيه محمد بن أبي محمد الأنصاري مولى زيد بن ثابت، ذكره البخاري في ((التاريخ الكبير)) ولم يذكر فيه جرحًا ولا تعديلاً، وذكره ابن حبان في ((الثقات)) ، وقال عنه الذهبي في ((الميزان)) (لا يعرف) ، وقال الحافظ: مجهول

(c) ketabton.com: The Digital Library



## متن:

{إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَى} ، {أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللَّهَ يَرَى} ، {الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ} ، {وَقُلِ اعْمَلُواْ فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ}

## ترجمه:

زه ستاسو ددواړو سره یم اورم او وینم

ایا ده ته پته نه وه چی الله تعالی لیدل کوی

هغه ذات چی تا وینی کله چی پاڅیږی او په سجده کونکوکی ستا اوړیدل راوړیدل بیشکه هغه اوریدونکی علم والا ذات دی

ورته ووایه عمل وکړی زر ده چی الله به ستاسو عمل ووینی او رسولا ن او مومنان هم ( به ستاسو عمل ووینی

## شرح:

## متن:

وَقَوْلُهُ: {وَهُوَ شَدِيدُ الْمِحَالِ} ، وَقَوْلُهُ: {وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ} ، وَقَوْلُهُ: {وَمَكَرُوا مَكْرًا وَمَكَرْنَا مَكْرًا وَهُمْ لا يَشْعُرُونَ} ، وَقَوْلُهُ: {إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ كَيْدًا – وَأَكِيدُ كَيْدًا}

## ترجمه:

او دا قول الله سخت عذاب والا دی

او دوی چال جوړ کړ الله هم چال جوړ کړ او الله ښه چال جوړونکی دی

بیشکه دوی چلونه جوړوی او زه هم چل جوړوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا قول دوی چال جوړکړ او مونږ هم چال جوړکړ خو دوی نه پوهیږی

## شرح:

دا ایت د عیسی علیه السلام باره کی نازل شوی ووکله چی یهودو د هغه د قتل اراده وکړه نو هغه یو کمری ته ننوته چی هغی کی بره نه سوری وو بیا الله تعالی د جبریل په واسطه هغه ددی ځای نه اسمان ته اوچت کړ نو د یهوذا په نوم یو جاسوس دی کمری ته داخل شو چی یهودانو ته هغه وروښایی چی قتل یی کړی نو الله دی خاین ته د عیسی علیه السلام شکل ورواچوو

نو هغه دکمری نه راووته او ویی ویل په کمره کی هیڅوک نشته لیکن یهودانو پدی باندی د عیسی ګمان وکه او قتل یی کړ نو دا د الله تعالی مکر او چال ووی چی ددوی سره یی وکه

ذكر هذا المعنى ابن كثير في ((التفسير)) (37/2) دون أن يعزوه لأحد، وذكره ابن جرير بسنده إلى السُّدي (454/6–شاكر) ، وعزاه ابن الجوزي في ((زاد المسير)) (395/1) لابن عبَّاس.

پدی ایتونوکی د الله د مکر چال د صفت اثبات دی او دا د فعلی اختیاری صفاتو څخه دی لیکن ددی دوه صفتونو څخه د اسم اشتقاق صحیح ندی چی وویل شی ماکر اوکاید بلکی دی باره کی به په نص باندی اکتفاکوو او په صیغه د فعل سره به یی استعمالوو

**د محال معنی ده چی الله سخت سزا ورکونکی دی چا لره چی راونیسی نو سخت سزا ورکوی لکه بل مقام کی الله فرمایی بیشکه ستا د رب رانیول ډیر سخت دی**

بعضی سلفو د الله د مکر معنی کړی چی ددی نه مراد د الله تعالی بنده ګانو لره په تدریج سره رانیول دی چی هغوی ته به پته هم نه وی او څومره چی دوی ګناه کوی الله به ورته نعمتونه زیاتوی دی دپاره چی یو ورځ یی راونیسی او د هغه رانیول ډیر سخت دی

څکه صحیح حدیث کی راځی نبی ﷺ فرمایی ((إِذَا رأيتَ اللَّهَ يُعطي الْعَبْدَ مِنَ الدُّنْيَا مَا يحبُّ وَهُوَ مقيمٌ عَلَى مَعْصِيَتِهِ؛ فَاعْلَمْ أَنَّمَا ذَلِكَ مِنْهُ اسْتِدْرَاجٌ)). (صحيح) . رواه أحمد في ((المسند)) (145/4) ، وتتمته:
((ثم تلا: {فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى إِذَا فَرِحُواْ بِمَا أُوتُواْ أَخَذْنَاهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ} )) . الأنعام: (44) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسَّن إسناده العراقي في ((تخريج الإحياء)) (132/4) ، وصحَّحه الألباني في ((السلسلة الصحيحة)) (413) .

کله چی ته وینی چی الله بنده ته ددنیا محبوب شیان ورکوی او هغه په **گناه باندی قایم وی نو پوهه شه چی دا د** الله تعالی ده لره په تدریج سره رانیول دی

بیا نبی علیه السلام دا ایت ولوسته : کله چی دوی هغه احکام هیر کړل چی الله ورته بیان کړی وو نو مونږ پدوی باندی د هر خیر دروازی راکولاو کړی تر دی چی په هغی باندی خوشحاله شول نو بیا مونږ ناڅاپه دوی راونیول او بیا غمجن وو

## متن:

**ِوَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَن }وَقَوْلُهُ: {إِن تُبْدُواْ خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُواْ عَن سُوَءٍ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا}** ، **يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ}** .

## ترجمه:

او دا قول که تاسو څه نیکی لره ښکاره کړی یا پټ کړی یا د بدکار څخه معافی وکړی نو بیشکه الله تعالی بخشش کونکی او قدرت لرونکی ذات دی

او دوی دی معافی او بخشش وکړی ایا تاسو دا خوښه نه ګڼړی چی الله تاسو ته بخشش وکړی او الله بخشش کونکی مهربان دی

## شرح:

**دی ایتونو کی د الله ډیر صفات بیان شوی چی هغه بخشش قدرت رحمت عزت برکت جلال اکرام دی او عفو د الله تعالی نوم دی چی معنی یی ده د بنده گانو د سزا ورکولو نه تیریدونکی کله چی هغوی الله ته توبه اوباسی او انابت اختیار کړی لکه الله تعالی فرمایی:**
**{وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَعْفُو عَنِ السَّيِّئَاتِ}.**

**او الله تعالی د خپلو بندگانو توبه قبلوی او د گناهونو بخشش کوی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## متن:

وَقَوْلُهُ: {وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ} ، وَقَوْلُهُ عَنْ إِبْلِيسَ: {فَبِعِزَّتِكَ لأَغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ} .

## ترجمه:

او دا قول او عزت خو صرف د الله او رسول لپاره دی.

او د الله دا قول د ابلیس باره کی ستا په عزت می دی قسم زه به دا خلک ټول گمراه کړم

## شرح:

**دا ایت د عبدالله بن ابی بن سلول باره کی نازل شوی دی هغه په یو غزوه کی قسم کړی وو چی هغه به نبی علیه السلام او د هغه صحابه د مدینه نه وباسی نو الله دا ایت نازل کړ دوی وایی کله چی مونږ مدینه ته واپس شول نو عزت مند به ذلیل لره د مدینه نه وباسی د عزتمند نه مراد هغه خپل ځان وو او د ذلیل نه مراد یی نبی علیه السلام وو نو الله هغه باندی رد وکه او ویی فرمایل چی عزت خو د الله د رسول او د مومنانو دی لیکن منافقان نه پوهیږی او عزت صفت الله د خپل ځان لپاره په ډیرو مقاماتو کی ثابت کړی دی الله فرمایی بیشکه هغه عزتمند حکمت والا ذات دی**

**او په حدیث دشفاعت کی یی پدی باندی قسم کړی دی**

الله فرمایی زما په عزت کبریا او عظمت باندی قسم زه به د جهنم نه هر هغه **څوک وباسم چی لا اله الا الله یی ویلی وی**

((وعِزَّتِي وَكِبْرِيائِي وَعَظَمَتِي؛ لأخرجنَّ مِنْهَا مَن قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ)) (4) .

د صحیح بخاری کی د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چی نبی علیه السلام فرمایلی دی ایوب علیه السلام یو **ورځ په لغړه باندی غسل کوو پدی کی په هغه باندی د سرو سزو ملخ راولیده نو هغه په خپلو جامو کی رانیول شروع کړل الله تعالی ورته اواز وکه ای ایوب ایا تاته ما مال نه دی درکړی او ددی نه می مستغنی کړی نه یی هغه وویل ولی نه ستا په عزت می دی قسم وی لیکن زه هیڅکله ستا د برکت نه مستغنی کیږم نه**

رواه البخاري في الغسل، (باب: من اغتسل عريانًا وحده في الخلوة) (387/1–فتح) ، وفي الأنبياء، وفي التوحيد.

والنسائي في الغسل، (باب: الاستتار عند الاغتسال) .

ورواه الإمام أحمد في ((المسند)) .

((بَيْنَمَا أَيُّوب عَلَيْهِ السَّلَامُ يَغْتَسِلُ عُرْيَانًا خرَّ عَلَيْهِ جَرَادٌ مِنْ ذَهَبٍ، فَجَعَلَ يَحْثِي فِي ثَوْبِهِ، فَنَادَاهُ ربُّه: يَا أَيُّوب! أَلَمْ أَكُنْ أَغْنَيْتُكَ عَمَّا تَرىقَالَ: بَلَى؛ وعزَّتك، وَلَكِنْ لَا غِنَى لِي عَنْ بَرَكَتِكَ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیا په عربی ژبه کی د عزت ډیری معانی دی د غلبه او قهر په معنی هم راځی که د عز یعز د عین په پیش سره راشی**
**۲ـ د قوت او صلابت په معنی هم راځی که د عز یعز نه راشی د ع په زبر سره ویل کیږی ارض عزاز سخته ځمکه**

**۳– د دښمن معاف کول او ځان اوچت ګنړل پدی معنی هم رځی کله چی د د عز یعز د ع په زیر سره راشی**
**او دا تولی معانی د الله لپاره ثابتول جایز دی**

**<u>متن:</u>** وَقَوْلُهُ: {تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلالِ وَالإِكْرَامِ} .؟ وَقَوْلُهُ: {فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ هَلْ تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا} ، {وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ} ، وَقَوْلُهُ: {فَلاَ تَجْعَلُواْ لِلّهِ أَندَاداً وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ} ، {وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللّهِ أَندَاداً يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللّهِ} ، وَقَوْلُهُ: {وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَم يَكُن لَّهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُن لَّهُ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلَّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا} ، {يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} ، وَقَوْلُهُ: {تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا – الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا} ، وَقَوْلُهُ: {مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَهٍ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَهٍ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلا بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ – عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ} ، {فَلاَ تَضْرِبُواْ لِلّهِ الأَمْثَالَ إِنَّ اللّهَ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ} ، {قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَن تُشْرِكُواْ بِاللّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَن تَقُولُواْ عَلَى اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ}

## <u>ترجمه:</u>

او دا قول ستا د رب نوم د برکتونو والا دی چی د جلال او عزت خاوند دی

او دا قول : د الله عبادت وکړه او د هغه په عبادت باندی صبر وکړه ایا تا ته د الله هم مثل معلوم دی

او دا قول: د الله هیڅوک مثل نشته

او دا قول د الله : د الله سره شریکان مه ګرځوی حالانکه تاسو پوهیږی

او بعضی خلک د الله نه علاوه نور شریکان نیسی داسی محبت ورسره کوی چی الله سره یی کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا  قول : حمد دی الله لره چی بچی یی ندی نیولی نه د هغه سره څوک په بادشاهی کی شریک شته او نه د هغه څوک ملګری شته او د الله عظمت بیان کړه

هغه څه چی په اسمانونو او ځمکوکی دی ټول الله لره تسبیح بیانوی د هغه لپاره بادشاهی او حمد دی او هغه په هر شی باندی قادر دی

برکتونو والا دی هغه ذات چی په خپل بنده باندی یی قران نازل کړ دی لپاره چی نړی والو ته یره ورکړی هغه لپاره د اسمانونو او ځمکو بادشاهی ده او بچی یی ندی نیولی نه یی په بادشاهی کی څوک شریک شته او هر شی یی په اندازی سره پیدا کړی دی

د الله دا قول : الله تعالی هیڅ بچی ندی نیولی نه د هغه سره بل اله شته دی که وی نو هر اله به خپل مخلوق بیل کړی وی او په یو بل به یی زیاتی کړی وی الله پاک دی د هغه خبرو نه چی دوی یی کوی

د غیب او ښکاره شیانو عالم دی او اوچت دی الله د هغه څه نه چی دوی ورسره شریکوی

د الله لپاره مثالونه مه بیانوی بیشکه الله تعالی پوهیږی او تاسو نه پوهیږی

ووایه بیشکه زما رب فواحش حرام کړی کوم چی ښکاره دی اوکوم چی پټ اوګناه د حق نه بغیر ظلم او دا چی تاسو د الله سره هغه څوک شریک کړی چی الله پری دلیل ندی نازل کړی او دا چی په الله باندی د ځانه خبره جوړه کړی  دا ټول الله حرام کړی دی

## شرح:

علامه بن قیم رحمه الله فرمایی :په فتوی یا قضا کی په الله باندی د ځانه خبره جوړول الله تعالی حرام کړی ده او په محرماتوکی یی دیته ستره درجه ورکړی ده الله تعالی فرمایلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو الله دی ایت کی محرمات په څلور مراتبوکی تقسیم کړی دی او د ټولو نه په اسان اوکم تر محرم یی شروع کړی چی هغه فواحش دی بیا د هغه نه په د تحریم په دویمه مرتبه کی حرام ذکرکړی چی هغه ګناه ده بیا یی هغه محرم ذکرکړی چی د مخکنی دواړو نه سخت دی چی هغه د الله تعالی سره شرک دی بیا یی څلورمه درجه کی هغه حرام ذکرکړی

چی ددی ټولو نه یی تحریم شدید دی او هغه بغیر د علم نه په الله باندی قول کول دی او دا عام دی په الله باندی د هغه په نومونو صفاتو افعالو دین او شرع کی د ځانه خبره جوړول او افترا کول

: ((وَقَدْ حرَّم اللَّهُ الْقَوْلَ عَلَيْهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ فِي الْفُتْيَا وَالْقَضَاءِ وَجَعَلَهُ مِنْ أَعْظَمِ المحرَّمات؛ بَلْ جَعَلَهُ فِي الْمَرْتَبَةِ الْعُلْيَا مِنْهَا؛ قَالَ تَعَالَى: {قلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ... } الْآيَةَ، فرتَّب الْمُحَرَّمَاتِ أَرْبَعَ مَرَاتِبَ، وَبَدَأ بِأَسْهَلِهَا، وَهُوَ الْفَوَاحِشُ، وَثَنَّى بِمَا هُوَ أَشَدُّ تَحْرِيمًا مِنْهُ، وَهُوَ الْإِثْمُ وَالظُّلْمُ، ثُمَّ ثلَّث بِمَا هُوَ أَعْظَمُ تَحْرِيمًا مِنْهُمَا، وَهُوَ الشِّرْكُ بِهِ سُبْحَانَهُ، ثُمَّ ربَّع بِمَا هُوَ أَعْظَمُ تَحْرِيمًا مِنْ ذَلِكَ كُلِّهِ، وَهُوَ الْقَوْلُ عَلَيْهِ بِلَا عِلْمٍ، وَهَذَا يعمُّ الْقَوْلَ عَلَيْهِ سُبْحَانَهُ بِلَا عِلْمٍ فِي أَسْمَائِهِ وَصِفَاتِهِ وَأَفْعَالِهِ وَفِي دِينِهِ وَشَرْعِهِ)). اعلام الموقعين (1) (38/1).

دا ایتونه په سلبی صفاتو باندی مشتمل دی د هم نوم همزولی ند بچی شریک دوست ددی ټولو صفاتو نفی پکښی ده

او د بعضی مثبت صفاتو بیان پکښی هم شوی دی لکه بادشاهی حمد قدرت اوکبریا او برکت

شیخ الاسلام بن تیمیه فرمایی اهل لغت ویلی دی چی د سمی معنی داده چی د الله پشان بل داسی څوک چی د هغه د نومونو پشان د نومونو مستحق وی

**پدی ایت کی استفهام انکاری دی معنی داده چی تاته د الله پشان د هغه هم مثل معلوم ندی**

**د کف نه مراد مساوی او برابر دی یعنی دالله سره څوک برابر نشته**

**ند هغه مثیل او شبیه ته وایی چی د خپل ملګری سره مخالفت کوی نو د الله هیڅ ند نشته چی مخالفت ورسره وکړی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**متن:** وَقَوْلُهُ: {الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى} فِي [سَبْعَةِ] (1) مَوَاضِعَ: [فِي سُورَةِ الأَعْرَافِ، قَوْلُهُ: {إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ} وَقَالَ فِي سُورَةِ يُونُسَ ـ عَلَيْهِ السَّلاَمُ ـ: {إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ } وَقَالَ فِي سُورَةِ الرَّعْدِ: {اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ} وَقَالَ فِي سُورَةِ طَهَ: {الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى} وَقَالَ فِي سُورَةِ الْفُرْقَانِ: {ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ الرَّحْمَنُ} وَقَالَ فِي سُورَةِ آلم السَّجْدَةِ: {اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ} وَقَالَ فِي سُورَةِ الْحَدِيدِ: {هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ} ] .

## ترجمه:

**دا قول : الله تعالی په عرش باندی استوی کړی ده**

**بیا په عرش باندی مستوی شو**

## شرح:

**الله تعالی د خپل کتاب په وه مقاماتو کی دا خبره ذکر کړی چی الله په عرش باندی مستوی دی نو مونږ د الله تعالی لپاره دا صفت ثابتوو ځکه چی هغه د خپل ځان لپاره ثابت کړی دی او نبی علیه السلام هم په ډیرو احادیثو کی ددی اثبات کړی دی وجی نه مونږ وایو چی الله تعالی په حقیقی طور سره په عرش استوی کړی ده او همدا د اهل سنت والجماعت عقیده ده**

**دغه وه مقامات پدی ډول دی**

(1) الأعراف: (54) .

(2) يونس: (3) .

(3) الرعد: (2) .

(4) طه: (5) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(5) الفرقان: (59) .

(6) السجدة: (4) .

(7) الحديد: (4) .

**ایا د مخلوق باره کی دا ویل چی په یو شی یی استوی کړی ده دا جایز دی که نه ؟ دا بالکل جایز دی الله فرمایی دی لپاره چی تاسو ددی په شاګانو باندی مستوی شی او بیا د الله نعمت یاد کړی**

{لِتَسْتَوُوا عَلَى ظُهُورِهِ ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ} [(13) سورة الزخرف]

کله چی ته او ستا **ملګری په کیشتی کی مستوی شی نو ته ووایه ټول حمدونه هغه رب لره دی چی مونږ یی د ظالمانو نه راخلاص کړو**

{فَإِذَا اسْتَوَيْتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي نَجَّانَا مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ} [(28) سورة المؤمنون]،

لیکن دا استوی د الله د استوی په شان ندی **ځکه د الله استوی د هغه د شان مطابق ده ځنګه چی هغه سره مناسب دی او بنده ګان ددی حقیقت نه پیژنی**

**جهمیه او د هغوی سر فهرست کی زاهد الکوثری د الله د استوا نه انکار کوی او کله د استوا معنی په استولی سره کوی چی الله په عرش غلبه کړی ده یا د علی معنی په الی سره کوی چی الله عرش ته د تلو اراده کړی ده**

**دا ټول فاسد تاویلونه دی چی هیڅ حقیقت نلری ایا دوی مونږ پسی خندا کوی کله چی ترینه پوښتنه وکړو چی کله الله تعالی په عرش باندی ندی نو چیرته دی ؟لیکن هغوی دا پوښتنه بده ګڼړی لیکن هغوی ته پته نشته چی زمونږ خوږ نبی حضرت محمد ﷺ خو دا پوښتنه پخپله کړی ده کله چی یی د یوی وینزی نه پوښتنه وکړه چی الله چیرته دی هغی وویل په اسمان کی**

**نو نبی علیه السلام د هغی مالک ته وویل ازاده یی کړه ځکه دا مومنه ده**

**نو کله چی دا زنانه پدی عقیدی سره مومنه ګرځی نو اهل سنت والجماعت څه ګناه وکړه چی پدی عقیدی ورته بدعتیان مختلف نومونه ګدی**

**محمد بن زاهد بن الحسن بن علی الکوثری حنفی فقیه وو چی انتهایی متعصب او بد ژبی انسان وو په عقیده کی جهمی وو د اهل سنت والجماعت سره یی انتهایی حسد او بغض لره او دده کتابونو د اهل سنت ته په کنځلو ډک دی** ولد سنة (1296هـ) ، وتوفي سنة (1371هـ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**متن:** وَقَوْلُهُ: {يَا عِيسَى إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ} ، {بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْه} ، {إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ} ، {يَا هَامَانُ ابْنِ لِي صَرْحًا لَّعَلِّي أَبْلُغُ الأَسْبَابَ – أَسْبَابَ السَّمَاوَاتِ فَأَطَّلِعَ إِلَى إِلَهِ مُوسَى وَإِنِّي لأَظُنُّهُ كَاذِبًا} ، وَقَوْلُهُ: {أَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاء أَن يَخْسِفَ بِكُمُ الأَرْضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ – أَمْ أَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاء أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ

# ترجمه:

**او دا قول ای عیسی بیشکه زه تا لره وفات کونکی یم او ځان ته دی اوچتونکی یم**

**بلکی الله تعالی هغه ځان ته اوچت کړی دی**

**الله ته پاکی خبری خیژی او نیک عمل الله ځانته اوچتوی**

**ای هامان زما لپاره یو بیلډنګ جوړ کړه کیدای شی زه اسمانونو ته وخیژم او د موسی علیه السلام معبود وینم**

**ځکه زه پده باندی ددروغجن ګمان کوم**

**او دا قول ایا تاسو د هغه ذات نه په امن کی شوی یی چی په اسمان کی دی چی پتاسو باندی به ځکه ښکته کړی نو بیا به هغه لاندی روانه وی ایا تاسو د هغه ذات نه په امن یی چی اسمان کی**

**دی چی پتاسو به د کانو باران وکړی نو بیا به تاسو ته پته ولګی چی څرنګه دی ویره ورکونکی**

# شرح:

**پدی ایت کی د مذکوره توفی باره کی علماو اختلاف کړی چی ددی نه مراد څه شی دی ؟بعضی وایی دی نه مراد مرګ دی یعنی الله تعالی عیسی علیه السلام لره وژلی دی لیکن د اکثرو علماو قول دادی چی دی نه مراد خوب دی ځکه د توفی لفظ د خوب لپاره استعمال شوی دی**

**الله فرمایی الله هغه ذات دی چی دشپی تاسو وفات کوی په معنی تاسو ویده کوی او په هغه څه عالم دی چی تاسو یی دورځی کوی**

{وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُم بِاللَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِالنَّهَارِ} (1) .

بعضی وایی چی په کلام کی تقدیم او تاخیر دی مطلب دا چی اصل کلام داسی دی زه تالره اوچتونکی یم **ځانته او قیامت ته نژدی به دی وفات کړم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او همدا قول صحیح دی ځکه عیسی علیه السلام الله تعالی ته ژوندی ختلی دی او د قیامت قریب به راکوځیږی د دجال سره به جنګ کوی او هغه به وژنی بیا به حکومت کوی تر دی چی موت به ورته راشی او الله به یی وفات کړی**

.

**دا اعمال الله تعالی ته د مازیګر او سحر مونځ نه پس خیژولی شی لکه حدیث کی راځی چی الله ته هغه فریشتی خیژی چی تاسو سره یی شپه تیره کړی ده نو الله ددوی نه پوښتنه کوی او هغه پوهه دی چی تاسو زما بنده ګان په څه حالت باندی پریخودل نو هغوی وایی ای زمونږ ربه مونږ چی دوی ته راغلو هم مونځ یی کوو او کله چی تری واپس راتلو هم مونځ یی کوو**

((فَيَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ، فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ . وَهُوَ أَعْلَمُ . كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي؟ فَيَقُولُونَ: يَا رَبَّنَا! أَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يصلُّون, وَتَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يصلُّون)) .

جزء من حديث رواه البخاري في مواقيت الصلاة، (باب: فضل صلاة العصر) (33/2–فتح) ، وفي بدء الخلق، (باب: ذكر الملائكة) ، وفي التوحيد، ومسلم في المساجد، (باب: فضل صلاتي الصبح والعصر والمحافظة عليهما) (138/5–نووي) ، والنسائي، ومالك في ((الموطأ)) ، وأوله: ((يتعاقبون فيكم ملائكة..)) .

## متن:

{هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ السَّمَاء وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ} ، وَقَوْلُهُ: {مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَى ثَلاثَةٍ إِلاَّ هُوَ رَابِعُهُمْ وَلاخَمْسَةٍ إِلاَّ هُوَ سَادِسُهُمْ وَلا أَدْنَىٰ مِن ذَلِكَ وَلا أَكْثَرَ إِلاَّ هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ} ، {لاَ تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا} ، وَقَوْلُهُ: {إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَى} ، {إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَواْ وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ} ، {وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ} ، {كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ} .

## ترجمه:

**او دا قول: الله هغه ذات دی چی ځمکی او اسمانونه یی په شپږ ورځو کی پیدا کړی دی بیا په عرش باندی یی استوی کړی پوهیږی په هغه څه چی په ځمکه کی ننوځی او هغه چی اسمان ته خیژی او راکوځیږی او هغه تاسو سره دی هر چیرته چی یی او الله ستاسو په عملونو لیدونکی دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا قول : نه وی دری کسیزه جرګه مګر الله د هغوی څلورم وی او نه وی پینځه کسیزه مګر الله د هغوی شپږم دی نه ددی نه کم نه ډیر مګر الله د هغو سره وی هر ځای کی چی وی بیا به الله د قیامت په ورځ هغو ته د هغوی د عملونو خبر ورکړی بیشکه الله تعالی په هر شی پوهه دی

مه غمجن کیږه بیشکه الله زمونږ ملګری دی

زه ستاسو سره یم اورم او وینم مو

بیشکه الله د هغه چا ملګری دی چی تقوی پکښ ده او محسنان دی

صبر وکړی بیشکه الله د صبر کونکو ملګری دی

ډیر کله یو کم جماعت په ډیرو خلکو باندی غالبه شی د الله په اذن سره او الله د صبر کونکو ملګری دی

## شرح:

**ابن قیم رحمه الله تعالی شل قسمه دلایل ذکر کړی چی د الله تعالی په اوچت والی او دی باندی دلالت کوی چی الله په اسمان کی د عرش دپاسه دی**

**۱ـ ددی تصریح چی الله په عرش باندی مستوی دی او دا تصریح په وه مقاماتو کی ذکر ده**

**۲ـ ددی صراحت چی الله ځانته بعضی مخلوقات خیژوی**

{بَلْ رَفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا} وقال تعالى {إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ}

**۳. ددی تصریح چی الله ته بعضی مخلوقات خیژی لکه**

{إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ} وعروج بعض المخلوقات إليه {تَعْرُجُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ إِلَيْهِ} وقال تعالى {يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ}.

**۴. ددی صراحت چی الله د خپلو بنده ګانو د پاسه دی**

{وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ}.

**۵. په فوقیت باندی صراحت کول چی د من نه پس راغلی وی**

{يَخَافُونَ رَبَّهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ}.

**۶. ددی صراحت چی الله تعالی په اسمان کی دی او دا دوه ځایونو کی راځی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



{أَأَمِنْتُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ أَنْ يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ * أَمْ أَمِنْتُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ أَنْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ}.

**۷. د فرعون باره کی د الله دا خبر چی هغه هامان ته ویلی وو ماله اوچت ځای جوړ کړه چی د الله د لیدو لپاره اسمان ته وخیژم**

**۸- د الله تعالی خپل ځان له په علو سره وصف بیانول**

{وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ}.

## بیا په علو او استوا کی دری فرقه دی

**۱. د علو د پیژندلو طریقه قران سنت اجماع عقل او فطرت دی دی وجی نه چی یو ماشوم ته ووایی چی الله چیرته دی هغه بره اسمان ته گوته نیسی چی اسمان کی دی نو ددی دلیل فطرت هم دی لیکن زمونږ د امت په معطله باندی افسوس دی چی فطرتونه یی خراب شوی دی**

**او استوا په کتاب سنت او اجماع سره ثابته ده**

**۲. استوا د عرش سره تعلق ساتی داسی ویل جایز ندی چی الله په اسمان باندی مستوی دی هر چی علو ده نو ددی تعلق د هر شی سره دی داسی ویل جایز دی چی الله په عرش باندی اوچت دی په اسمان اوچت دی په خپلو بندگانو اوچت دی د هر شی د پاسه دی**

**۳- استوا یو فعلی صفت دی چی د الله د مشیت سره تعلق لری ځکه الله چی کله وغوښتل نو په عرش باندی مستوی شو او هغه د اسمانونو د پیدا کولو نه پس په عرش باندی استوی کړی ده لیکن علو یو ذاتی صفت دی نو علو هیچری د الله د ذات نه جدا کیږی نه هغه همیشه اوچت دی**

.

د بنده سره د الله معیت : ددی معنی داده چی الله تعالی بذاته په عرش باندی دی لیکن د الله علم هر چا سره دی مونږ ددی وجی نه د معیت تقیید په علم سره کوو چی د نصوصو مابین کی تطبیق وشی ځکه که مونږ ووایو چی الله د هر چا سره بذاته دی نو دی سره به تعدد لازم راشی چی الله ډیر زیات دی

او دی قید ته امام احمد اشاره کړی هغه فرمایی الله تعالی د معیت ایت په علم سره شروع کړی دی او په علم سره یی ختم کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی مطلب دادی چی الله تعالی د بنده گانو سره د علم په  اعتبار سره ملگری دی

بیا معیت په دوه قسمه دی

۱ـ عام معیت : دا د نیک او فاسق لپاره دی یعنی الله تعالی د علم په اعتبار سره د مسلمان کافر فاسق مومن ټولو سره دی د هغوی د افعالو او اعمالو نه خبردار دی

۲ـ خاص معیت ددی نه مراد د الله تعالی نصرت تایید حفاظت دی چی د خپلو دوستانو سره یی کوی او دا د پیغمبرانو مومنانو متقیانو صابرانو او محسنینو سره خاص ده

## متن:

**وَقَوْلُهُ: {وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ حَدِيثًا} ، {وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ قِيلاً} ، {وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ} {وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلاً} ، {وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا} ، {مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ اللَّهُ} ، {وَلَمَّا جَاء مُوسَى لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ} ، َنَادَيْنَاهُ مِن جَانِبِ الطُّورِ الأَيْمَنِ وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا} ، وَقَوْلُهُ: {وَإِذْ نَادَى رَبُّكَ مُوسَى أَنِ ائْتِ الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ} ، } {وَنَادَاهُمَا رَبُّهُمَا أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَن تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ} ، وَقَوْلُه: {وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَا أَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِينَ} {وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّى يَسْمَعَ كَلاَمَ اللَّهِ} ، {وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلاَمَ اللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ} ، {يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا كَلامَ اللَّهِ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذَلِكُمْ قَالَ اللَّهُ مِن قَبْلُ} ، {وَاتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِن كِتَابِ رَبِّكَ لا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ} ، وَقَوْلُهُ: {إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَقُصُّ عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَكْثَرَ الَّذِي هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ} ، {وَهَذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ} ، {لَوْ أَنزَلْنَا هَذَا الْقُرْآنَ عَلَى جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللَّهِ} ، {وَإِذَا بَدَّلْنَا آيَةً مَّكَانَ آيَةٍ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُواْ إِنَّمَا أَنتَ مُفْتَرٍ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ – قُلْ نَزَّلَهُ رُوحُ الْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِينَ آمَنُواْ وَهُدًى وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ – وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ لِّسَانُ الَّذِي يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِيٌّ وَهَذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِينٌ} . وَقَوْلُهُ: {وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ – إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ} ، {عَلَى الأَرَائِكِ يَنظُرُونَ} ، {لِّلَّذِينَ أَحْسَنُواْ الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ} ، وَقَوْلُهُ: {لَهُم مَّا يَشَاؤُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ} ، وَهَذَا الْبَابُ فِي كِتَابِ اللهِ كَثِيرٌ، مَنْ تَدَبَّرَ الْقُرْآنَ طَالِبًا لِلْهُدَى مِنْهُ؛ تَبَيَّنَ لَهُ طَرِيقُ الْحَقِّ..**

## ترجمه:

او څوک دی د الله نه په خبرو کی ډیر ریښتینی

څوک دی چی وینا یی د الله نه ډیره ریښتینی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کله چی وویل الله ای عیسی بن مریم

او ستا د رب د خبری رینتینوالی او عدل پوره دی

او الله موسی علیه السلام سره خبری وکړی

بعضی ددوی نه داسی دی چی الله سره یی خبری کړی دی

کله چی موسی علیه السلام په مقرر وخت باندی راغلی او الله ورسره خبری وکړی

\او دا قول مونږ هغه د طور غر د یو طرفنه راوبله او د نژدی نه مو وسره خبری وکړی

کله چی الله تعالی موسی ته اواز وکه چی راشه قوم ظالمانو ته

او هغوی ته د هغو رب اواز وکه چی ایا ما تاسو ددغی ونی نه نه وی منع کړی

هغه ورځ چی دوی ته به اواز وکړی چی څه شول زما شریکان چی تاسو به ما سره شریکول

په هغه ورځ به ورته اواز وکړی چی تاسو د پیغمبرانو په څه کی تابعداری کړی ده

که چیرته یو تن د مشرکانو څخه ستا نه پناه وغواړی نو پناه ورله ورکړه تر دی چی دالله کلام واوری

یوی ډلی به ددوی نه د الله کلام اوریده بیا به یی پکښ تحریف کوو ددی نه پس چی خه به پری پوهه شو

دوی غواړی چی د الله کلام کی تبدیلی وکړی ورته ووایه هیچری به تاسو مونږ پسی رانشی

ولوله هغه چی تاته د الله د کتاب څخه وحی شوی دی او د هغه کلام لره هیڅوک تبدیلونکی نشته

همدا قران په بنی اسرایلو بیان کوی

دا کتاب مونږ نازل کړی دی مبارک دی

که چیرته مونږ دا قران په غر باندی نازل کړی وی نو تا به لیدلی وی چی د الله د خوف د وجی به زره زره شوی وی

کله چی مونږ یو ایت د بل په ځای تبدیل کړو او الله تعالی پوهه دی چی څه نازلوی نو دوی وایی چی بیشکه ته هغو د ځانه خبری جوړوی بلکی اکثره ددوی نه نه پوهیږی ته ورته ووایه دا قران

(c) ketabton.com: The Digital Library



جبریل په حق سره ستا د رب لخوا راوړی دی دی دپاره چی ثابت قدمه کړی هغه کسان چی ایمان یی راوړی دی او دا هدایت او زیری دی د مسلمانانو لپاره

مونږ ته پته ده چی دوی وایی دا قران ده ته ( نبی علیه السلام ) یو بشر ورزده کوی کوم کس ته چی دوی اشاری کوی د هغه ژبه عجمی ده او دا په عربی باندی نازل شوی دی

او دا قول : پدغه ورځ به بعضی مخونه تروتازه وی خپل رب ته به گوری

دوی به په پالنگونو باندی الله ته گوری

د هغه چا لپاره چی احسان یی کړی نیکی ده او زیادت دی

ددوی لپاره هغه څه دی چی دوی یی په جنت کی غواړی او مونږ سره ددی نه زیات نور اجر هم شته

داسی نور ایتونه په قران کی ډیر زیات دی

چا چی په قران کی تدبر وکړ او د حق طلب یی کوو نو حق لاره به ورته معلومه شی

# شرح:

د الله د کلام باره کی امت سخت اختلاف کړی دی

بعضو دا مسلک اختیار کړی چی د الله کلام مخلوق دی او د هغه نه منفصل او جدا دی او د متکلم په معنی د کلام خالق دی او دا معتزله دی

بعضی وایی چی د الله کلام د هغه ذات سره لازم دی ازلی او ابدی دی د الله د مشیت او قدرت سره تعلق نلری او د الله حرف او اواز نشته دا د اشاعره او کلابیه مسلک دی

بعضی وایی چی د الله د کلام نه مراد حروف او اوازونه دی چی د الله د ذات سره لازم دی لیکن الله پری تکلم نه کوی

بعضی وایی چی د الله کلام حادث او د ذات سره قایم دی د قدرت او مشیت سره متعلق دی لیکن دا گمان کوی چی الله همیشه خبری نه کوی او دا کرامیه دی

دی باره کی د اهل سنت د عقیدی خلاصه داده چی الله تعالی همیشه خبری کولی شی کله چی وغواړی او کلام د هغه د ذات سره قایم صفت دی په خپل قدرت او مشیت سره خبری کوی او کوم شی باندی چی الله تکلم وکړی هغه د الله نه منفصل ندی بلکی د الله د مشیت او قدرت سره تعلق ساتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريم فصل

## د هغه صفاتو منل چې نبي کريم ﷺ د الله لپاره ثابت کړي دي

## متن:

**فَصْلٌ**: ثُمَّ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللهِ ﷺ، فَالسُّنَّةُ تُفَسِّرُ الْقُرآنَ، وتُبَيِّنُهُ، وتَدُلُّ عَلَيْهِ، وتُعَبِّرُ عَنْهُ، وَمَا وَصَفَ الرَّسُولُ بِهِ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ مِنَ الأَحَادِيثِ الصِّحَاحِ الَّتِي تَلَقَّاهَا أَهْلُ الْمَعْرِفَةِ بِالْقَبُولِ؛ وَجَبَ الإِيمَانُ بِهَا كَذَلِك.

فَمِنْ ذَلِكَ: مِثْلُ قَوْلِهِ ﷺ: ((يَنْزِلُ رَبُّنَا إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا كُلَّ لَيْلَةٍ حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرِ، فَيَقُولُ: مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ؟ مَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ، مَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ؟)) . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

## ترجمه:

بيا په سنت د نبی کريم ﷺ کی ددی صفاتو ذکر دی

او سنت د قران لپاره تفسير دی د هغی بيان وضاحت او د هغی څخه تعبيير کوی

نو په کومو صحيحو احاديثو کی چی نبی کريم ﷺ د الله لپاره صفات ثابت کړی وی د هغی منل ضروری دی

لکه د نبی عليه السلام دا قول
زمونږ رب هره شپه لاندينی اسمان ته راکوځيږی کله چی دشپی اخيری دريمه حصه پاتی شی نو وايی څوک دی چی زما نه دعا وکړی زه به ورله دعا قبوله کړم څوک دی چی زما نه د څه شی سوال وکړی زه به يی ورله ورکړم څوک دی چی زما نه د ګناهونو بخشش طلب کړی زه به يی معاف کړم[البخاري (1145)، ومسلم (758) من حديث أبي هريرة – رضي الله عنه –].

## شرح:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چی قران وحی ده دغه شان حدیث هم وحی ده چی د الله له طرفه نازل شوی دی پدواړو کی فرق صرف دومره دی چی  قران وحی جلی ده او حدیث وحی خفی

مقدام رضی الله عنه فرمایی: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی((أَلَا إِنِّي أُوتِيتُ الْكِتَابَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ، أَلَا إِنِّي أُوتِيتُ الْقُرْآنَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ، أَلَا يُوشِكُ رَجُلٌ يَنْثَنِي شَبْعَانًا عَلَى أَرِيكَتِهِ يَقُولُ: عَلَيْكُمْ بِالْقُرْآنِ، فَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ حَلَالٍ فَأَحِلُّوهُ، وَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ [ص:411] حَرَامٍ فَحَرِّمُوهُ، أَلَا لَا يَحِلُّ لَكُمْ لَحْمُ الْحِمَارِ الْأَهْلِيِّ، وَلَا كُلُّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ، أَلَا وَلَا لُقَطَةٌ مِنْ مَالِ مُعَاهَدٍ إِلَّا أَنْ يَسْتَغْنِيَ عَنْهَا صَاحِبُهَا، وَمَنْ نَزَلَ بِقَوْمٍ، فَعَلَيْهِمْ أَنْ يَقْرُوهُمْ، فَإِنْ لَمْ يَقْرُوهُمْ، فَلَهُمْ أَنْ يُعْقِبُوهُمْ بِمِثْلِ قِرَاهُمْ "))مسند  احمد **17174**

**(( واوری ما ته قران راکړی شوی دی او ددی سره یو بل ددی پشان شی هم راکړی شوی دی ( یعنی احادیث ) واوری نژدی ده چی یو ډک خیټی کس به په خپل پالنګ باندی تکیه لګولی وی او وایی به ستاسو لپاره قران کافی دی ( د حدیث ضرورت نشته ) نو څه چی تاسو ته قران کی حلال میلاو شی هغی ته حلال وایی اوکوم شی چی قران کی حرام وی هغی ته حرام ووایی خبردار تاسو لپاره کورنی خر حلال ندی او هر داړه ور درنده مالک د هغی نه بی پراوه وی او څوک چی د یو قوم خواته لاړ شی هغوی باندی دده میلمستیا واجب ده که هغوی دده میلمستیا ونکړی نو ده له پکار دی چی د هغوی نه خپل میلمستیا په زوره واخلی ))**

پدی حدیث کی د الله تعالی د نزول بیان دی چی دا صفت په قران کی نشته بلکی په حدیث سره ثابت دی لیکن ددی منل هم د قران پشان ضروری دی ځکه مخکی بیان شول چی قران او حدیث دواړه وحی ده

او د نزول باره کی احادیث متواتر دی امام ذهبی فرمایی د نزول باره کی احادیث متواتر دی چی د یقین فایده ورکوی

دی وجی نه ددی څخه انکار کول د متواتر نه انکار دی چی کفر دی

وَيَقُولُ الذَّهَبِيُّ فِي كِتَابِهِ ((الْعُلُوُّ للعليّ الْغَفَّارِ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



((**إِنَّ أَحَادِيثَ النُّزُولِ مُتَوَاتِرَةٌ، تُفِيدُ الْقَطْعَ**)) . ، ونص عبارته: ((**وأحاديث نزول الباري متواترة**)) ، وفي الموضع الآخر؛ قال: ((**وقد أَلَّفتُ أحاديث النزول في جزء، وذلك متواترٌ أقطع به**)) . ((العلو للعليّ الغفَّار)) (ص73، 79) ،

نو اهل سنت د الله لپاره نزول ثابتوی چی الله لاندینی اسمان ته دشپی په اخیره حصه کی راکوځیږی

ځنګه چی د هغه د شان سره مناسب وی د مخلوق پشان نزول د هغه ندی ځکه د الله لپاره اعلی مثال دی لیکن اهل بدعت ددی صفت څخه انکار کوی وایی ددی نه مراد د الله د رحمت نازلیدل دی ځکه دا کیدای نشی چی رحمت ووایی څوک شته چی زما نه سوال وکړی زه به یی ورله قبول کړم څوک شته چی زما نه دعا وکړی ....دا هیڅری ممکن نده نو ددی نه مراد د الله حقیقی نزول دی

د معطله و غټه شبهه داده چی ددی نه لازمیږی چی الله د خپل ځای نه جدا کیږی پدی شبهه باندی دوی کم علم عوامو ته دهوکه ورکوی

**إذا قال لك الجهمي: أنا أكفر برب يزول عن مكانه.**

**فقل: أنا أؤمن برب يفعل ما يشاء** (1).

دی وجی بعضی علماو ویلی دی کله چی تاته جهمی ووایی زه په هغه رب باندی ایمان نلرم چی د خپل ځای نه جدا کیږی

نو ته ورته ووایه زه په هغه رب ایمان لرم چی څه وغواړی کوی یی

(1) [القائل هو الإمام الفضيل بن عياض . رحمه الله . انظر: خلق أفعال العباد ص 36، والإبانة لابن بطة (الرد على الجهمية) 3/ 205، وشرح أصول اعتقاد أهل السنة 2/ 502].

شیخ الاسلام فرمایی : کله چی نبی علیه السلام د الله باره کی فرمایلی دی چی هر شپه نزدی اسمان ته راکوځیږی د عرفه په ماښام حاجیانو ته رانژدی کیږی او د موسی علیه السلام سره یی په وادی ایمن کی د ونی په خوا کی په مبارکه ځمکی باندی خبری کړی دی او اسمان ته ختلی دی چی هغی وخت کی اسمان یو لوګی وو بیا یی ځمکی او اسمان ته ویلی وو چی که خوښه مو وی او که نه ما ته راشی نو ددی څخه دا لازمه نده چی دا دی ددی افعالو پشان وی کوم چی مونږ مشاهده کوو نو دی وجی نه دا ویل غلط دی چی د الله نه یو ځای خالی کیږی او بل ځای ته ځی

((**فالربُّ سُبْحَانَهُ إِذَا وَصَفَهُ رَسُولُهُ بِأَنَّهُ يَنْزِلُ إِلَى سَمَاءِ الدُّنْيَا كُلَّ لَيْلَةٍ، وَأَنَّهُ يَدْنُو عَشِيَّةَ عَرَفَةَ إِلَى الْحُجَّاجِ، وَأَنَّهُ كَلَّم مُوسَى بِالْوَادِي الْأَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ الْمُبَارَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ، وَأَنَّهُ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دخانٌ، فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا؛ لَمْ يَلْزَمْ مِنْ ذَلِكَ أَنْ تَكُونَ هَذِهِ الْأَفْعَالُ مِنْ جِنْسِ مَا نُشَاهِدُهُ مِنْ نُزُولِ هَذِهِ الْأَعْيَانِ الْمَشْهُودَةِ حَتَّى يُقال: ذَلِكَ يَسْتَلْزِمُ تَفْرِيغَ مَكَانٍ وَشَغْلَ آخَرَ**))

(c) ketabton.com: The Digital Library



## متن:

وَقَوْلُهُ ﷺ: ((لَلّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهُ الْمُؤْمِنِ التَّائِبِ مِنْ أَحَدِكُمْ بِرَاحِلَتِهِ)) . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

وَقَوْلُهُ: ﷺ: ((يَضْحَكُ اللهُ إِلَى رَجُلَيْنِ يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الآخَرَ؛ كِلاهُمَا يَدْخُلُ الجَنَّةَ)) . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

وَقَوْلُهُ: ((عَجِبَ رَبُّنَا مِنْ قُنُوطِ عِبَادِهِ وَقُرْبِ خَيْرِه، يَنْظُرُ إِلَيْكُمْ أَزَلِينَ قَنِطِينَ، فَيَظَلُّ يَضْحَكُ يَعْلَمُ أَنَّ فَرَجَكُمْ قَرِيبٌ)) . حَدِيثٌ حَسَنٌ.

## ترجمه:

او دا قول :الله تعالی د بنده په توبه باندی ستاسی د يو نن په خپله سورلی پيدا کيدو باندی ډير خوشحاليږی

او دا قول الله به دوه کسانو ته خاندی چی يو بل لره وژلی وی او بيا دواړه جنت ته داخل شی

زمونږ الله د بنده ګانو د مايوسی څخه تعجب کوی تاسو ته ګوری چی د ذلت په حالت کی او مايوسه ښکاری نو الله هميشه وی چی خاندی او ورته معلومه وی چی ستاسو نجات قريب دی

## شرح:

دا اصل کی اوړد حديث دی چی الله تعالی د مومن په توبه باندی د هغه کس نه ډير خوشحاليږی چی په يو خالی صحرا کی روان وی د هغه سره سورلی وی چی په هغی د خوراک څښاک سامان پروت وی دی کی دا کس ددی نه راکوځ شی او ويده شی پداسی حال کی چی سورلی يی د سر خواته ودرولی وی کله چی راپاخيږی نو ګوری چی سورلی يی نشته دا د هغی په لټون شروع وکړی نو مونده يی نکړی تر دی چی د تندی دلاسه مرګ ته قريب شی نو ووايی قسم په الله هغه ځای ته به واپس شم چيرته چی زما سورلی وه چی مرګ راته هلته راشی نو کله چی واپس شی ويده شی بيا چی سترګی کولاو کړی نو ګوری چی سورلی يی د سر سره ولاړه ده نو په جلدی سره يی د خولی نه دا الفاظ راوځی ای الله ته زما بنده يی زه ستا رب يم د ډير خوشحالی د وجی غلط شی رواه البخاري في الدعوات، (باب: التوبة) (102/11–فتح) ، ومسلم في التوبة، (باب: الحضّ على التوبة) (65/17–نووي) ، والترمذي في صفة القيامة، (باب: المؤمن يرى ذنبه كالجبل فوقه) ؛ بألفاظ مختلفة.

((لَلّهُ أشدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ الْمُؤْمِنِ مِنْ رَجُلٍ بِأَرْضٍ فَلَاةٍ دويَّة مَهْلَكَةٍ وَمَعَهُ رَاحِلَتُهُ عَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ، فَنَزَلَ عَنْهَا، فَنَامَ وَرَاحِلَتُهُ عِنْدَ رَأْسِهِ، فَاسْتَيْقَظَ وَقَدْ ذَهَبَتْ، فَذَهَبَ فِي طَلَبِهَا، فَلَمْ يَقْدِرْ عَلَيْهَا، حَتَّى أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ مِنَ الْعَطَشِ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَقَالَ: وَاللَّهِ لَأَرْجِعَنَّ فَلَأَمُوتَنَّ حَيْثُ كَانَ رَحْلِي، فَرَجَعَ، فَنَامَ، فَاسْتَيْقَظَ، فَإِذَا رَاحِلَتُهُ عِنْدَ رَأْسِهِ، فَقَالَ: اللهمَّ أَنْتَ عَبْدِي وَأَنَا رَبُّكَ. أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ)

دی کی د الله د یو بل صفت بیان دی چی هغه فرح خوشحالی ده نو الله تعالی د بنده **ګانو په بعضو افعالو باندی خوشحالیږی او دا د بنده د خوشحالی په څیر نده بلکی څنګه چی د الله دشان سره مناسب وی کیفیت یی الله ته معلوم دی لیکن ددی تاویل په رضی سره کول او بیا د رضا تاویل په اراده د ثواب سره کول دا ټول خرافات دی**

((يضحك الله إلى رجلين يقتل أحدهما الآخر: كلاهما يدخل الجنة))، فقالوا: كيف يا رسول الله؟ قال: ((يقاتل هذا في سبيل الله – عز وجل – فَيُسْتَشْهَد ثم يتوب الله على القاتل فيسلم فيقاتل في سبيل الله – عز وجل – فيستشهد)) (**1**)

مکمل حدیث داسی دی چی الله تعالی به دوه بنده **ګانو ته خاندی دواړه به جنت ته داخلیږی چی د هغو نه یو کس به بل لره وژلی وی**

**یو به قاتل وی بل مقتول**

**صحابه وو وویل ای د الله رسول دا څنګه کیدای شی ؟ هغه وفرمایل یو به د الله په لار کی جهاد کوی نو شهید به شی بیا به الله تعالی قاتل ته د توبه توفیق ورکړی نو مسلمان به شی بیا به هغه د الله په لاره کی په جهاد کی شهید شی**

(1) أخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير، باب الكافر يقتل المسلم ثم يسلم فيسدد بعد ويقتل، برقم 2826، ومسلم في كتاب الإمارة، باب بيان الرجلين يقتل أحدهما الآخر يدخلان الجنة، برقم 1890.

او دا قول :

(عَجِبَ رَبُّنَا مِنْ قُنُوطِ عِبَادِهِ وَقُرْبِ خَيْرِهِ، يَنْظُرُ إِلَيْكُمْ آزِلِينَ قَنِطِينَ، فَيَظَلُّ يَضْحَكُ يَعْلَمُ أَنَّ فَرَجَكُمْ قَرِيبٌ))

(1) (ضعيف) . لم أجده بهذا اللفظ، ولكن بلفظ: ((يضحك)) ، أو: ((ضحك ربنا)) ، وبلفظ: ((غَيَرِهِ)) ؛ بدل: ((خيره)) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



والحديث رواه ابن ماجة في المقدمة، (باب: فيما أنكرت الجهمية) ، وأحمد في ((المسند)) (11/4) ، والطبراني في ((الكبير)) (208/19) ، والآجري في ((الشريعة)) (ص279) ، والبيهقي في ((الأسماء والصفات)) ، واللالكائي في ((شرح أصول الاعتقاد)) (426/3) ؛ كلهم من طريق وكيع بن حُدُس . وقيل: عُدُس . عن عمه أبي رزين.

ووكيعٌ؛ قال عنه الذهبي: ((لا يعرف)) .

وقال الحافظ:

((مقبول)) .

والحديث قال عنه الألباني في ((ضعيف الجامع)) (3585) :

((ضعيف جدًا)) .

تعجب كول د الله تعالى د صفاتو څخه دی نو الله تعالی تعجب کوی څنګه چی هغه سره لایق وی او ددی تعجب نه مراد دادی چی کله بنده یو داسی کار وکړی چی الله ته خوښ وی یا یو شی چی الله ته معلوم وی او بیا هغه صادر شی

لکه د بنده مایوسی البته هغه تعجب الله ته نشی منسوبولی چی د هغی سبب په هغه څه باندی د مخکی نه لا علمی وی چی د هغی نه تعجب کیدای شی ځکه الله تعالی باندی هیڅ پټ ندی لکه بنده چی د یو داسی شی نه تعجب کوی چی مخکی یی نه وی لیدلی او نوی شان ورته ښکاره شی

## **متن:**

**وَقَوْلُهُ ﷺ: ((لا تَزَالُ جَهَنَّمُ يُلْقَى فِيهَا وَهِيَ تَقُولُ: هَلْ مِنْ مَزِيدٍ؟ حَتَّى يَضَعَ رَبُّ الْعِزَّةِ فِيهَا رِجْلَهُ [وَفِي رِوَايَةٍ: عَلَيْهَا قَدَمَهُ] فَيَنْزَوِي بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ، فَتَقُولُ: قَط قَط)) . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.**

## **ترجمه:**

په جهنم کی به جهنمیان اچولی کیږی او هغه به وایی نور راچوی نور راچوی تر دی چی رب العزت به پکښ خپله ښپه کیږدی نو جهنم به یو بل کی راننوځی او وبه وایی بس دی بس دی

رواه البخاري في تفسير سورة ق، (باب قول الله تعالى: {وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ} (594/8–فتح) ، وفي الأيمان والنذور، والتوحيد، ومسلم في الجنة، (باب: النار يدخلها الجبارون، والجنة يدخلها الضعفاء) (189/17–نووي) ، ورواه الترمذي في تفسير سورة ق.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شرح:

د الله د قدم ځخه حقیقی قدم مراد دی ځنګه چی د هغه سره مناسب وی او معطله ددی تفسیر کوی چی ددی نه مراد هغه جماعت د خلکو دی چی الله اور لره تیار کړی دی

چی ددوی دا تفسیر د ظاهری نص او د سلفو د اجماع خلاف دی

## متن:

وَقَوْلُهُ: ((يَقُولُ تَعَالَى: يَا آدَمُ! فَيَقُولُ: لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ. فَيُنَادِي بِصَوتٍ: إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكَ أَنْ تُخْرِجَ مِن ذُرِّيَّتِكَ بَعْثًا إِلَى النَّارِ)) . مُتَّفقٌ عَلَيْهِ. وَقَوْلُهُ: ((مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ وَلَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تَرْجُمَانٌ)) .
وَقَوْلُهُ فِي رُقْيَةِ الْمَرِيضِ: ((رَبَّنَا اللهَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ، تَقَدَّسَ اسْمُكَ، أَمْرُكَ فِي السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، كَمَا رَحْمَتُكَ فِي السَّمَاءِ اجْعَلْ رَحْمَتَكَ فِي الأَرْضِ، اغْفِرْ لَنَا حُوبَنَا وَخَطَايَانَا، أَنْتَ رَبُّ الطَّيِّبِينَ، أَنْزِلْ رَحْمَةً مِنْ رَحْمَتِكَ، وَشِفَاءً مِنْ شِفَائِكَ عَلَى هَذَا الْوَجِعِ؛ فَيَبْرَأَ)) .حَدِيثٌ حَسَنٌ، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَغَيرُهُ، وَقَوْلُهُ: ((أَلاَ تَأْمَنُونِي وَأَنَا أَمِينُ مَنْ فِي السَّمَاءِ)) . حَدِيثٌ صَحِيحٌ وَقَوْلُهُ: ((وَالْعَرْشُ فَوْقَ الْمَاءِ، وَاللهُ فَوْقَ الْعَرْشِ، وَهُوَ يَعْلَمُ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ)) . حَدِيثٌ حَسَنٌ، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَغَيْرُهُ، وَقَوْلُهُ لُلْجَارِيَةِ: ((أَيْنَ اللهُ؟)) . قَالَتْ: فِي السَّمَاءِ. قَالَ: ((مَنْ أَنَا؟)) . قَالَتْ: أَنْتَ رَسُولُ اللهِ. قَالَ: ((أَعْتِقْهَا فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ)) . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

وَقَوْلُهُ: ((أَفْضَلُ الإِيمَانِ أَنْ تَعْلَمَ أَنَّ اللهَ مَعَكَ حَيْثُمَا كُنْتَ)) . حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَقَوْلُهُ: ((إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ إِلَى الصَّلاةِ؛ فَلاَ يَبْصُقَنَّ قِبَلَ وَجْهِهِ، وَلاَ عَنْ يَمِينِهِ؛ فَإِنَّ اللهَ قِبَلَ وَجْهِهِ، وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ، أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ)) . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَقَوْلُهُ ﷺ: ((اللهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ وَالأَرْضِ وَرَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوَى، مُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنَ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي وَمِنْ شَرِّ كُلِّ دَابَّةٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا، أَنْتَ الأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ؛ اقْضِ عَنِّي الدَّيْنَ وَأَغْنِنِي مِنَ الْفَقْرِ)) . رِوَايَةُ مُسْلِمٌ. وَقَوْلُهُ ﷺ لَمَّا رَفَعَ الصَّحَابَةُ أَصْوَاتَهُمْ بِالذِّكْرِ: ((أَيُّهَا النَّاسُ! أَرْبِعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ؛ فَإِنَّكُمْ لاَ تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلاَ غَائِبًا، إِنَّمَا تَدْعُونَ سَمِيعًا بَصِيرًا قَرِيبًا. إِنَّ الَّذي تَدْعُونَهُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ عُنُقِ رَاحِلَتِهِ)) . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
قَوْلُهُ: ((إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ الْقَمَرَ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، لاَ تُضَامُونَ فِي رُؤْيَتِهِ، فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَن لاَّ تُغْلَبُوا عَلَى صَلاةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَصَلاةٍ قَبْلَ غُرُوبِهَا؛ فَافْعَلُوا)) . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ..

## ترجمه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی وایی ای ادم ادم به ووایی لبیک زه تابعدار یم ای ربه نو الله به اواز وکړی چی الله تاته حکم کوی چی د خپلو بچو څخه یو جماعت اور ته واچوه
تاسو کی هیڅ یو تن نشته مګر الله تعالی به ورسره خبری وکړی پداسی حال کی چی د الله او د هغه مابین کی به هیڅ ترجمان نه وی

او د نبی علیه السلام د مریض ددم کولو په وخت دا وینا

زمونږ رب الله دی چی په اسمان کی دی ای ربه ستا نوم پاک دی ستا امر په ځمکه او اسمان کی چلیږی لکه څنګه چی ستا رحمت په

اسمان کی دی نو وګرځوه خپل رحمت په ځمکه باندی زمونږ غټ او واړه ګناهونه معاف کړه ته د پاکو خلکو رب یی رانازل کړه رحمت ستا د رحمت نه او شفا ستا د شفا نه پدی مرض باندی

او دا قول ایا تاسو ما امانت ګر نه ګڼری حالانکه زه د هغه رب امین یم چی په اسمان کی دی

او د نبی علیه السلام دا قول چی عرش بیا ددی د پاسه دی

او الله د عرش دپاسه دی او ستاسو په ټولو اعمالو باندی پوهه دی

او د نبی علیه السلام دا قول وینزی ته الله چیرته دی هغی وویل په اسمان کی نبی علیه السلام وفرمایل زه څوک یم

هغی وویل ته د الله رسول نو نبی علیه السلام د هغی مالک ته وفرمایل دا ازاده کړه ځکه مومنه ده

او دا قول بهترین ایمان دادی چی ته پدی یقین ولری چی الله تا سره دی هر چیرته چی یی

او دا قول د نبی علیه السلام کله چی پتاسو کی یو کس مونځ ته ودریږی نو مخامخ دی نه توکی نه دی ښی طرفته توکی ځکه الله تعالی دده مخی ته دی لیکن چپ طرفته یا د قدم لاندی دی توکی

او دا قول ای د وه اسمانونو ربه ای د عرش عظیم ربه د دانی او زړی چونکی ربه د تورات او انجیل نازله ونکی ربه زه د خپل نفس د شر نه ستا پناه غواړم او د هر هغه حیوان د شر نه چی ته د هغی تندی لره رانیونکی یی ای الله ته اول یی

نبی علیه السلام خپلو صحابه و ته فرمایلی وو کله چی هغوی په ذکر باندی اوازونه اوچت کړی وو

ای خلکو په ځان باندی رحم وکړی ځکه تاسو کوڼ یا غایب ته اواز نه کوی تاسو خو اوریدونکی لیدونکی او نژدی رب ته اواز کوی کوم رب ته چی تاسو اواز کوی هغه ستاسو یو تن ته د خپلی سورلی د څټ نه ډیر قریب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا قول : یقینا تاسو به د قیامت په ورځ خپل رب داسی وینی لکه په پینځلمسه شپه چی سپوږمی وینی تاسو د هغی په لیدو کی یو بل له ټیل نه ورکوی که چیرته وکولی شی چی د نمر راختو نه مخکی مونځ وکړی نو ادا یی کړی او که وکولی شی چی د ما نمر پریوتو نه مخکی مونځ وکړی نو ویی کړی

داسی نور ډیر احادیث دی چی نبی علیه السلام پکښ د خپل رب صفات بیان کړی دی

او فرقه ناجیه اهل السنت والجماعت پدی ټولو باندی ایمان لری تصدیق یی کوی او منی یی لکه څنګه چی دوی په قران کی د الله تعالی بیان کړی شوی صفات منی نه پکښ تحریف کوی نه تعطیل نه تکییف نه تمثیل

## شرح:

ددی نه معلومیږی چی الله تعالی بنده ته د مونځ په حالت کی مخامخ وی لیکن دلته اشکال دی چی څنګه کیدای شی چی الله په یو وخت په اسمان کی وی او د بنده مخامخ هم ددی دوه جوابه دی

۱ـددی دوه حالاتو راجمع کیدل په مخلوق کی ممکن لکه نمر چی انسان ته هم مخامخ وی او په اسمان کی هم دی نو کله چی د مخلوق باره کی یی اثبات ممکن دی نو من باب اولی یی د الله لپاره اثبات کیدای شی

۲ـ بالفرض که د مخلوق په حق کی ددی کیدل ناممکن هم وی نو د خالق په حق کی یی کیدل ممکن دی ځکه د الله لپاره اوچت مثال دی )

د الله تعالی صفات په دوه قسمه دی

۱ـذاتی  صفات ددی نه مراد هغه صفات دی چی د الله نه نه جدا کیږی همیشه الله تعالی په هغی سره متصف وی لکه علم زندگی قدرت اوریدل لیدل مخ لاسوه سترگی قدم بادشاهی عظمت عزت علو رحمت کلام وغیرها

**۲ـ فعلی صفات : ددی نه مراد هغه صفات دی چی د الله د قدرت او مشیت یعنی ارادی سره تعلق لری لکه استوا نزول راتلل خندل رضی تعجب غصه مره کول ژوندی کول خوشحالی نو دا صفات د الله په اختیار کی دی کله چی وغواړی کوی یی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خلورم فصل

# په ټول امت کی د اهل سنت والجماعت میانه روی

**متن:** بَلْ هُمُ الْوَسَطُ فِي فِرَقِ الأُمَّةِ؛ كَمَا أَنَّ الأُمَّةَ هِيَ الْوَسَطُ فِي الأُمَمِ؛
فَهُمْ وَسَطٌ فِي بَابِ صِفَاتِ اللهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى بَيْنَ أَهْلِ التَّعْطِيلِ الْجَهْمِيَّةِ، وَأَهْلِ التَّمْثِيلِ الْمُشَبِّهَةِ؛
وَهُمْ وَسَطٌ فِي بَابِ أَفْعَالِ اللهِ بَيْنَ الْجَبْرِيَّةِ وَالْقَدَرِيَّةِ.
وَفِي بَابِ وَعِيدِ اللهِ بَيْنَ الْمُرْجِئَةِ (وَالْوَعِيدِيَّةِ مِنَ الْقَدَرِيَّةِ وَغِيْرِهِمْ.
وَفِي بَابِ أَسْمَاءِ الإِيمَانِ والدِّينِ بَيْنَ الْحَرُورِيَّةِ وَالْمُعْتَزِلَةِ، وَبَيْنَ الْمُرْجِئَةِ وَالْجَهْمِيَّةِ.
وَفِي أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ ﷺ بَيْنَ الرَّافِضَةِ وَالْخَوَارِجِ.

## ترجمه:

اهل سنت والجماعت د امت د نورو فرقو مابین کی میانه روی معتدل جماعت دی لکه څنګه چی دا امت په نورو امتونو باندی غوره دی

نو دوی په باب د صفاتو کی د اهل تعطیل جهمیه و او اهل تمثیل مشبهه و مابین کی معتدل دی

او دوی په باب د افعال الله کی د قدریه او جبریه په مابین کی معتدل دی

دوی په باب د وعید کی د مرجییه او وعیدیه مابین کی معتدل دی لکه قدریه وغیرهم

د ایمان په احکامو کی دوی د د خوارجو معتزله و او مرجیه او جهمیه مابین کی معتدل دی

د نبی علیه السلام د صحابه و باره کی دوی د روافضو او خوارجو مابین کی معتدل دی

## شرح:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی فرمایی :دغه رنګه مونږ تاسو یو غوره امت ګرځولی یی دی دپاره چی په خلکو باندی ګواهان شی او رسول ﷺ پتاسو باندی ګواه وی

پدی حدیث کی د وسط معنی داده چی دا امت معتدل (درمیانی امت هم دی ) او غوره هم نو د نورو فرقو په نسبت اهل سنت والجماعت ددین په ټولو مسایلو کی میانه روی کوی نه پکښ افراط شته نه تفریط

نورو امتونو کی مختلف قسم افراط تفریط موجود وو بعضو د مخلوقات باره کی غلو کړی وه او هغوی ته یی د خالق درجه ورکړی وه لکه نصاری و چی د عیسی علیه السلام او خپلو ملایانو باره کی غلو کړی وه

**بعضو د خپلو پیغمبرانو او د هغوی د تابعدارانو سره بی وفایی کړی وه تر دی چی هغوی یی قتل کړی وو د هغوی دعوت یی رد کړی وو لکه یهود چی دوی زکریا او یحی علیه السلام قتل کړی او د عیسی د قتلولو کوشش یی کړی ید**
**هر چی دا امت دی نو په خپل الله او رسول باندی یی ایمان راوړی اګر که پدوی کی بیا ګمراهان پیدا شوی او د نبی علیه السلام د پیشنګونی مطابق دا امت په دری اویا ډلو کی تقسیم شوی دی**

اهل تعطیل ته جهمیه ځکه وایی چی دوی خپل مشر جهم بن صفوان ته منسوب دی چی دا یو ګمراه انسان وو ټولی فتنی دده په وجه په امت کی پیدا شوی دی او دده نسب د یهودی عبدالله بن سبا سره پیوست دی د ټولو نه مخکی دی خبیث د الله تعالی د صفاتو څخه انکار کړی

بیا د اهل تعطیل اسم ټولو جماعتونو ته شامل دی چی دالله د صفاتو نفی کوی لکه فلاسفه معتزله اشعریه قرامطه باطنیه او ددی زمانی ماتریدیه

چی دیوبندیان پنجفریان او بریلویان دی

د افعال عباد باره کی خلکو اختلاف کړی دی چی ایا رب پدی باندی قادر دی که نه ؟

دی باره کی جهم او د هغه ملګری جبریه وایی : د بنده فعل ( کارونه ) ټول د الله په لاس کی دی بنده هیڅ اختیار نلری دوی د مخلوق څخه بالکل اختیار اغستی دی او بنده محض مجبور ګڼړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهور معتزله وایی چی الله تعالی د بنده په افعالو قادر ندی دا ټول کارونه بنده په خپل اختیار سره کوی ګویا کی دوی د الله د قدرت څخه انکار کړی

اهل سنت وایی چی د بنده افعال د الله تعالی مخلوق دی الله د بنده ګانو په افعالو کی تصرف کولی شی په هغی باندی یی مکمل اختیار دی لیکن انسان ته الله تعالي اختیار ورکړی چی هغه په خپل اختیار سره هر څه کوی او بیا الله تعالی چاته سمی لاری ته هدایت کوی او څوک ګمراه کوی

په باب د وعید کی هم اهل سنت والجماعت د اعتدال لاره اختیار کړی ده هغوی وایی کوم خلک چی کافر دی او کفر یی بواح دی هغوی به په جهنم کی همیشه لپاره وی هیڅکله به د جهنم نه راونه وځی البته دی امت کی چی کوم فاسق مسلمانان دی که الله وغواړی هغوی به د ګناه په وجه جهنم ته بوځی او بیا به یی د هغی نه راوباسی نو هغو به په جهنم کی همیشه لپاره نه وی دغه شان دوی په کبیره یا صغیره ګناه باندی د چا تکفیر نه کوی البته بعضی داسی اعمال شته چی هغی ته نواقض الاسلام وایی چی د هغی په وجه انسان ددین نه وځی اګر که هغه به کلمه وایی لکه شرک د کفارو ملګرتیا وغیره وغیره

لیکن پدی باب کی مرجیه کوتاهی کړی ده هغوی وایی د ایمان سره هیڅ ګناه ضرر نه ورکوی بس چی یو کس کلمه ووایی هغه به جنت ته ځی هر څومره د کفر کارونه چی وکړی او وایی چی ایمان صرف د زړه تصدیق ته وایی دوی ته مرجیه ځکه وایی چی ارجا تاخیر ته وایی دوی د ایمان څخه اعمال وروسته کړی دی یعنی چی اعمال په ایمان کی داخل ندی

## امام ابو حنیفه رحمه الله ته د ارجا نسبت ؟

د کوفی بعضی علماو ته دا نسبت شوی چی هغوی مرجیه وو لکه امام ابو حنیفه وغیره ددی وجه داده چی هغوی ویلی دی چی اعمال د ایمان څخه ندی البته هغوی د اهل سنت سره پدی خبره کی موافق دی چی الله تعالی به ګناه ګارو ته په اور سره عذاب ورکوی بیا به یی د شفاعت وغیره په سبب د هغی نه راوباسی لیکن دوی د ایمان لپاره دا شرط ګنړی چی په ژبه سره اقرار وشی او دا هم وایی چی د واجبو اعمالو تارک ته به سزا میلاویږی

نو ددوی دا خبره اګر که بدعت دی چی دوی اعمال د ایمان حصه نه ګنړی لیکن کفر ندی

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسماو نه مراد دلته ددین نومونه دی لکه مسلم کافر مومن فاسق او د احکامو نه مراد ددی نومونو د خلکو دنیوی او اخروی احکام دی

۱ـ حروریه د خوارجو یو جماعت دی کوفی ته نژدی د حرورا په نوم یو ځای دی هغی ته ددوی نسبت شوی دی ځکه کله چی دوی په علی رضی الله عنه باندی خروج وکه نو دی ځای کی راټول شوی وو ددوی په نزد هغه کس مومن دی چی واجبات ادا کوی او د کبایرو نه ځان ساتی وایی ایمان د قول عمل او عقیدی نوم دی لیکن کمیږی او زیاتیږی نه چا چی کبیره گناه وکړه همیشه به جهنم کی وی مثلا د گیری خرونکی ددوی په نزد کافر دی

۲ـ معتزله د واصل بن عطا او عمر بن عبید تابعداران دی دوی ته معتزله پدی وجه وایی چی دوی د حسن بصری د مجلس نه اعتزال کړی وو یعنی جدا شوی وو دوی وایی ایمان د قول عمل او اعتقاد نوم دی نه کمیږی نه زیاتیږی لیکن څوک چی کبیره گناه وکړی هغه ددوی په نزد باندی ددوه مرتبو په مابین کی دی یعنی د ایمان څخه وتلی دی خو په کفر کی ندی داخل شوی نه یی کافر کوی نه ورته مومن وایی (عجیب )

البته دا یی ددوی په نزد په دنیا کی حکم دی او په اخرت کی یی په اور کی همیشه لپاره گنړی

نو خوارج او معتزله په دوه ځایونو کی متفق دی او په دوه کی مختلف

۱ـ د کبیره گناه ارتکاب کونکی څخه د ایمان په نفی کولو کی متفق دی

۲ـ د کبیره گناه مرتکب به د کافرو سره په جهنم کی همیشه وی پدی متفق دی

۳ـ خوارج ورته په دنیا کی کافر وایی لیکن معتزله یی ورته نه وایی پدی کی مختلف دی

۴ـ خوارج یی مال او وینه حلاله گنړی یعنی قتال وسره جایز گنړی او معتزله یی نه گنړی پدی کی هم مختلف دی

## د شیعه گانو پیژندنه

روافض د شیعه گانو یو جماعت دی د علی او اهل بیتو باره کی یی غلو کړی ده او د جمهورو صحابه وو تکفیر یی کړی دی څوک چی صحابه و سره دوستی کوی هغی ته هم کافر وایی روافض ورته پدی وجه وایی چی دوی د زید بن علی بن حسین د خبری نه انکار کړی وو کله چی یی هغه ته وویل د ابو بکر او عمر نه برات وکړه هغه وویل معاذ الله دا دواړه خو زما د نیکه ملگری وو نو دوی ورله د خبری نه انکار وکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا خلک د علی رضی الله عنه په دور خلافت کی د عبدالله بن سبا په مشری کی د جماعت په شکل مینځ ته راغلی وو چی دا یو یهودی دی اسلام یی ښکاره کړی وو چی اسلام او مسلمانان وړنګوی علی رضی الله عنه ته چی کله پته ولګیده چی دا خلک زما باره کی غلو کوی نو په اور یی وسوزل چی فتنه یی ختمه شی او د هغه نه دا شعر هم روایت دی چی فرمایی

**ولَمَّا رَأَيْتُ الأَمْرَ أَمْرًا مُنْكَرًا ... أَجَّجْتُ نَارِي وَدَعَوْتُ قَنْبَرًا**

**کله چی ما دا کار ولیده چی منکر کار دی نو ما اور بل کړ او قنبر مي راغوښته**

ورد هذا الخبر بسند حسَّنه الحافظ ابن حجر في ((الفتح)) (270/12) ، وخبر الإحراق ثابت في ((صحيح البخاري)) عن عكرمة، قال: ((أُتِي عليٌّ رضي الله عنه بزنادقة، فأحرقهم، فبلغ ذلك ابن عباس؛ فقال: لو كنتُ أنا لم أحرقهم؛ لنهي رسول الله – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: ((لا تُعَذِّبوا بعذاب الله)) ، ولقتلتهم؛ لقول رسول الله – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: ((من بدَّل دينه فاقتلوه)) . ((الفتح)) (267/12) ، (كتاب: استتابة المرتدين/باب: حكم المرتد والمرتدة واستتابتهم)) .

وممن روى ذلك: أبو داود، والترمذي، والنسائي، وغيرهم.

وانظر في ذلك بحثًا قيِّمًا في كتاب ((عبد الله بن سبأ وأثره في إحداث الفتنة في صدر الإسلام)) (ص214) لسليمان العودة.

---

هر چی اهل سنت والجماعت دی نو هغوی ددی ټولو فرقو مابین کی د اعتدال په لاره روان دی هغوی ټول صحابه کرام د الله دوستان او جنتیان ګڼړی د صحابه وو سره هیڅ قسم دشمنی نه کوی نه د هغوی تکفیر کوی او نه د خوارجو پشان د اهل بیت سره دشمنی ساتی بلکی د ټولو صحابه و باره کی ددوی عقیده داده چی د هغو نه الله راضی دی او هغو ی د الله نه راضی وو په صحابه وو کی د افضلیت په اعتبار سره اول ابو بکر بیا عمر بیا عثمان بیا علی ګڼړی او د هغوی مابین کی چی کوم جنګونه او اختلافات واقع شوی دی د هغی نه بحث نه کوی

## پینځم فصل

## په ایمان بالله کی دا هم داخلیږی چی الله تعالی د وه اسمانونو دپاسه په عرش باندی دی

## متن:

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَصْلٌ: وَقَدْ دَخَلَ فِيمَا ذَكَرْنَاهُ مِنَ الإِيمَانِ بِاللهِ الإِيمَانُ بِمَا أَخْبَرَ اللهُ بِهِ فِي كِتَابِهِ، وَتَوَاتَرَ عَن رَّسُولِهِ، وَأَجْمَعَ عَلَيْهِ سَلَفُ الأُمَّةِ؛ مِنْ أَنَّهُ سُبْحَانَهُ فَوْقَ سَمَاوَاتِهِ، عَلَى عَرْشِهِ، عَلِيٌّ عَلَى خَلْقِهِ، وَهُوَ سُبْحَانَهُ مَعَهُمْ أَيْنَمَا كَانُوا، يَعْلَمُ مَا هُمْ عَامِلُونَ؛ كَمَا جَمَعَ بَيْنَ ذَلِكَ فِي قَوْلِهِ: {هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ} ، وَلَيْسَ مَعْنَى قَوْلِهِ: {وَهُوَ مَعَكُمْ} أَنَّهُ مُخْتَلِطٌ بِالْخَلْقِ؛ فَإِنَّ هَذَا لاَ تُوجِبُهُ، اللُّغَةُ، بَلِ الْقَمَرُ آيَةٌ مِنْ آيَاتِ اللهِ مِنْ أَصْغَرِ مَخْلُوقَاتِهِ، وَهُوَ مَوْضُوعٌ فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ مَعَ الْمُسَافِرِ وَغَيْرُ الْمُسَافِرِ أَيْنَمَا كَانَ. وَهُوَ سُبْحَانَهُ فَوْقَ عَرْشِهِ، رَقِيبٌ عَلَى خَلْقِهِ، مُهَيْمِنٌ عَلَيْهِمْ، مُطَّلِعٌ عَلَيْهِم إِلَى غَيْرِ ذَلِكَ مِن مَّعَانِي رُبُوبِيَّتِهِ. وَكُلُّ هَذَا الْكَلامِ الَّذِي ذَكَرَهُ اللهُ ـ مِنْ أَنَّهُ فَوْقَ الْعَرْشِ وَأَنَّهُ مَعَنَا ـ حَقٌّ عَلَى حَقِيقَتِهِ، لاَ يَحْتَاجُ إِلَى تَحْرِيفٍ، وَلَكِنْ يُصَانُ عَنِ الظُّنُونِ الْكَاذِبَةِ؛ مِثْلِ أَنْ يُظَنَّ أَنَّ ظَاهِرَ قَوْلِهِ: {فِي السَّمَاءِ} ، أَنَّ السَّمَاءَ تُظِلُّهُ أَوْ تُقِلُّهُ، وَهَذَا بَاطِلٌ بِإِجْمَاعِ أَهْلِ الْعِلْمِ وَالإِيمَانِ؛ فَإِنَّ اللهَ قَدْ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، وَهُوَ يُمْسِكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ أَنْ تَزُولاَ، وَيُمْسِكُ السَّمَاءَ أَنْ تَقَعَ عَلَى الأَرْضِ؛ إِلاَّ بِإِذْنِهِ، وَمَنْ آيَاتِهِ أَنْ تَقُومَ السَّمَاءُ وَالأَرْضُ بِأَمْرِهِ.

فَصْلٌ: وَقَد دَّخَلَ فِي ذَلِكَ الإِيمَانُ بِأَنَّهُ قَرِيبٌ مُجِيبٌ؛ كَمَا جَمَعَ بينَ ذَلِكَ فِي قَوْلِهِ: {وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ... } الآيَة، وَقَوْلِهِ ﷺ: ((إِنَّ الَّذِي تَدْعُونَهُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُم مِّن عُنقِ رَاحِلَتِهِ)) . وَمَا ذُكِرَ فِي الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ مِنْ قُرْبِهِ وَمَعِيَّتِهِ لاَ يُنَافِي مَا ذُكِرَ مِنْ عُلُوِّهِ وَفَوْقِيَّتِهِ؛ فَإِنَّهُ سُبْحَانَهُ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ فِي جَمِيعِ نُعُوتِهِ، وَهُوَ عَلِيٌّ فِي دُنُوِّهِ، قَرِيبٌ فِي عُلُوِّهِ.

وَقَد دَّخَلَ أَيْضًا فِيمَا ذَكَرْنَاهُ مِنَ الإِيمَانِ بِهِ وَبِكُتُبِهِ وَبِمَلاَئِكَتِهِ وَبِرُسُلِهِ: الإِيمَانُ بِأَنَّ الْمُؤْمِنِينَ يَرَوْنَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَيَانًا بِأَبْصَارِهِمْ كَمَا يَرَوْنَ الشَّمْسَ صَحْوًا لَيْسَ بِهَا سَحَابٌ، وَكَمَا يَرَوْنَ الْقَمَرَ لَيْلَةَ الْبَدْرِ لاَ يُضَامُونَ فِي رُؤْيَتِهِ. يَرَوْنَهُ سُبْحَانَهُ وَهُمْ فِي عَرَصَاتِ الْقِيَامَةِ، ثُمَّ يَرَوْنَهُ بَعْدَ دُخُولِ الْجَنَّةِ؛ كَمَا يَشَاءُ اللهُ تَعَالَى

## ترجمه:

مخکې چې ايمان بالله باره کې مونږ کوم تفصيل ذکر کړ د هغې خلاصه داده

د هغه صفاتو منل چې الله تعالى په خپل کتاب کې بيان کړی دی يا د نبی عليه السلام څخه ثابت دی يا پری امت اجماع کړی ده

د هغې څخه دا هم ده چې الله تعالى د وه اسمانونو نه بره په عرش باندی دی په ټولو مخلوقاتو اوچت دی

او هغه د مخلوق سره وی هر ځای چې هغوی وی او ددوی په اعمالو باندی عالم دی

لکه الله ددی وضاحت پدی قول کې کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث ۴ راوړه

البته د هو معکم معنی دا نده چی الله د مخلوق سره مختلط یو ځای دی ځکه پدی تاویل باندی لغت دلالت نکوی

بل دا د سلفو د اجماع خلاف دی

د هغه فطرت هم خلاف دی چی الله تعالی پری مخلوق پیدا کړی دی

ځکه چی سپوږمی د الله تعالی د نشاناتو څخه یو نشان دی او د الله په وړو مخلوقات کی ددی شمار کیږی او هغه د مسافر او غیر مسافر سره روانه وی هر چیرته چی ځی حالانکه هغه په اسمان کی ده

دغه شان الله تعالی د عرش دپاسه دی لیکن د خپل مخلوق څارنه کوی د هغوی اعمال ورته معلوم دی وغیره وغیره څومره د ربوبیت صفات چی دی

او دا ټولی خبری چی الله تعالی ذکر کړی دی چی هغه د عرش دپاسه دی او زمونږ سره دی دا ټول حقیقت دی هیڅ تحریف ته حاجت نلری البته د الله تعالی باره کی به د بد ګمانونو نه ځان ساتلی شی

## شپږم فصل

په ایمان بالله کی دا هم داخلیږی چی الله تعالی خپل مخلوق ته نژدی دی

پدی کی دا هم داخل ده چی الله تعالی خپل مخلوق ته انتهایی نژدی دی د هغوی دعا قبلوی لکه ددی وضاحت الله پدی قول کی کړی دی

کله چی زما بنده ګان ستا نه زما باره کی پوښتنه وکړی نو بیشکه زه نژدی یم د دعاکونکی دعا قبلوم کله چی زما نه دعا وکړی پس دوی دی زما خبره ومنی ما باندی دی ایمان راوړی شاید چی دوی هدایت مونده کړی

او دا قول د نبی کریم ﷺ کوم رب چی تاسو ترینه دعا کوی ستاسو یو تن ته د هغه د سورلی د څټ نه ډیر نژدی دی

لیکن قران او حدیث کی چی د الله قرب او معیت ذکر شوی دی دا د الله د فوقیت اوعلو سره منافی ندی ځکه چی د الله تعالی سره په ټولو صفاتو کی هیڅ شی مماثلت نکوی هغه د نژدی والی باوجود اوچت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم باب: په الله د هغه په کتابونو او رسولانو باندی ایمان

دی کی دوه فصله دی

اولنی فصل : ددی تصدیق کول چی قران د الله کلام دی د هغه د طرفه نازل شوی او مخلوق ندی

دویم فصل : ددی تصدیق چی مومنان به د قیامت په ورځ خپل رب لره وینی

## اولنی فصل

## ددی تصدیق کول چی قران د الله کلام دی د هغه د طرفه نازل شوی او مخلوق ندی

### متن:

وَمِنَ الإِيمَانِ باللهِ وَكُتُبِهِ الإيمانُ بِأَنَّ الْقُرْآنَ كَلامُ اللهِ، مُنَزَّلٌ، غَيْرُ مَخْلُوقٍ، مِنْهُ بَدَأَ، وَإِلَيْهِ يَعُودُ، وَأَنَّ اللهَ تَكَلَّمَ بِهِ حَقِيقَةً، وَأَنَّ هَذَا الْقُرْآنَ الَّذِي أَنْزَلَهُ عَلَى مُحَمَّدٍ ﷺ هُوَ كَلامُ اللهِ حَقِيقَةً، لاَ كَلامَ غَيْرِهِ. وَلا يَجُوزُ إِطْلاقُ الْقَوْلِ بِأَنَّهُ حِكَايَةٌ عَنْ كَلاَمِ اللهِ، أَوْ عِبَارَةٌ؛ بَلْ إِذَا قَرَأَهُ النَّاسُ أَوْ كَتَبُوهُ فِي الْمَصَاحِفِ؛ لَمْ يَخْرُجْ بِذَلِكَ عَنْ أَنْ يَكُونَ كَلامَ اللهِ تَعَالَى حَقِيقَةً، فَإِنَّ الْكَلاَمَ إِنَّمَا يُضَافُ حَقِيقَةً إِلَى مَنْ قَالَهُ مُبْتَدِئًا، لاَ إِلَى مَنْ قَالَهُ مُبَلِّغًا مُؤَدِّيًا. وَهُوَ كَلامُ اللهِ؛ حُرُوفُهُ، ومَعَانِيهِ؛ لَيْسَ كَلامُ اللهِ الْحُرُوفَ دُونَ الْمَعَانِي، وَلاَ الْمَعَانِيَ دُونَ الْحُرُوفِ.

### ترجمه:

په الله تعالی او د هغه په کتابونو باندی د ایمان څخه دا هم ده چی ددی خبری تصدیق وشی چی قران د الله کلام د هغه له طرفه نازل شوی او غیر مخلوق دی

د الله څخه یی ابتدا شوی ده او هغه ته به ورګرځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او الله تعالی په حقیقت کی پدی سره تکلم کړی دی

او دا قران چی الله تعالی په خپل نبی محمد ﷺ باندی نازل کړی دی همدا په حقیقت کی د الله کلام دی نه دا چی د بل چا کلام دی

لهذا داسی ویل چی قران د الله تعالی د کلام نه حکایت دی یا د هغی نه عبارت دی

قطعا جایز ندی

بلکی د خلکو په لوستلو یا په مصاحفو کی په لیکلو سره دا د کلام الله ددایری څخه نه خارجیږی ځکه په حقیقت کی د کلام اضافت هغه چاته کیږی چی په ابتدای طور سره یی کړی وی نه هغه چاته یی اضافت کیږی چی خلکو ته یی رسولی وی

نو قران د الله کلام ددی دد حروف او معانی هر څه د الله له طرفه دی

او د معانو نه بغیر صرف حروف دالله کلام ندی نه دا چی د کلام نه مراد صرف معانی دی نه حروف

## شرح:

ددی عبارت معنی ((مِنْهُ بَدَأَ وَإِلَيْهِ يَعُودُ)) ؛
چی قران د الله نه شروع شوی دی او هغه ته به ورګرځی

ددی دوه معانی دی

۱ـیعنی الله تعالی پدی سره په ابتدا کی تکلم کړی دی الله تعالی پدی باندی شروع کړی په پل څه نه

۲ـ دا د بدو نه دی په معنی د ظهور یعنی الله تعالی پدی سره کلام کړی او دا د الله نه ظاهر شوی دی د بل چا نه نه

د الیه یعود معنی یعنی الله تعالی ته ددی وصف ورګرځی ځکه قران د الله تعالی کلام دی چی د هغه ذات سره قایم دی

۲ـ دا هم ویل شوی چی په اخیری زمانی کی به الله ته قران ورګرځی کله چی مصحفونه ختم شی او قران د خلکو د سینو نه اوچت کړی شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم فصل پدی ایمان ...

## متن:

**وَقَد دَّخَلَ أَيْضًا فِيمَا ذَكَرْنَاهُ مِنَ الإِيمَانِ بِهِ وَبِكُتُبِهِ وَبِمَلاَئِكَتِهِ وَبِرُسُلِهِ: الإِيمَانُ بِأَنَّ الْمُؤْمِنِينَ يَرَوْنَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَيَانًا بِأَبْصَارِهِمْ كَمَا يَرَوْنَ الشَّمْسَ صَحْوًا لَيْسَ بِهَا سَحَابٌ، وَكَمَا يَرَوْنَ الْقَمَرَ لَيْلَةَ الْبَدْرِ لاَ يُضَامُونَ فِي رُؤْيَتِهِ. يَرَوْنَهُ سُبْحَانَهُ وَهُمْ فِي عَرَصَاتِ الْقِيَامَةِ، ثُمَّ يَرَوْنَهُ بَعْدَ دُخُولِ الْجَنَّةِ؛ كَمَا يَشَاءُ اللهُ تَعَالَى.**

## ترجمه:

په ایمان بالله د هغه په کتابونو او رسولانو باندی ایمان راوړلو کی دا هم شامليږی چی ددی تصدیق وشی چی مومنان به د قیامت په ورځ الله تعالی لره په خپلو سترګو باندی وینی لکه څنګه چی د چاشت په وخت کی نمر لیدلی کیږی کله چی وریځ نه وی او لکه څنګه چی دوی پینځلسمه سپوږمی وی چی په لیدلو کی یو بل له تیل نه ورکوی

دوی به د قیامت په میدان کی وی او الله ته به ګوری

بیا چی کله جنت ته داخل شی نو کله چی الله غوښتل دوی به یی وینی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم باب

# د قیامت په ورځ باندی ایمان راوړل

پدی کی دوه فصلونه دی

اولنی فصل

په د مرګ نه پس په هغه ټولو خبرو یقین کول چی نبی علیه السلام بیان کړی دی

دویم فصل : ستر قیامت او د هغی سختیانی

اولنی فصل ...

## متن:

**فَصْلٌ: وَمِنَ الإِيمَانِ بِالْيَوْمِ الآخِرِ الإِيمَانُ بِكُلِّ مَا أَخْبَرَ بِهِ النَّبِيُّ ﷺ مِمَّا يَكُونُ بَعْدَ الْمَوْتِ، فَيُؤْمِنُونَ بِفِتْنَةِ الْقَبْرِ، وَبِعَذَابِ الْقَبْرِ وَنَعِيمِهِ. فَأَمَّا الْفِتْنَةُ؛ فَإِنَّ النَّاسَ يُمْتَحَنُونَ فِي قُبُورِهِمْ، فَيُقَالُ للرّجُلِ: مَن رَّبُّكَ؟ وَمَا دِينُكَ؟ وَمَن نَّبِيُّك؟ فيُثَبِّتُ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ، فَيَقُولُ الْمؤْمِنُ: رَبِّيَ اللهُ، وَالإِسْلاَمُ دِينِي، وَمُحَمَّدٌ ﷺ نَبِيِّي. وَأَمَّا الْمُرْتَابُ؛ فَيَقُولُ: هَاه هَاه؛ لاَ أَدْري، سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ شَيْئًا فَقُلْتُهُ، فَيُضْرَبُ بِمِرْزَبَةٍ مِنْ حَدِيدٍ، فَيَصِيحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا كُلُّ شَيْءٍ؛ إلاَّ الإِنْسَانَ، وَلَوْ سَمِعَهَا الإِنْسَانُ؛ لَصُعِقَ. ثُمَّ بَعْدَ هّذِهِ الْفِتْنَةِ إِمَّا نَعِيمٌ وَإِمَّا عَذَابٌ، إِلَى أَنْ تَقُومَ الْقِيَامَةُ الْكُبْرى، فَتُعَادُ الأَرْوَاحُ إِلَى الأَجْسَادِ.**

## ترجمه:.

په اخرت باندی د ایمان څخه داده چی په هغه ټولو خبرو یقین کول چی د مرګ نه پس واقع کیږی او نبی علیه السلام یی خبر ورکړی دی

نو مسلمانان به په عذاب قبر او د هغه په نعمتونو باندی یقین کوی

د قبر د فتنه نه مراد : دادی چی په قبرونو کی د خلکو امتحان اغستلی شی

یو کس ته ویل کیږی ستا رب څوک دی ؟

ستا دین څه دی ؟ ستا نبی څوک دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو الله تعالی مومنانو لره په دنیا او اخرت کی په قول ثابت سره ثابت قدمه کرځوی

نو مومن پدی وخت کی وایی: زما رب الله دی دین می اسلام دی او نبی می محمد ﷺ دی

هر چی کافر دی هغه به وایی : اه اه ما ته پته نشته خلکو نه می څه خبری اوریدلی نو ما هم وویلی

نو د وسپنی په یو بنی سره به ووهلی شی داسی چغه به وکړی چی هر شی به یی اوری مګر انسان که انسان واوریدله نو بی هوشه به شی

دویم فصل

بیا به ددی عذاب نه پس تر قیامته پوری یا نعمتونه وی یا عذابونه

ارواح به بدنونو ته راواپس کړی شی

# شرح:

بعضی غیبی امور چی د هغی باره کی نبی علیه السلام امت ته خبر ورکړی دی هغی باندی ایمان او یقین د ایمان یوه مهمه حصه ده او ددی غیبی امورو نه یو د قبر عذاب هم دی لیکن معتزله او فلاسفه او ددی زمانی منکرین حدیث د قبر عذاب نه منی او دی باره کی د صحیح احادیثو څخه انکار کوی پدی دلیل چی عقل دا خبره نه منی دوی خپل عقل له په ثابت نصوصو باندی ترجیح ورکوی او کوم شی چی عقل سره معارض وی هغه نه منی اګر که په قران او سنت سره ثابت وی لیکن ددوی عقلونه فاسد شوی دی ځکه عقل صحیح کله هم د نقل صحیح سره تعارض نکوی لکه دی خبری ته شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله بار باره اشاره کړی ده

د قبر د عذاب باره کی دلایل ډیر زیات دی د هغی نه د نبی علیه السلام دا قول

) ، **وَقَوْلُهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: ((الْقَبْرُ إِمَّا رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ، أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ))**

**قبر به یا د جنت باغیچه وی یا به د اور کنده وی**

(ضعيف) . رواه الترمذي في صفة القيامة (160/7–تحفة) ، قال الهيثمي في ((مجمع الزوائد)) (46/3) : ((رواه الطبراني في ((الأوسط)) ، وفيه محمد بن أيوب بن سويد، وهو ضعيف)) . اهـ
وقال ابن حجر في ((تخريج الكشاف)) (ص35) (رقم291) : ((رواه الترمذي من حديث أبي سعيد، وهو ضعيف)) . اهـ
وقد ضعّفه من قبله شيخ العراقي في ((تخريج الإحياء)) (302/1) .
وضعّف إسناده كلٌ من السخاوي في ((المقاصد الحسنة)) (ص302 رقم758) ، والهندي في ((تذكرة الموضوعات)) (ص216) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



والحديث ضعَّفه الألباني في ((ضعيف الجامع)) (1231) ، والأرناؤوط في ((جامع الأصول)) (8696) .

## د قبر باره کی د منکرین حدیث د یوی شبهی جواب .

د منکرین حدیث یو اعتراض دادی چی که د قبر عذاب ومنل شی نو دینه دری زندګیانی او دری مرګونه لازمیږی حالانکه قران کی ددوه مرګونو او زندګیانو ذکر دی لکه الله تعالی فرمایی

او دوی به وایی ای زمونږ ربه تا مونږ دوه ځله ژوندی او دوه ځله مړه کړو

ددی جواب دادی چی قران کی ډیر داسی واقعات دی چی هغی کی دا ذکر ده چی مړی دوباره ژوندی شوی دی

لکه د عیسی علیه السلام په لاس د مړو راژوندی کیدل

په سورت بقره کی د عزیر علیه السلام او د هغه د خر راژوندی کیدل او د څلور مرغانو د ژوند تذکره

نو ایا دا دریمه زندګی ده

البته دا صحیح ده چی قران کی داشته چی د قیامت نه مخکی د خلکو دوباره راژوندی کیدل ممکن ندی او نه کوم مسلمان دا عقیده لری

نیزکه د اهل قبور لپاره د دنیا او د اخری د زندګی مابین کی یوه زندګی تسلیم کړی شی نو دی کی څه حرج دی؟

ثبوت پدی ایت کی دی

**{قَالُوا: يَا وَيْلَنَا مَنْ بَعَثَنَا مِنْ مَرْقَدِنَا} [يس: 52]**

**هغوی به وایی افسوس مونږ چا د خپلو قبرونو نه راپاځولو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رقود خوب او مرقد د خوب ځای ته وایی ددی نه معلومه شوه چی قبرکی د مړی کیفیت د خوب والا پشان وی دی کی د زندګی پوره احساس او د مرګ مکمل بی حسی نه وی بلکی دا یو بین بین کیفیت دی

پدی بحث کی یو ضمنی سوال دا هم دی چی د قیامت نه مخکی بدله اغستل د انصاف خلاف دی

ددی جواب دادی چی که د قیامت نه مخکی د بدلی اغستل تسلیم نکړی شی نو دا سوال پیدا کیږی الله تعالی د قیامت نه مخکی په دنیا کی هغه بدو قومونو ته ولی سزا ورکړه ؟

نبی کریم ﷺ فرمایلی دی د چا سره چی حساب وکړی شو نو عذاب به ورکړی شی نو عایشی رضی الله عنها پوښتنه وکړه ای د الله رسول ﷺ ایا الله ندی فرمایلی چی د هغه سره به اسان حساب وکړی شی هغه وفرمایل دغه هسی پیشی ده لیکن د چا سره چی حساب کتاب وشو نو هلاک شو

(3) رواه البخاري في العلم، (باب: من سمع شيئًا فراجعه حتى يعرفه) (197/1–فتح) ، وفي التفسير، وفي الرقاق، ومسلم في الجنة، (باب: إثبات الحساب) (213/17–نووي) ، وأبوداود، والترمذي.

**(مَن نوقِشَ الحِسَابَ عُذِّب))** .
**فَقَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَوَلَيْسَ اللَّهُ يَقُولُ: {فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا}** ؟
**فَقَالَ: ((إِنَّمَا ذَلِكَ الْعَرْضُ، وَلَكِنْ مَن نُوقِشَ الْحِسَابَ يَهْلِكْ))** (

## متن:

**وَتَقُومُ الْقِيَامَةُ الَّتِي أَخْبَرَ اللهُ بِهَا فِي كِتَابِهِ، وَعَلَى لِسَانِ رَسُولِهُ، وَأَجْمَعَ عَلَيْهَا الْمُسْلِمُونَ. فَيَقُومُ النَّاسُ مِنْ قُبُورِهِمْ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلاً، وَتَدْنُو مِنْهُمُ الشَّمْسُ، وَيُلْجِمُهُمُ الْعَرَقُ. فَتُنْصَبُ الْمَوَازِينُ، فَتُوزَنُ بِهَا أَعْمَالُ الْعِبَاد، {فَمَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ – وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُوْلَئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ فِي جَهَنَّمَ خَالِدُونَ}** . **وَتُنْشَرُ الدَّوَاوِينُ، وَهِيَ صَحَائِفُ الأَعْمَالِ، فَآخِذٌ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ، وآخِذٌ كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ أَوْ مِنْ وَّرَاءِ ظَهْرِهِ؛ كَمَا قَالَ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى: {وَكُلَّ إِنسَانٍ أَلْزَمْنَاهُ طَآئِرَهُ فِي عُنُقِهِ وَنُخْرِجُ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كِتَابًا يَلْقَاهُ مَنشُورًا – اقْرَأْ كَتَابَكَ كَفَى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا}** .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَيُحَاسِبُ اللهُ الخَلائِقَ، وَيَخْلُو بِعَبْدِهِ الْمُؤْمِنِ، فَيُقَرِّرُهُ بِذُنُوبِهِ؛ كَمَا وُصِفَ ذَلِكَ فِي الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ. وَأَمَّا الْكُفَّارُ؛ فَلا يُحَاسَبُونَ مُحَاسَبَةَ مَنْ تُوزَنُ حَسَنَاتُهُ وَسَيِّئَاتُهُ؛ فَإِنَّهُ لاَ حَسَنَاتَ لَهُمْ، وَلَكِنْ تُعَدُّ أَعْمَالُهُمْ، فَتُحْصَى، فَيُوقَفُونَ عَلَيْهَا وَيُقَرَّرُونَ بِهَا

## ترجمه:.

او هغه قيامت به نافذ شي چي الله تعالى د هغي بيان په خپل كتاب كي كړی دی یا د خپل نبي په ژبي سره كړی دی او د مسلمانانو په هغي اجماع ده

نو خلک به د قبرونو نه رب العالمين ته پداسي حالت كي راپاڅيږی چي پښيبله لغړ به وی يو لفظ پاتی شو

هغوی ته به نمر رانژدی شي ښولی به پری راروانی شي ترازوګانی به نصب کړی شي او په هغی کی به د بندګانو اعمال وتللی شی

نو د چا ترازو چی درنه شوه همدا خلک يقينا کامياب شول او د چا ترازو چی سپکه شوه نو دا هغه خلک دی چی ځانونه يی تاوانيان کړل او په جهنم کی به هميشه لپاره وی

د اعمالو صحايف به کولاو کړی شی څوک به خپلی عمل نامی لره په ښی لاس باندی نيونکی وی او څوک په چپ لاس او بعضو به خپله عمل نامه شاته نيولی وی

لکه الله تعالی فرمايلی دی او هر انسان ته ..او د قيامت په ورځ به ورته مونږ عمل نامه راوباسو چی کولاو به يی ووينی ورته وبه ويل شی ولوله خپلی عمل نامی لره نن ورځ د خپل ځان د حساب کتاب لپاره ته پخپله بس يی

او الله تعالی به د مخلوق سره حساب کتاب وکړی

**3**

مومن بنده به جدا کړی د ګناهونو اقرار به تر واخلی

لکه ددی خبری بيان په قران او سنت کی موجود دی

د کفارو حساب به د هغه کسانو پشان نه کيږی چی د هغوی ګناهونه او نيکی تللی کيږی بلکی د هغوی نيکی خو به د سره وی نه البته د هغوی اعمال به وشمارلی شی بيا به هغوی ودرولی شی او د هغی اقرار به تر واغستلی شی او د هغی مطابق سزا به ورته مقرره کړی شی

(c) ketabton.com: The Digital Library


# شرح :

**قیامت په دوه قسمه دی ۱. قیامت صغری ددی نه مراد مرګ دی ځکه څوک چی مړ شی نو قیامت پری نافذ شو لکه حدیث کی دی نبی علیه السلام فرمایی**
((مَنْ مَاتَ فَقَدْ قَامَتْ قِيَامَتُهُ)) (2) **.څوک چی مړ شو نو قیامت یی نافذ شو**

(2) (ضعيف مرفوعًا) . ضعّفه العراقي في ((تخريج الإحياء)) (64/4) ، وعزاه لابن أبي الدنيا في كتاب ((الموت)) ؛ من حديث انس.

ووافقه الألباني في ((السلسلة الضعيفة)) (1166) .

وقال مؤلف ((تبييض الصحيفة)) (ص128) :

((روى الدولابي في الكنى والأسماء)) (89/2) عن المغيرة؛ قال: ((يقولون القيامة، القيامة، وإنما قيامة أحدكم موته)) ، وإسناده حسن)) . اهـ.

ثم ذكر رواية عن عمر بن عبد العزيز في ((الحلية)) (325/5) أنه قال:

((فإنه مَن وافته منيته؛ فقد قامت قيامته)) .

**بیا د قیامت قصه داسی ده چی کله الله ددی دنیا د ختمولو اراده وکړه نو اسرافیل ته به امر وکړی چی په شپیلی کی پوک وکړی نو په اول ځل پوک سره به په ځمکه او اسمانونو کی موجود ټول مخلوقات بی هوشه شی مګر هغه چی الله یی غواړی ځمکه به هواره شی او غرونه به زره زره شی بیا به الله تعالی اسمان ته حکم وکړی نو د خلکو د منی پشان څلویښت ورځی باران به وشی د هغی په وجه به ټول خلک د قبرونو نه رازرغون شی چی دوی به د لکه منی نه دوباره خپل شکل اختیار کړی ځکه په قبر کی ټول انسان خاوره کیږی مګر لکه منی یی پاتی وی**

يشير لما رواه البخاري في ((التفسير)) (باب: {وَنُفِخَ فِي الصُّورِ} ) (551/8–فتح) ، ومسلم في الفتن، (باب: ما بين النفختين) (303/18–نووي) ، وأبو داود، والنسائي؛ من حديث أبي هريرة بألفاظ متقاربة.

**چی کله دوی راژوندی شی او خپل شکلونه اختیار کړی نو الله به اسرافیل ته ددویمی شپیلی حکم وکړی نو خلک به د قبرونو نه رابیدا شی کافر به وایی**

{يَا وَيْلَنَا مَن بَعَثَنَا مِن مَّرْقَدِنَا} ، افسوس چا مونږ **د خپل قبرونو نه راپاڅولو او مومنان به وایی دا هغه څه دی چی الله یی مونږ سره وعده کړی وه او رسولانو ریښتیا ویلی وو**

{هَذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمَنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُونَ}

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیا به ملایکی پداسی حال کی یو ځای ته راټولی کړی شی چی څېړی به یی نه وی په غاړه به یی لباس نه وی بی سنته به وی سنت کړی شوی به نه وی د ټولو نه مخکی به ابراهیم علیه السلام ته جامی ورواغوستلی شی**

يشير إلى حديث ابن عباس عن رسول الله – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –:

((إن أول الخلائق يكسى يوم القيامة إبراهيم الخليل)) .

رواه البخاري في الرقاق، (باب: الحشر) (377/11–فتح) .

(*) قال مُعِدّ الكتاب للشاملة: علّق الشيخ عبد الرزاق عفيفي في طبعة الجامعة الإسلامية [ص 131] بقوله: ((ويؤيد ذلك قوله تعالى من الآية 56 سورة الروم: {وقال الذين أوتوا العلم والإيمان} الآية.))

نمر به خلکو ته رانژدی شی او ټول به په خولو کی ډوب شی بعضی به د مری پوری په خولو کی ډوب وی بعضی به د سینی پوری او بعضی د زنګونونو پوری بعضی د ګیټو پوری هر څوک به د خپل عمل مطابق په خولو کی ډوب وی

**نو کله چی ډیره سخته شوه دوی به د پیغمبرانو نه شفاعت طلب کړی چی الله ته سفارش وکړی او مونږ ددی عذاب نه خلاص کړی هو هر پیغمبر به وایی زه سفارش نشم کولی فلانی ته لاړ شی تر دی چی خبره به محمد ﷺ ته راورسیږی هغه به ووایی زه دا سفارش کوم نو نبی علیه السلام به سفارش وکړی بیا به د خلکو مابین کی حساب کتاب شروع شی**

**بیا به د هر چا اعمال وتلل شی او هر کس ته به خپله عمل نامه په لاس کی ورکړی شی کافر به جهنم ته او مومنان به جنت ته لاړ شی**

**<u>متن:</u>** وَفِي عَرَصَاتِ الْقِيَامَةِ الْحوضُ الْمَوْرُودُ لِلنَّبِيِّ ﷺ، ماؤُه أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ، آنِيَتُهُ عَدَدُ نُجُومِ السَّمَاءِ، طُولُهُ شَهْرٌ، وَعَرْضُهُ شَهْرٌ، مَن يَّشْرَبُ مِنْهُ شَرْبَةً؛ لاَ يَظْمَأُ بَعْدَهَا أَبَدًا.

وَالصِّرَاطُ مَنْصُوبٌ عَلَى مَتْنِ جَهَنَّمَ، وَهُوَ الْجِسْرُ الَّذِي بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، يَمُرُّ النَّاسُ عَلَيْهِ عَلَى قَدْرِ أَعْمَالِهِمْ، فَمِنْهُمْ مَنْ يَمُرُّ كَلَمْحِ الْبَصَرِ، وَمِنْهُم مَن يَمُرُّ كَالْبَرْقِ، وَمِنْهُم مَن يَمُرُّ كَالرِّيحِ، ومِنْهُم مَن يَمُرُّ كَالْفَرَسِ الْجَوَادِ، وَمِنْهُم مَن يَمُرُّ كَرِكَابِ الإِبِلِ، ومِنْهُم مَن يَعْدُو عَدْوًا، وَمِنْهُم مَن يَمْشِي مَشْيًا، وَمِنْهُم مَن يَزْحَفُ زَحْفًا، وَمَنْهُم مَن يُخْطَفُ خَطْفًا وَيُلْقَى فِي جَهَنَّمَ؛ فَإِنَّ الْجِسرَ عَلَيْهِ كَلاَلِيبُ تَخْطِفُ النَّاسَ بِأَعْمَالِهِم، فَمَنْ مَرَّ عَلَى الصِّرَاطِ؛ دَخَلَ الْجَنَّةَ. فَإِذَا عَبَرُوا عَلَيْهِ؛ وَقَفُوا عَلَى قَنْطَرَةٍ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، فَيُقْتَصَّ لِبَعْضِهِم مِن بَعْضٍ، فَإِذَا هُذِّبُوا وَنُقُّوا؛ أُذِنَ لَهُمْ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ.

وَأَوَّلُ مَن يَسْتَفْتِحُ بَابَ الْجَنَّةِ مُحَمَّدٌ ﷺ، وَأَوَّلُ مَن يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنَ الأُمَمِ أُمَّتُهُ.

## <u>ترجمه:</u>

د قیامت په میدان کی به حوض کوثر یی چی په هغی کی به د نبی علیه السلام سره ملاقات کیږی

د دی اوبه د پیو څخه ډیری سپینی او د شهدو څخه ډیری بنوری دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوخو تعداد به یی د اسمان د ستورو په مقدار دی

اوږد والی یی یو میاشت دی پلن والی یی هم یو میاشت دی

چا چی ترینه یو ګوټ اوبه وڅکښلی هیڅ کله به تږی نه شی

د ټولو نه مخکی به نبی علیه السلام د جنت دروازه کولاو کړی او په ټولو امتونو کی به دنبی علیه السلام امت اول کی جنت ته داخل شی

پل صراط د جهنم په شاه باندی ولاړ دی او دا هغه پل دی چی د جنت او اور مابین کی دی خلک پدی باندی د خپلو اعمالو مطابق تیریږی بعضی د سترګی په رپ سره تیریږی بعضی د بجلی د پړق پشان تیریږی او بعضی د هوا د تیزوالی پشان تیریږی بعضي د اس د مزل پشان تیریږی بعضی د اوښ په مزل بعضی هسی په عامه منده باندی بعضی په عام تګ سره بعضی په قلاره تګ سره بعضی به راونیولی شی او په جهنم کی به ګوزار کړی شی ځکه د پل دپاسه به کلالیب وی چی خلک به د اعمالو په وجه تختوی نو څوک چی په پل باندی تیر شوی جنت ته به داخل شی کله چی پدی باندی خلک تیر شی نو د جنت او جهنم مابین به ودرولی شی او یو بل نه قصاص واغستلی شی نو کله چی ښه صفا کړی شول د جنت د ننوتلو اجازت به ورته وشی

## شرح:

د حوض کوثر د ثبوت باره کی احادیث د تواتر حد ته رسیږی چی ۳۰ صحابه کرامو دا روایت کړی دی

او بیا هر نبی ته الله تعالی حوض ورکړی دی لیکن زمونږ د نبی علیه السلام حوض د هر یو نه بهتر دی

لکه حدیث کی راځی د هر نبی لپاره حوض شته دی

((إِنَّ لِكُلِّ نبِيٍّ حَوْضًا)) (1)

(1) (حسن أو صحيح) . روى الترمذي في صفة القيامة، (باب ما جاء في صفة الحوض) (133/7–تحفة) عن الحسن عن سمرة مرفوعًا:

---

یو موقوف حدیث کی راځی چی دا پل به د ویښته نه نری وی او د توری نه به تیز وی

(لم يصحَّ مرفوعًا) . لذلك قال البيهقي في ((شعب الإيمان)) (247/2)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## متن:

وَلَه ﷺ فِي الْقِيَامَةِ ثَلاثُ شَفَاعَاتٍ: أَمَّا الشَّفَاعَةُ الأُوْلَى؛ فَيَشفَعُ فِي أَهْلِ الْمَوْقِفِ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَهُمْ بَعْدَ أَنْ يَتَرَاجَعَ الأَنْبِيَاءُ؛ آدَمُ، وَنُوحٌ، وَإِبْرَاهِيمُ، وَمُوسَى، وَعِيسى ابْنُ مَرْيَمَ عَنِ الشَّفَاعَةِ حَتَّى تَنْتَهِيَ إِلَيْهِ. وَأَمَّا الشَّفَاعَةُ الثَّانِيَةُ؛ فَيَشْفَعُ فِي أَهْلِ الْجَنَّةِ أَن يَدْخُلُوا الْجَنَّة. وَهَاتَانَ الشَّفَاعَتَانِ خَاصَّتَانِ لَهُ. وَأَمَّا الشَّفَاعَةُ الثَّالِثَةُ؛ فَيَشْفَعُ فِيمَنِ اسْتَحَقَّ النَّارَ، وَهَذِهِ الشَّفَاعَةُ لَهُ وَلِسَائِرِ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَغَيْرِهِمْ، فَيَشْفَعُ فِيمَنِ اسْتَحَقَّ النَّارَ أَن لاَّ يَدْخُلَهَا، وَيَشْفَعُ فِيمَنْ دَخَلَهَا أَن يَخْرُجَ مِنْهَا. وَيُخْرِجُ اللهُ مِنَ النَّارِ أَقْوَامًا بِغِيرِ شَفَاعَةٍ؛ بَلْ بِفَضْلِهِ وَرَحْمَتِهِ، وَيَبْقَى فِي الْجَنَّةِ فَضْلٌ عَمَّنْ دَخَلَهَا مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا، فَيُنْشِئُ اللهُ لَهَا أَقْوَامًا فَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ.

وَأَصْنَافُ مَا تَضَمَّنَتْهُ الدَّارُ الآخِرَةُ مِنَ الْحِسَابِ وَالثَّوَابِ وَالْعِقَابِ وَالْجَنَّةِ وَالنَّارِ وَتَفَاصِيلُ ذَلِكَ مَذْكُورَةٌ فِي الْكُتُبِ الْمُنَزَّلَةِ مِنَ السَّمَاءِ، وَالآثَارِ مِنَ الْعِلْمِ الْمَأْثُورِ عَنِ الأَنْبِيَاءِ، وَفِي الْعِلْمِ الْمَوْرُوثِ عَنْ مُحَمَّدٍ ﷺ مِنْ ذَلِكَ مَا يَشْفِي وَيَكْفِي، فَمَنِ ابْتَغَاهُ وَجَدَهُ\

## ترجمه:.

د نبی علیه السلام به په قیامت کی دری شفاعتونه وی اول کی به د هغه خلکو باره کی سفارش وکړی چی موقف کی به ولاړ وی او د هغوی مابین کی به فیصله نه وی شوی ټولو انبیاو به د سفارش نه عذر پیش کړی وی لکه ادم نوح ابراهیم موسی عیسی ابن مریم تر دی چی نبی علیه السلام به سفارش وکړی

دویم سفارش به د جنتیانو باره کی کوی چی جنت ته داخل شی او دا دوه شفاعته نبی علیه السلام پوری خاص دی دریم شفاعت به د هغه چا باره کی کوی چی د اور د تلو فیصله پری شوی وی او دا شفاعت د هغه او د ټولو انبیاو او صدیقانو وغیره لپاره دی نو چا باندی چی د اور فیصله شوی وی هغی باره کی به سفارش وکړی چی اور ته داخل نشی او څوک چی داخل شوی وی هغی باره کی سفارش وکړی چی ترینه راوځی دغه شان الله تعالی به بعضی خلک د اور نه په خپل رحمت او فضل سره راوباسی چی د چا شفاعت به پکښ نه وی او په جنت کی به څه ځای باقی پاتی شی د هغه خلکو نه چی ورغلی دی نو الله تعالی به د جنت لپاره نور مخلوق پیدا کړی او دا کسر به پری پوره کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اخرت د ورځی حساب ثواب سزا جنت جهنم ددی ټولو تفصیل په منزل کتابونو کی موجود دی دغه رنګه د پیغمبرانو په احادیثو کی هم ددی ذکر شته خاص طور سره دنبی علیه السلام په کلام کی دومره څه دی چی کافی شافی دی ځوک چی یی ولټوی مونده به یی کړی**

# شرح:

د انبیاو او نیکانو خلکو لپاره د شفاعت ثبوت او دهغی دلایل

الله تعالی فرمایی : او هیڅوک به د الله په نزد شفاعت نشی کولی مګر د هغه د اجازت نه بعد

الله تعالی د فریشتو باره کی فرمایی : او په اسمانونو کی ډیر ملایک دی چی د هغی شفاعت به څه فایده نه ورکوی مګر ددی نه پس چی الله تعالی هغه چاته اجازت وکړی چی غواړی یی او پری راضی وی

{وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلاَّ مِن بَعْدِ أَن يَأْذَنَ اللَّهُ لِمَن يَشَاء وَيَرْضَى} (1) .

**د شفاعت د نفی لپاره چی خوارج او معتزله کول دلایل پیش کوی**

**د الله دا قول : دوی ته به د شفاعت کونکو شفاعت څه فایده ورنکړی**

**هغه نه به عدل قبول نشی نه به ورته سفارش فایده ورکړی**

**نشته زمونږ لپاره سفارشیان**

**نو ددی نه مراد د اله شرک باره کی سفارش دی دغه شان هغه سفارش چی مشرکان یی خپلو بوتانو له ثابتوی او نصاری یی عیسی علیه السلام له ثابتوی چی د الله د اجازت نه بغیر دی**

: {فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِينَ} (2) ، {وَلاَ يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلاَ تَنفَعُهَا شَفَاعَةٌ} (3) ، {فَمَا لَنَا مِن شَافِعِينَ} (4)

.. إلخ(1) النجم: (26) .

(2) المدثر: (48) .

(3) البقرة: (123) .

(4) الشعراء: (100) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**متن:** وَتُؤْمِنُ الْفِرْقَةُ النَّاجِيَةُ مِنْ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ. وَالإِيمَانُ بِالْقَدَرِ عَلَى دَرَجَتَينِ؛ كُلُّ دَرَجَةٍ تَتَضَمَّنُ شَيْئَيْنِ. فَالدَّرَجَةُ الأُولَى: الإِيمَانُ بِأَنَّ اللهَ تَعَالَى عَلِيمٌ بِالْخَلْقِ، وَهُمْ عَامِلُونَ بِعِلْمِهِ الْقَدِيمِ الَّذِي هُوَ مَوْصُوفٌ بِهِ أَزَلاً وَأَبَدًا، وَعَلِمَ جَمِيعَ أَحْوَالِهِم مِّنَ الطَّاعَاتِ وَالْمَعَاصِي وَالأَرْزَاقِ وَالآجَالِ، ثُمَّ كَتَبَ اللهُ فِي اللَّوْحِ الْمَحْفُوظِ مَقَادِيرَ الْخَلْقِ. فَأَوَّلُ مَا خَلَقَ اللهُ الْقَلَمَ قَالَ لَهُ: اكْتُبْ. قَالَ: مَا أَكْتُبُ؟ قَالَ: اكْتُبْ مَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. فَمَا أَصَابَ الإِنْسَانَ لَمْ يَكُن لِّيُخْطِئَهُ، وَمَا أَخْطَأَهُ لَمْ يَكُن لِّيُصِيبَهُ، جَفَّتِ الأَقْلاَمُ، وَطُوِيَتِ الصُّحُفُ؛ كَمَا قَالَ تَعَالَى: {أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاء وَالأَرْضِ إِنَّ ذَلِكَ فِي كِتَابٍ إِنَّ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ} ، وَقَالَ : {مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي الأَرْضِ وَلا فِي أَنفُسِكُمْ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا إِنَّ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ} وَهَذَا التَّقْدِيرُ التَّابِعُ لِعِلْمِهِ سُبْحَانَهُ يَكُونُ فِي مَوَاضِعَ جُمْلَةً وَتَفْصِيلاً: فَقَدْ كَتَبَ فِي اللَّوْحِ الْمَحْفُوظِ مَا شَاءَ. وَإِذَا خَلَقَ جَسَدَ الْجَنِينِ قَبْلَ نَفْخِ الرُّوحِ فِيهِ؛ بَعَثَ إِلَيْهِ مَلَكًا، فَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ، فَيُقَالُ لَهُ: اكْتُبْ: رِزْقَهُ، وَأَجَلَهُ، وَعَمَلَهُ، وَشَقِيٌّ أَمْ سَعِيدٌ.. وَنَحْوَ ذَلِكَ. فَهَذَا التَّقْدِيرُ قَدْ كَانَ يُنْكِرُهُ غُلاةُ الْقَدَرِيَّةِ قَدِيمًا، وَمُنْكِرُهُ الْيَوْمَ قَلِيلٌ.

وَأَمَّا الدَّرَجَةُ الثَّانِيَةُ؛ فَهِيَ مَشِيئَةُ اللهِ النَّافِذَةُ، وَقُدْرَتُهُ الشَّامِلَةُ، وَهُوَ: الإِيمَانُ بِأَنَّ مَا شَاءَ اللهُ كَانَ، وَمَا لَمْ يَشَأْ لَمْ يَكُنْ، وَأَنَّهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مِنْ حَرَكَةٍ وَلاَ سُكُونٍ؛ إِلاَّ بِمَشِيئَةِ اللهِ سُبْحَانَهُ، لاَ يَكُونُ فِي مُلْكِهِ مَا لاَ يُرِيدُ، وَأَنَّهُ سُبْحَانَهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ مِنَ الْمَوْجُودَاتِ وَالْمَعْدُومَاتِ، مَا مِنْ مَخْلُوقٍ فِي الأَرْضِ وَلاَ فِي السَّمَاءِ إِلاَّ اللهُ خَالِقُهُ سُبْحَانَهُ، لا خَالِقَ غَيْرُهُ، وَلاَ رَبَّ سِوَاهُ. وَمَعَ ذَلِكَ؛ فَقَدْ أَمَرَ الْعِبَادَ بِطَاعَتِهِ وَطَاعَةِ رُسُلِهِ، وَنَهَاهُمْ عَنْ مَعْصِيَتِهِ. وَهُوَ سُبْحَانَهُ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ وَالْمُحْسِنِينَ وَالْمُقْسِطِينَ، وَيَرْضَى عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ، وَلا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ، وَلاَ يَرْضَى عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ، وَلاَ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ، وَلاَ يَرْضَى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ، وَلاَ يُحِبُّ الْفَسَادَ.

وَالْعِبَادُ فَاعِلُونَ حَقِيقَةً، وَاللَّهُ خَلَقَ أَفْعَالَهُم. وَالْعَبْدُ هُوَ: الْمُؤْمِنُ، وَالْكَافِرُ، وَالْبَرُّ، وَالْفَاجِرُ، وَالْمُصَلِّي، وَالصَّائِمُ. وَلِلْعِبَادِ قُدْرَةٌ عَلَى أَعْمَالِهِمْ، وَلَهُمْ إِرَادَةٌ، وَاللهُ خَالِقُهُمْ وَقُدْرَتَهُمْ وَإِرَادَتَهُمْ؛ كَمَا قَالَ تَعَالَى: {لِمَن شَاء مِنكُمْ أَن يَسْتَقِيمَ – وَمَا تَشَاؤُونَ إِلاَّ أَن يَشَاء اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ} .

## ترجمه:

**فرقه ناجه په تقدير خير او شر باندی يقين او ايمان لری او په تقدير باندی د ايمان دوه درجی دی هره درجه په دوه شيانو مشتمله ده**

**اولنی درجه : پدی خبره يقين چی الله تعالی په خپل مخلوق باندی عالم دی هغوی ددوی په قديم علم باندی عمل کوی چی الله پری هميشه لپاره موصوف دی او الله تعالی ددوی ټول احوال پيژنی لکه طاعات گناهونه رزقونه اجلونه بيا الله تعالی په لوح محفوظ کی د مخلوقاتو تقدير ليکلی دی او د ټولو نه مخکی الله قلم پيدا کړی ورته ويلی يی وو وليکه هغی ويلی وو څه شی وليکم؟الله وفرمايل هغه ټول څه وليکه چی د قيامت پوری واقع کيدونکی دی نو کوم شی چی انسان ته رسيدونکی دی هغه ورته لازمی رسيږی او کوم شی چی ورته ندی رسيدونکی هغه ورته نه رسيږی ځکه قلمونه وچ شوی دی او صحايف راتاو کړی شوی دی لکه الله تعالی فرمايلی دی ايا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاته پته نشته چی الله تعالی په هغه څه عالم دی چی په اسمانونو او ځمکو کی دی دا ټول په کتاب کی دی او دا هر څه په الله باندی اسان دی او فرمایی کوم مصیبت چی په په ځمکه کی یا ستاسو په نفسونو باندی واقع کیږی دا په کتاب کی د مخکی نه لیکلی شوی دی دی نه مخکی چی مونږ یی راولو او دا هر څه په الله باندی اسان دی

او دا تقدیر چی د الله د علم تابع دی په مختلف ځایونو کی کی اجمالی او تفصیلی طور سره وی نو الله چی څه غوښتل هغه یی ابتدایی طور سره لوح محفوظ کی ولیکل بیا یی چی کله د مور په گیډه کی د انسان جسم جوړ که او روح یی پکښ نه وو اچولی نو الله ورته فریشته راولیږله او په څلورو کارونو یی ورته امر وکه د هغه رزق اجل او عمل ولیکه او دا هم ولیکه چی بختور دی که بدبخت وغیره

نو ددی تقدیر ځخه به غلاتو قدریه و انکار کوو لیکن نن سبا ددی منکرین کم دی

دویمه درجه د الله نافذ مشیت او اراده او شامل قدرت دی

او ددی نه مراد پدی خبره ایمان دی چی څه الله وغواړی هغه به کیږی او څه چی ونه غواړی نه به کیږی او په اسمانونو او ځمکو کی هیڅ حرکت او سکون نشته مگر د الله په ارادی سره دی او د هغه په بادشاهی کی هغه څه کیږی چی ویی غواړی

او الله تعالی په ټولو موجوداتو او معدوماتو باندی قادر دی په ځمکه او اسمان کی هیڅ مخلوق نشته مگر الله یی خالق دی د هغه نه علاوه بل څوک یی خالق ندی نه د هغی نه علاوه بل رب شته او ددی باوجود یی خپلو بنده گانو ته پخپل طاعت او د رسولانو په طاعت امر کړی دی او د خپلی نافرمانی نه یی منع کړی دی او هغه د متقیانو محسنانو او عادلانو سره مینه کوی او د هغه کسانو نه راضی دی چی نیک اعمال کوی د کافرانو سره محبت نکوی او نه د فاسقانو نه راضی دی نه په فاحشو کارونو باندی امر کوی او نه د بنده گانو لپاره کفر خوښوی نه فساد خوښوی

او بنده گانو په حقیقت کی کارونه کوی او الله ددوی افعال پیدا کړی دی او د بنده نه مراد مومن کافر نیک فاجر مونځ کونکی روژه دار دی او بنده گانو په خپلو اعمالو قدرت لری او ددوی اراده شته او الله دوی لره ددوی ارادی او قدرت لره پیدا کړی دی لکه الله تعالی فرمایی د هغه چا لپاره چی ستاسو ځخه استقامت غواړی او تاسو اراده نه کوی مگر چی الله تعالی اراده وکړی چی رب د مخلوقاتو دی او د تقدیر ددی درجی انکار عام قدریه کوی کومو ته چی نبی علیه السلام ددی امت مجوس ویلی دی پدوی کی بعضی مثبتین ډیره غلو کوی تر دی چی د بنده نه قدرت او اختیار سلب کوی او د الله د افعالو نه حکمتونه او مصلحتونه خارجوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## متن:

فَصْلٌ: وَمِنْ أُصُولِ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ أَنَّ الدِّينَ وَالإِيمَانَ قَوْلٌ وَعَمَلٌ، قَوْلٌ الْقَلْبِ وَاللِّسَانِ، وَعَمَلُ الْقَلْبِ وَاللِّسَانِ وَالْجَوَارِحِ. وَأَنَّ الإِيمَانَ يَزِيدُ بِالطَّاعَةِ، وَيَنْقُصُ بِالْمَعْصِيَةِ.

وَهُمْ مَعَ ذَلِكَ لا يُكَفِّرُونَ أَهْلَ الْقِبْلَةِ بِمُطْلَقِ الْمَعَاصِي وَالْكَبَائِرِ؛ كَمَا يَفْعَلُهُ الْخَوَارِجُ؛ بَلِ الأُخُوَّةُ الإِيمَانِيَّةُ ثَابِتَةٌ مَعَ الْمَعَاصِي؛ كَمَا قَالَ سُبْحَانَهُ: {فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ} ، وَقَالَ: {وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ فَإِن فَاءتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ – إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ} .

وَلاَ يَسْلُبُونَ الْفَاسِقَ الْمِلِّيَّ اسْمِ الإِيمَانِ بِالْكُلِّيَّةِ، وَلاَ يُخَلِّدُونَهُ فِي النَّارِ؛ كَمَا تَقُولُ الْمُعْتَزِلَةُ. بَلِ الْفَاسِقُ يَدْخُلُ فِي اسْمِ الإِيمَانِ؛ كَمَا فِي قَوْلِهِ: {فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ} ، وَقَدْ لاَ يَدْخُلُ فِي اسْمِ الإِيمَانِ الْمُطْلَقِ؛ كَمَا فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: {إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا} ، وَقَوْلُهُ ﷺ: ((لاَ يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلا يَسْرِقُ السَّارِقُ حِينَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يَشْرَبُ الْخَمْرَ حِينَ يَشْرَبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يَنْتَهِبُ نَهْبَةً ذَاتَ شَرَفٍ يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ فِيهَا أَبْصَارَهُمْ حِينَ يَنْتَهِبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ)) . وَيَقُولُونَ: هُوَ مُؤْمِنٌ نَاقِصُ الإِيمَانِ، أَوْ مُؤْمِنٌ بِإِيمَانِهِ فَاسِقٌ بِكَبِيرَتِهِ، فَلاَ يُعْطَى الاسْمَ الْمُطْلَقَ، وَلاَ يُسْلَبُ مُطْلَقَ الاسْمِ.

فَصْلٌ: وَمِنْ أُصُولِ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ سَلاَمَةُ قُلُوبِهِمْ وَأَلْسِنَتِهِمْ لأَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ ﷺ، كَمَا وَصَفَهُمُ اللهُ بِهِ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: {وَالَّذِينَ جَاؤُو مِن بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالإِيمَانِ وَلا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَاغِلاًّ لِّلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَؤُوفٌ رَّحِيمٌ} ، وَطَاعَةَ النَّبِيِّ ﷺ فِي قَوْلِهِ: ((لاَ تَسُبُّوا أَصْحَابِي فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهُ لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلا نَصِيفَهُ)) . وَيَقْبَلُونَ مَا جَاءَ بِهِ الْكِتَابُ وَالسَّنَّةُ وَالإِجْمَاعُ مِنْ فَضَائِلِهِمْ وَمَرَاتِبِهِمْ. وَيُفَضِّلُونَ مَنْ أَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ . وَهُوَ صُلْحُ الْحُدَيْبِيَةِ . وَقَاتَلَ عَلَى مَنْ أَنْفَقَ مِنْ بَعْدُ وَقَاتَلَ. وَيُقَدِّمُونَ الْمُهَاجِرِينَ عَلَى الأَنْصَارِ. وَيُؤْمِنُونَ بِأَنَّ اللهَ قَالَ لأَهْلِ بَدْرٍ . وَكَانُوا ثَلاثَ مِائَةٍ وَبِضْعَةَ عَشَرَ.: ((اعْمَلُوا مَا شِئْتُم. فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ)) . وَبِأَنَّهُ لاَ يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ بَايَعَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ؛ كَمَا أَخْبَرَ بِهِ النَّبِيُّ ﷺ، بَلْ لَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ، وَكَانُوا أَكْثَرَ مِنْ أَلْفٍ وَأَرْبَع مِائَة. وَيَشْهَدُونَ بِالْجَنَّةِ لِمَنْ شَهِدَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ، كَالْعَشَرَةِ، وَثَابِتِ بْنِ قِيْسِ بنِ شَمَّاسٍ، وَغَيْرِهِم مِّنَ الصَّحَابَةِ. وَيُقِرُّونَ بِمَا تَوَاتَرَ بِهِ النَّقْلُ عَنْ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَغَيْرِهِ مِنْ أَنَّ خَيْرَ هَذِهِ الأُمَّةِ بَعْدَ نَبِيِّهَا: أَبُو بَكْرٍ، ثُمَّ عُمَرُ. وَيُثَلِّثُونَ بِعُثْمَانَ، وَيُرَبِّعُونَ بِعَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ؛ كَمَا دَلَّتْ عَلَيْهِ الآثَارُ، وَكَمَا أَجْمَعَ الصَّحَابَةُ عَلَى تَقْدِيمِ عُثْمَانُ فِي الْبَيْعَةِ. مَعَ أَنَّ بَعْضَ أَهْلِ السُّنَّةِ كَانُوا قَدِ اخْتَلَفُوا فِي عُثْمَانَ وَعَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا . بَعْدَ اتِّفَاقِهِمْ عَلَى تَقْدِيمِ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ . أَيُّهُمَا أَفْضَلُ؟ فَقَدَّمَ قَوْمٌ عُثْمَانَ: وَسَكَتُوا، أَوْ رَبَّعُوا بِعَلِيٍّ، وَقَدَّم قَوْمٌ عَلِيًّا، وَقَوْمٌ تَوَقَّفُوا. لَكِنِ اسْتَقَرَّ أَمْرُ أَهْلِ السُّنَّةِ عَلَى تَقْدِيمِ عُثْمَانَ، ثُمَّ عَلِيٍّ. وَإِنْ كَانَتْ هَذه الْمَسْأَلَةُ . مَسْأَلَةُ عُثْمَانَ وَعَلِيٍّ . لَيْسَتْ مِنَ الأُصُولِ الَّتِي يُضَلَّلُ الْمُخَالِفُ فِيهَا عِنْدَ جُمْهُورِ أَهْلِ السُّنَّةِ. لَكِنِ الَّتِي يُضَلَّلُ فِيهَا: مَسْأَلَةُ الْخِلاَفَةِ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَذَلِكَ أَنَّهُمْ يُؤْمِنُونَ أَنَّ الْخَلِيفَةَ بَعْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ: أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، ثُمَّ عُثْمَانُ، ثُمَّ عَلِيٌّ. وَمَنْ طَعَنَ فِي خِلاَفَةِ أَحَدٍ مِنْ هَؤُلاءِ؛ فَهُوَ أَضَلُّ مِنْ حِمَارِ أَهْلِهِ. وَيُحِبُّونَ أَهْلَ بَيْتِ رَسُولِ اللهِ ﷺ، وَيَتَوَلَّوْنَهُمْ، وَيَحْفَظُونَ فِيهِمْ وَصِيَّةَ رَسُولِ اللهِ ﷺ: حَيْثُ قَالَ يَوْمَ غَدِيرِ خُمٍّ: ((أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي)) . وَقَالَ أَيْضًا لِلْعَبَّاسِ عَمِّهِ ـ وَقَدِ اشْتَكَى إِلَيْهِ أَنَّ بَعْضَ قُرَيْشٍ يَجْفُو بَنِي هَاشِمٍ ـ فَقَالَ: ((وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ؛ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحِبُّوكُمْ؛ للهِ وَلِقَرَابَتِي)) . وَقَالَ: ((إِنَّ اللهَ اصْطَفَى بَنِي إِسْمَاعِيلَ، وَاصْطَفَى مِنْ بَنِي إِسْمَاعِيلَ كِنَانَةَ، وَاصْطَفَى مِنْ كِنَانَةَ قُرَيْشًا، وَاصْطَفَى مِنْ قُرَيْشٍ بَنِي هَاشِمٍ، وَاصْطَفَانِي مِنْ بَنِي هَاشِمٍ)) .

وَيَتَوَلَّوْنَ أَزْوَاجَ رَسُولِ اللهِ ﷺ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ، وَيُؤْمِنُونَ بِأَنَّهُنَّ أَزْوَاجُهُ فِي الآخِرَةِ: خُصُوصًا خَدِيجَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أُمَّ أَكْثَرِ أَوْلاَدِهِ، وَأَوَّلَ مَنْ آمَنَ بِهِ وَعَاضَدَهُ عَلَى أَمْرِهِ، وَكَانَ لَهَا مِنْهُ الْمَنْزِلَةُ الْعَالِيَةُ. وَالصِّدِّيقَةَ بِنْتَ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، الَّتِي قَالَ فِيهَا النَّبِيُّ ﷺ: ((فَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ)) .

## ترجمه:

### فصل

### د اهل سنت والجماعت د عقایدو څخه دا هم ده چی ایمان قول او عمل دی دزړه او ژبی قول دی او د زړه او ژبی او اندامونو عمل دی او دا چی ایمان په طاعت سره زیاتیږی او په نافرمانی سره کمیږی

لیکن هغوی ددی باوجود مسلمانان په مجرد ګناهونو باندی نه کافر کوی لکه خوارج دا کار کوی بلکی ایمانی ورورولی به دګناهونو باوجود ثابته وی لکه الله تعالی فرمایی چاته چی د خپل ورور لخوا قصاص معاف شو نو په ښی طریقی سره دی تابعداری وکړی او دا قول د الله تعالی

که چیرته د مومنانو دوه جماعتونه د یو بل سره جنګ وکړی نو تاسو ددواړو مابین کی صلح وکړی بیا که یوه ډله په بله باندی زیاتی وکړی نو تاسو د هغی ډلی سره جنګ وکړی چی زیاتی کوی تر دی چی د الله د حکم تابعداری وکړی او کله چی تابعداری وکړی نو ددوی مابین کی په عدل سره صلح وکړی او انصاف وکړی ځکه الله تعالی انصاف کونکی خوښوی بیشکه ټول مومنان د یو بل ورونه دی نو د ورونو مابین کی صلح وکړی

او فاسق څخه د په کلی طور سر ایمان نه سلبوی نه یی همیشه لپاره جهنمی ګنړی لکه معتزله چی وایی بلکی فاسق هم د ایمان په مسمی کی داخل دی لکه د الله دا قول نو یو مومن غلام دی ازاد کړی او کله به په مطلق ایمان کی داخل هم نه وی لکه د الله دا قول بیشکه مومنان هغه خلک دی چی کله د الله ذکر وشی نو زړونه یی ویریږی او کله چی په هغوی باندی د الله ایاتونه لوستلی کیږی نو ایمان ورله زیاتوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د نبی علیه السلام دا قول یو زانی زنا نه کوی کله چی زنا کوی او هغه مومن وی او کله چی یو کس غلا کوی هغه غلا پداسی حال کی نه کوی چی هغه مومن وی او یو کس شراب پداسی حال کی نه څکښی چی هغه مومن وی او په زوره د یو مومن نه یو قیمتی شی نه تختوی پداسی حال کی چی خلک ورته ګوری او دا یی تختوی او هغه مومن وی او دوی وایی دا ددی کارونو باوجود مومن دی خو ایمان یی ناقص دی یا د ایمان په وجه مومن دی او د ګناه په وجه فاسق نو مطلق نوم ورته نه ورکړل کیږی نه ترینه سلب کولی شی

فصل : د اهل سنتو د اصولو څخه دا هم ده چی د هغوی زړونه او ژبی د الله د نبی د صحابه کرامو باره کی پاک دی لکه څنګه چی الله د هغوی صفت بیان کړی دی او هغه کسان چی ددوی نه پس راغلل وایی ای ربه زمونږ مونږ او زمونږ هغه ورونو ته بخشش وکړه چی زمونږ نه مخکی یی ایمان راوړی وو او زمونږ په زړونو کی د مومنانو لپاره کینه مه اچوه ای زمونږ ربه ته بخونکی مهربانه یی

او د نبی علیه السلام دا قول زما صحابه و ته کنځلی مه کوی په هغه ذات می دی قسم وی چی د هغه په لاس کی زما ځان دی که ستاسو یو کس د احد د غره په مقدار سره زر د الله په لاره کی ورکړه نو د هغوی د یو مد یا نیم مد زکات ته به ونه رسیږی او په کتاب او سنت کی چی د هغوی کوم فضایل او مراتب راغلی هغه قبلوی او هغه څوک غوره ګڼړی چی د فتح مکه نه مخکی یی د الله په لاره کی خرچ کړی دی یعنی د صلح حدیبیه نه مخکی او د الله په لاره کی یی جهاد کړی دی په هغه چا باندی چی د فتح مکه نه وروسته یی د الله په لار کی خرچ او جهاد کړی دی

او مهاجرین په انصارو باندی مقدم ګڼړی او پدی یقین لری چی الله تعالی اهل بدرو ته ویلو دی چی هغوی څه دپاسه دری سوه کسان وو څه چی مو زړه غواړی عمل وکړی ما تاسو ته بخشش کړی دی

او پدی چی جهنم ته به د هغه کسانو نه یو تن هم داخل نشی چی د ونی لاند ی یی د نبی علیه السلام سره بیعت کړی دی لکه ددی خبر نبی علیه السلام ورکړیدی بلکی الله د هغو نه راضی شوی او هغوی دالله نه راضی وو او پدغه وخت کی دوی ۱۴ سوه نه ډیر وی او دوی د هغه صحابه و باره کی د جنت ګواهی ورکوی چی نبی علیه السلام د هغوی باره کی د جنت ګواهی ورکړی ده لکه عشره مبشره او ثابت بن قیس بن شماس وغیره صحابه کرام او په هغه متواتر احادیثو باندی یقین لری چی د علی رضی الله عنه وغیره صحابه و نه نقل دی چی ددی امت غوره انسان د نبی علیه السلام نه پس ابو بکر دی بیا عمر بیا عثمان بیا علی لکه دی خبری باندی احادیث دلالت کوی او صحابه کرامو د عثمان په مقدم والی اجماع کړی وه سره ددی چی اهل سنتو د عثمان او علی رضی الله عنه باره کی اختلاف کړی وو او دا د هغوی په ابو بکر او عمر باندی د اتفاق نه پس چی کوم یو پدوی کی افضل دی نو بعضو عثمان مقدم ګڼړو بعضو سکوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اختیار کړی وو بعضو علی له په عثمان ترجیح ورکړی وه او بعضو نورو توقف اختیار کړی وو بیا وروسته پدی اجماع وشوه چی عثمان په علی رضی الله عنهما باندی مقدم دی اګر که دا مساله داسی نده چی د جمهورو علماو په نزد پدی کی مخالفت کونکی ته ګمراه وویلی شی البته اصل مساله د خلافت ده دی وجی نه دوی یقین او عقیده لری چی د نبی علیه السلام نه پس خلیفه ابو بکر وو بیا عمر بیا عثمان او بیا علی رضی الله عنهم اجمعین وو او چا چی ددوی په خلافت باندی تور ولګوو هغه د خپل کورنی خر نه بدتر دی او دوی د الله د رسول اهل بیتو سره محبت کوی هغوی خپل دوستان ګنړی او د هغوی باره کی د نبی علیه السلام د وصیت خیال ساتی چی هغه د غدیر خم په ورځ فرمایلی وو زه تاسو ته د خپل اهل بیت باره کی الله دریادوم او عباس ته یی فرمایلی وو کله چی هغه ورته شکایت کړی وو چی بعضی قریش د بنو هاشم سره بغض لری نو نبی علیه السلام فرمایلی وو قسم دی په هغه ذات چی زما ځان د هغه په لاس کی دی تر هغه پوری دوی نشی مومنان کیدای تر څو چی د الله او زما د قرابت په وجه تاسو سره محبت ونکړی**

**او نبی علیه السلام فرمایلی دی بیشکه الله تعالی بنی اسماعیل اختیار کړل بیا یی د بنی اسماعلی نه کنانه غوره کړل بیا یی د کنانه نه قریش غوره کړل بیا یی د قریشو نه بنی هاشم بیا یی د بنی هاشمو نه زه غوره کړم**

او دوی د نبی علیه السلام د ازواجو سره محبت لری چی د مومنانو میندی دی او پدی یقین لری چی په قیامت کی به دوی د نبی علیه السلام بیبیانی وی خاص طور سره خدیجه چی د هغه د **ډیرو اولادو مور وه او په هغه باندی یی اول کی ایمان راوړی وو او مدد یی ورسره کړی وو او د نبی علیه السلام په نزد د هغی اوچته مرتبه وه او بیا عایشه رضی الله عنها چی د هغی باره کی نبی علیه السلام فرمایلی دی د عایشی فضیلت په ټولو زنانه و باندی داسی دی لکه ماته ډوډی چی به عام طعام باندی فضیلت لری**

## متن:

او دوی د روفضو مسلک نه اختیاروی کوم چی د صحابه و سره بغض لری او ګنځلی ورته کوی دغه شان دوی د نواصبو د طریقی نه هم برات کوی کوم چی اهل بیت ته په قول یا عمل سره تکلیف ورکوی او د صحابه و په مابین کی د واقع شوی اختلافاتو څخه سکوت کوی او وایی چی د دی باره کی وارد اثار خو یا دروغ دی بعضو کی زیاتی کمی شوی او کوم چی صحیح دی نو د هغی بعضو کی صحابه معذور وو یا مجتهدین وو چی حق ته رسیدلی وو یا مجتهدین وو چی خطا شوی وو لیکن ددی باوجود دوی دا عقیده نلری چی صحابه هر یو د کبایرو او صغایرو نه معصوم دی

بلکی په اجمالی طور سره د هغوی نه ګناه صادریدل ممکن دی لیکن د هغوی دومره سابقه اعمال او فضایل دی چی هغی سره دغه ګناهونه معاف شوی دی که چیرته ترینه صادر شوی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دی چی د هغوی هغه گناهونه الله معاف کړی دی چی د هغوی نه بعد د بل چا ندی معاف شوی ځکه د هغوی نیکی دومره دی چی گناهونه ختموی چی دا د نورو خلکو نشته او نبی علیه السلام ددوی باره کی خبر ورکړی چی ددوی زمانه د ټولو زمانو نه غوره ده او ددوی د یو تن مد چی صدقه یی کړی د بل چا د احد د غر په مقدار د سرو زرو د خرچ کولو نه بهتر دی بیا که چیرته د هغوی د یو تن نه څه گناه صادره شوی وی نو توبه به یی کړی وی یا به یی د هغی نه پس نیکی کړی وی چی دغه گناه به د هغی په وجه ختمه شوی وی یا به ورته الله د سابقه اعمالو په وجه یا د نبی علیه السلام د شفاعت په وجه معافی کړی وی ځکه د ټولو خلکو نه دوی د نبی علیه السلام د شفاعت نه ډیر حقدار دی یا به پری دنیا کی څه مصیبت راغلی وی د هغی په وجه به ورته الله معافی کړی وی

نو کله چی دا اصول د حقیقی گناهونو باره کی دی نو د هغه امورو به څه حال وی چی هغوی په هغی کی مجتهدین وو که حق ته رسیدلی وی نو ددوی لپاره دوه اجره دی او که خطا شوی وی نو یو اجر او غلطی الله معاف کوی د کوم کارونو په وجه چی په هغوی باندی اعتراض کیږی د هغوی د فضایلو او محاسنو په نسبت ډیر کم دی لکه په الله او رسول باندی ایمان د الله په لاره کی جهاد هجرت نصرت علم نافع عمل صالح او چا چی ددوی په سیرت کی فکر وکړ نو پته به ورته ولگی چی الله دوی ته څومره فضایل ورکړی وو او دا چی هغوی د پیغمبرانو نه پس غوره مخلوق وو نه ددوی نه مخکی ددوی پشان څوک وو او نه به راشی او هغوی پدی امت کی غوره خلک دی چی دا امت هم په ټولو امتونو کی غوره دی او الله ته عزتمند دی

د اهل سنت والجماعت د عقایدو څخه دا هم ده چی د اولیاو په کراماتو تصدیق وشی کوم چی الله د هغوی په لاسونو جاری کوی چی هغه د عادت خلاف کارونه دی مختلف علوم کشف او تاثیرات وغیره دی لکه هغه کرامات چی په سورت کهف کی د مخکنی امتونو نه نقل دی او یا ددی امت د صحابه تابعینو یا ددی امت د نورو زمانو د خلکو نه او دا کرامات تر قیامته پدی امت کی موجود دی

فصل: بیا د اهل سنت والجماعت طرقه د نبی علیه السلام د ټولو اثارو په باطن او ظاهر کی تابعداری ده او د سابقین اولینو تابعداری چی هغوی مهاجرین او انصار دی دغه شان د نبی علیه السلام ددی وصیت تابعداری چی فرمایلی یی دی تاسو زما سنت او د خلفای راشیدینو سنت کلک راونیسی هغی باندی غاښونه ولگوی او د نوی کارونو نه ځان وساتی ځکه هر بدعت گمراهی ده او دا یقین لری چی د ټولو نه ریښتینی کلام د الله کلام دی او د ټولو نه ښه لاره د نبی علیه السلام لاره ده او د الله کلام د ټولو خلکو په کلام باندی مقدم گڼړی

او د نبی علیه السلام طریقه د هر چا په طریقی باندی مقدمه گڼړی دی وجی نه دوی ته اهل الکتاب والسنه او اهل الجماعه وایی ځکه الجماعه د اجتماع نه اخذ شوی ده او ددی ضد فرقه واریت دی اگر که دا لفظ جماعه بعینه ددی خلکو نوم گرځیدلی دی او اجماع ددوی دریم اصل دی چی په علم او دین کی پری اعتماد کولی شی هغوی پدی اصولو باندی هغه ټول ظاهری او باطنی اقوال تلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی ددین سره یی تعلق دی او کومه او کومه اجماع چی معتمده ده هغه د سلف صالحینو اجماع ده ځکه د هغوی نه پس اختلاف ډیر شوی دی او امت منتشر شوی دی

فصل: بیا ددی عقایدو سره سره هغوی په نیکی باندی حکم کوی او د بدی نه خلک منع کوی دا ټول د شریعت مطابق د حج جهاد جمعو او اخترونو قایمول د حکمرانانو سره جایز ګڼړی برابره ده که نیکان وی یا فاسقان او د جماعت اهتمام کوی امت ته نصیحت کوی او د الله پدی قول یقین لری یو مومن به بل مومن لپاره د قلیی شوی دیوال پشان وی چی یو بل لره قوی کوی

بیا نبی علیه السلام خپلی ګوتی په یو بل کی داخل کړی او پدی قول د نبی علیه السلام چی په محبت رحم شفقت کی د مومنانو مثال د یو جسد دی کله چی په هغی کی یو اندام شکایت وکړی نو ټول بدن ورته په تبه او شوګیر سره شکایت وکړی

د مصیبت په وخت کی د صبر تلقین ورکوی او د خوشحالی او پراخی په وخت کی د شکر ښایسته اخلاقو او نیکو اعمالو ته دعوت ورکوی او د نبی علیه السلام پدی قول باندی عمل کوی په مومنانو کی کامل انسان هغه دی چی اخلاق یی کامل وی او دی ته دعوت ورکوی چی چا درسره ورانه کړی هغی سره وپاله او چا چی درنه څه شی منع کړی هغی له ورکړه چا چی دباندی ظلم کړی معاف یی کړه د مور او پلار سره په نیکی کولو باندی حکم کوی دغه شان په صله رحمی ښه ګاونډی توب یتیمانانو مسکینانو او مسافرو سره په احسان په غلام باندی نرمی د فخر او تکبر ظلم په حق یا ناحقه سره په مخلوق ظلم ددی نه منع کوی او په اوچتو اخلاقو امر کوی د بدو نه منع کوی

او دوی په ټولو افعالو او اعمالو کی د کتاب او سنت تابعداری کوی ددوی لار دین اسلام دی په کوم باندی چی الله محمد ﷺ رالیږلی دی لیکن کله چی نبی علیه السلام ددی خبر ورکړی چی دا امت به په ۷۳ ډلو تقسیم شی ټولی به په اور کی وی مګر یوه ډله او هغه الجماعت دی او بل حدیث کی دی چی ددی نه مراد هغه خلک دی چی په هغه دین روان وی په کوم چی نن ورځ زه او زما صحابه دی

نو ددی نه پس په خالص اسلام باندی تمسک کونکی خلک اهل سنت والجماعت وګرځیدل

چی پدوی کی صدیقین شهدا او صالحین دی ددوی څخه بعضی د هدایت علامی دی د تورتم ډیوی دی او د اوچتو مرتبو او فضایلو خاوندان دی پدوی کی ابدال دی پدوی کی د دین امامان دی چی د هغوی په هدایت او فقاهت باندی امت اجماع کړی ده او همدا خلک طایفه منصوره ده چی نبی علیه السلام ددوی باره کی فرمایلی دی

همیشه به زما د امت یو جماعت په حق باندی قایم وی مخالفین به ورته ضرر نشی ورکولی تر دی چی قیامت به قایم شی د الله نه دعا ده چی پدی جماعت کی مو شامل کړی او د هدایت نه پس زمونږ زړونه کاږه نکړی او د خپل طرفه په مونږ رحمت نازل کیږ بیشکه هغه ورکونکی ذات دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَصَلَّى اللهُ عَلَى مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَصَحْبِهِ وَسَلَّمَ تَسْلِيمًا كَثِيرًا..

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**